# واده

# او

# کورنۍ

GLOBAL UNIVERSITY

# واده او کورنۍ

لومړی چاپ ۲۰۰٤

© 2004 All Rights Reserved

Pashto “ Marriage and Home” 2004

*Global University*
*P. O Box 5749*
*Nicosia, Cyprus*

# واده او کورنۍ

لیکونکی

رکس جاکسون

*Global university*
*P.o Box 5749*
*Nicosia C*
*Cyprus*

# د مضامینو فهرست


| عنوان | | | د پاڼې نمبر |
|---|---|---|---|
| سریزه | | | ۱ |
| لومړی لوست | : | واده یا نکاح څه شی دی | ۵ |
| دوهم لوست | : | واده څخه وړاندې | ۱۹ |
| دریم لوست | : | د ژوند د ملګری ټاکنه | 39 |
| څلورم لوست | : | کوژده او واده | 63 |
| پنځم لوست | : | د کورنۍ تشکیل او جوړښت | 75 |
| شپږم لوست | : | د کورنۍ پراختیا | 89 |
| اوم لوست | : | د خاوند دندې او مسئولیتونه | 101 |
| اتم لوست | : | د ښځې دندې او مسئولیتونه | 117 |
| نهم لوست | : | د مور او پلار دندې او مسئولیتونه | 131 |
| لسم لوست | : | د اولادونو دندې او مسئولیتونه | 149 |

یوولسم لوست : د کورنۍ حفاظت او ساتنه 167
دولسم لوست : ستاسو ابدي کور 181

# سر یزه

## دلوستونکو سره یو څو خبری

انتظار کوئ چه ددی کتاب په لوستلو سره به څه شئ ستاسو په برخه شي؟ فکر کوئ چه دا کتاب به ستاسوڅه په درد وخوري؟ ډیرو خلکو د دی کتاب څخه واده ته دتیارئ دپاره ګټه پورته کړي او استفاده ترې کوي.

ځواني جوړې دیوې کامیابي کورنۍ د جوړښت لپاره، یو څه بنسټیز اصول او ضوابط د دي کتابه څخه لاس ته راوړي. چه دهغي ارزښت د ډیرو تجربوي مرحلو، اوږدو کلونو اودګډ ژوندون په تیریدو سره ثابت شوي دي.

مور، پلار او زامن ددې کتاب په مطالعې سره دکورنۍ دښو اړیکو په لومړنۍ اصولو اشنا کیږي یو دبل دارزښت دلټون پسي هڅه کوي .

د کورنیو چارو مشاورین هم کولائ شي چه په دي کتاب کي د نورو د لارښوني د پاره عملي او ارزښتناکه نصیحتونه پیدا کړي.

دا کتاب دهر چا دپاره دهغه د خوښې وړ یو مطلب او موضوع لري، له همدي کبله ددي کتاب په غور لوستلو سره به هغه برخي پیدا کړۍ چه ستاسو شخصي اړتیاوي ورسره سمون خوري .

ډیر په هوسایني سره وایو چه یوائې په صحیح لار دود پوهیدل به هیڅ مرسته ونکړي تر څو هغه عملاً په کار وانچوی او تري ګټه لاس ته رانه وړی. د دي درسونو څخه ستاسو داستفادي اندازه پدي

پوري تړاو لري چه تر کومه اندازه زده کړای شوي موضوعات، په خپل ژوند کښې عملي کوی او تري گټه لاس ته راوړئ.

## د کتاب دمطالعې په هکله لارښودنه

دهردرس په شروع کي به د هغي برخي د موضوعاتو سر ټکي او سرليکونه وگوری. دغه سرټکي په ډير غور سره ولولی ځو فکر مو د لوست دپاره تيار شي. بيا وروسته ځيرل شوو لارښوونو ته توجه وکړی. دغه کتاب ديو ښه ښوونکي په ځير، د موضوع دشرحي او بيان څخه وروسته، يو څه سوالونه د«هغه څه چه بايد تاسويي سر ته ورسوی»تر عنوان لاندي هم طرحه کوي. د يو ښه شاگرد په توګه لومړی دهر درس پوري اړوند پوښتنی ځواب کړی، او بيا وروسته بل لوست دمطالعي لاندي ونيسی. که چيري دخپل ځواب په درست والي باور نلرئ،ددوهم ځل دپاره درس ته مراجعه وکړی او موضوعات يي ولولی.

کولی شی چه ددي کتاب څخه د تمرين دکتابچي په ځير په ګټې اخيستلو سره هم خپل ځوابونه په هغي کي وليکی،او که چيري په خيال کښې لری چه دوهم ځل دپاره د دي کتاب څخه استفاده وکړی،نوښه داده چه خپل ځوابونه په يوې جلا کتابچې کي دياداشت په توګه وليکی.

دهر لوست په آخر کي خپل ځوابونه د هغو ځوابونو سره مقا يسه کړئ چه د«خپل ځوابونه ورسره مقايسه کړی»تر سرليک لاندي راغلې ده. د صحيح ځواب سره به خپل ځان ته په امتياز ورکولو خوشحاله شی،ځو ددې کتاب په لوستلو کښې خپل د پرمختګ کچه معلومه کړی. دسوالونو دځوابونو دليکلو څخه مخکي د هغي

ځوابونو ته نظر مه کوئ .تاسو دخپلو ځوابونو په رالیږلو کوم مجبوریت نه لرئ.

کله به له تاسو څخه وغوښتل شي چه یوه برخه په یاد زده کړئ، یا یوه موضوع په خپل چاپیر یال او محیطي شرایطو کي وکاروئ. دغه تمرینونه ټول ستاسي د مرستي او پوهي لپاره په نظر کښي نیول شوې دي. له همدې کبله دهغي د ټولو ټکو او اړخونو په سر ته رسولو کي ډیر زیار وباسئ .

## آخرینۍ آ زموینه

د دي کتاب سره به یو ځاي یوه کتابچه د((آخرینئ آزمویني دپوښتنو کتابچه)) په نوم تر لاسه کړئ. دغه کتابچه په دوه برخو ویشل شوي ده. د لارښوونو کتاب به په هر ځاي او هري موضوع په اړوند تا سو ته وایي چه کله او څه رنګه هري برخي ته ځواب ورکړئ.

خپلو ځوابونو د کتابچي درالیږلو لپاره د( آی . سی . آی ) دفتر نه په ورکړل شوو لارښونو باندي عمل وکړئ.

## لومړۍ لوست

# واده یانکاح څه شئ دئ؟

### هغه څه چه په دي لوست کښې به يي ولولی.

- واده یا نکاح یو الهي پیوند او جوړښت دی

  د خداي له لوري د یو برکت په توګه سړي ته مقرر شوی دی.

  یوه مقرره شوي طرحه او پلان دی چه باید دهغي پیروي وشي.

  دروحاني حقیقتونو د زده کولو لپاره مقرر شوی دی

- واده یا نکاح یوه انساني اړیکه ده

  دټول عمر لپاره د یو بل سره ارتباط او اړیکي.

  مینه او ملګرتیا.

  دمور او پلار اړیکي د اولادونو سره.

- واده یا نکاح یو سپیڅلی پیوند دی

  یو سړی(خاوند)-یوه ښځه.

  د دي پیوند په اړوند د خدای قوانین.

- واده او دهغي اهمیت د دنیا لپاره.

# واده یا نکاح یو الهي پیوند او جوړښت دی

## دخداي له لوري د یو برکت په توګه سړي ته مقررشوي دی

واده یا نکاح هغه یوائینی الهي پیوند او جوړښت دی چه دنیا ته د ګنا د راتلو دمخه یي د بنسټ ډبره ایښودل شوي وه. دخداي په کلام کي په دي اړه داسي لولو: ((څښتن خداي ووئیل: دا ښه نه ده چه آدم دې یواځي وي ، باید دهغي لپاره یو مناسب ملګرئ جوړ کړم.او څښتن خداي یو ژور خوب په آدم غالبه کړ. کله چه هغه ویده شو د هغه د پوښتیو څخه یي یوه پوښتئ واخستله او د هغه ځاي یي پر غوښي ډک کړ. او خداي د هغي پوښتي څخه چه دآدم څخه یي اخیسي وه ښځه جو ړه کړه او هغه یي آدم ته راوستله. نو آدم وویل: هغه دی یو هډوکی زما د هډوکو څخه او یو ځه غوښه زما د غوښي څخه. ددي کبله سړی به مور او پلار پریږدي،او خپلي ښځي سره به یو ځاي شي او یو بدن به وي.)) ( پیدایښت ۲ :۱۸، ۲۱ _۲٤ )

## ستاسو کار

## هغه څه چه تا سو یي باید سر ته ورسوئ :

دلاندي سوالونو ځوابونه په پنسل یا خود کا ر قلم سره په خپلو کتابچو کي د یاداشت په توګه ولیکی. که چیري مو دا خیال وي چه د دي کتاب څخه د دوهم ځل لپاره استفاده وشي، کولی شې چه خپل ځوابونه په یوه بله کتابچه یا د کاغذ په پاڼه د یاداشت په ډول ولیکئ. د سوالونو د ځواب د لیکلو نه وروسته هغه د هغه صحیح جوا بونو سره مقایسه کړی چه دهر درس په آخره کي بیان شوي دي .

۱ـ یوا ځینی هغه الهي پیوند او جوړښت چه دنیا ته دګناه د راتلو نه مخکي یي بنسټ ایښودل شوی ؤ کوم دئ ؟

۲ـلومړنی ښځه څه رنګه پیدا شوه ؟

۳ـد واده په لومړنیو مراسمو کي چا ښځه او نر یو بل ته ورکړل ؟

٤ـد پیدایښت د کتاب ۲ : ۲۳ ـ۲٤ په مقدس کتاب کي ولولی او زده یي کړئ .

## یوه مقرره شوي طرحه او پلان دئ چه باید د هغي پیروی وشي

ومو لیدل چه مخکي له دي نه چه ګناه دنیا ته راشي، خدای حوا د آدم لپاره جوړه کړه څو دهغه دژوند شریکواله او ملګري شي. نو لدي کبله پدي پوهیږو چه خدای په خپله د ښځي او میړه توب پیوند د نر او ښځي د خپلي کاملي نقشي د یوي برخي په صفت دهغوی لپاره مقرر کړ. څښتن خدای ښځي او میړه توب، د عدن د باغ په بې عیبه شرایطو کې خوندي کړ. نو په همدي اساس کولای شو چه هغه د یوي الهي نموني او طرحي په صفت د ټولو خلکو لپاره په ټولو وختونو کي او په ټولو مرحلو کي په نظر کي وساتو.

خدای دخلکو په ودونو او نکاحګانو خوشحالیږی مګر د هغي لپاره یي څه قوانین هم په نظر کښې نیولي دي .هغه انتظار لري چه زامن یي ددغو قوانینو پیروي وکړي،او هغه طرحه چه خدای دواده لپاره وضع کړي ده باید په پام کي ولري

په خواشینۍ سره، ګناه د عدن باغ ته ورغله. د همغه وخت نه را په دي خوا ګناه، ډیر برکتونه چه د انسان لپاره چمتو شوي وو ضایع او له منځه یوړل .ګناه دملیونونو خلکو د ماتي سبب شوې دی. که چیري غواړی چه ستاسو واده او نکاح هماغه اوچت او خوندور پیوند وي چه خداي درته په پام کي نیولی دی، نو دهغه نمونې چه د هغه په کلام کي بیان شوي دي، هغه عملي کړی.

له بده مرغه نن ورځ کور او واده خپل معني او مفهوم له لاسه ورکړې او د موقتی شیانو تر څنګ یې ځاي نیولی دی. یو شمیر خلک بغیر له دي نه چه سره یې واده کړای وي ،یو ځاي ژوند تیروې او شپي سبا کوي. او په دا رنګه حالتونو کې چه هر وخت د واده یو لوری وغواړي په ډیره اسانی سره کولای شي چه د واده اړیکې ختمې کړي. دنړی په ډیرو سیموکي د نکاحونو ۲پر ۳ برخې په طلاق پای ته رسیږې. او دا کار په تمامه معنی دهغي نموني او طرحي په خلاف دی چه خداي، په مقدس کتاب کي بیان کړې ده. خداي غواړي چه ستاسو واده او نکاح دي په داسي یوي رابطي ولاړ وي چه هغه پري وکولاي شي خپله مینه او محبت تاسو ته ښکاره کړي او دا یواځي هغه وخت عملي کیداي شي چه تاسو د هغه د لارښونو غوښتونکي شی او وغواړی چه د هغه د طرحو او نمونو پیروي وکړی.

مقدس کتاب د واده او کورني ژوندون په باره کي ډیر زیات تعلیمات لري. له تاسو ګرانو لوستونکو څخه به ځینې لا تر اوسه واده نه وي کړی. نو اجازه ورکړي چه خدای تاسو دهغو نقشو او پلا نونو لور ته هدایت کړي چه د واده او نکاح لپاره یي طرحه کړی دي. دا کتاب د هغو کسانو لپاره چه واده یې شوی وي هم کولاي شي چه

مرستندوی وي، څو هغوی وکولای شي خپل دغه پیوند خوشحاله او غښتلې کړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئي باید سر ته ورسوئ

۵) کوم شی د میلیونونو ودونو د ماتي سبب گرځي ؟

٦) د واده بهترینه او خوشحاله نمونه په کوم ځای کي کولی شی چه پیدا کړئ ؟

### واده د روحانی حقیقتونو د زده کولو لپا ره مقرره شوې ده

هغه نکاح یا واده چه خدای ئي زمونږ لپاره په پام کي لري، یو واقعي تصویر دی د میني، احترام، یووالي او دهغي دوستئ او ملگرتیا څخه چه د عیسي مسیح او د هغه د کلیسا تر مینځ موجود دی. دزړي لوظنامي په کتاب کی خدای خپل ځان په خپله د خپل قوم د خاوند په صفت ورپیژني. په نوی لوظنامه کي هم کلیسا د عیسي مسیح د ناوې په نوم نومول شوې ده. ( اِفِسیان**۵:۳۱_۳۲**) وایي (( هم دغه وجه ده چه سړی به د پلار او مور نه بیل شي او د خپلي ښځی سره به و اوسیږي او دغه دواړه به یو بدن شي. دا یو لوی راز دی خو زه یي د عیسی او کلیسا په حقله وایم. په هر حال په تاسو کي دي هم هر یو د خپلي ښځي سره د خپل ځان په شان مینه کوی او ښځه د هم د دې خیال ساتي چه د خاوند عزت کوي .))

### ستاسو کار

### هغه څه چه باید تاسو ئې سرته ورسوئ

**۷** )که چیري مقدس کتاب لرۍ نودافِسیانو په نوم لیک **۵:۳۱_۳۳** پکښي ولولۍ. د دي آیتونو په رڼا کې، یو کور باید د کومو ځانګړو صفتونو درلودونکۍ وي؟

**۸**) دعا وکړۍ چه ستاسو واده دي د خدای د میني یو اوچت تصویر شي.

## نکاح یا واده یوه انساني رابطه ده

### دټول عمر لپاره یو د بل سره ارتباط او اړیکي

واده د ښځي او د نر تر منځ، یو قانوني اخلاقي او ټول عمري اړیکې دي. اوهغوۍ د نورو سره د نږدي اړیکو او خصوصي رابطو د لرلو څخه منعه کوي. په همدي توګه کولای شۍ چه یوه کورنۍ جوړه کړۍ، او د هغي څارنه او ساتنه وکړۍ. ښځه او میړه چه د واده په سبب سره یو ځای شوي وي یو بدن شمیرل کیږي .

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئي باید سر ته ورسوئ

**۹**) واده څه شۍ دۍ؟

**۱۰**) ښځه او میړه په څه سره حسابیږي؟

## مینه او ملګر تیا

خداي وويل: « دسړي له پاره مناسب نه دی، چه يواځي دې پاتې شي » نو بيا هغه د نر څخه يو هډوکۍ واخيسته او دهغې څخه يې ښځه جوړه کړه څو د هغه ملګرې شي.

«متيو هنری» چه د مقدس کتاب د غښتلو مفسرينو څخه دی، ليکی چه خدای دغه هډوکی د آدم د پښتې څخه وانخسته ،څو هغه وشي کړای چه خپله ښځه سپکه او حقيره وګڼې، او همدا رنګه يې دغه هډوکی د آدم د سره څخه وانخسته څو ښځه په هغه حکومت وکړې. خدای يوه پوښتۍ د آدم د زړه د چا پريال څخه واخسته چه نر بايد دخپلې ښځې سره مينه ولري، او د هغې په حفاظت کولو سره هغه په خپل څنګ کې وساتي .

د واده خوشحالي د ښځې او خاوند تر منځ په محبت او ميني پوری اړه لرې. حوا د آدم يوه برخه وه. ښځه او خاوند هم يو د بل د بدن يوه برخه ګرځې. د هغوی دواړو ژوند ، په يوه ژوندون کښې پيوند يږي او د هغوي څخه يو هم په يواځې والی کې کامل نه وې. دافسيانو په نوم ليک (۵: ۲۸) وائي: «دغه شان خاوندانو ته لاژم دي چه دخپلو ښځو سره د خپل بدن په شان مينه کوی ،څوک چه دخپلي ښځې سره مينه کوي هغه د خپل ځان سره مينه کوي. »

## ستاسو کار

### هغه څه چه بايد تا سو ئې سر ته ورسوئ

**۱۱**)د واده خوشحالی په څه شي پوري اړه لرې؟

## د مور او پلار اړیکې د خپلو اولادونو سره

واده دښځې او خاوند لپاره په طبعي ډول د اولادونو سره اړيکي او د هغوي د روزني او تربيي مسئوليت دځا نه سره راولي. د دوی پیوند د دې سبب ګرځي چه یوه کورنۍ منځ ته راشي، چه په هغي کښي کوچنیان په زیږیدلو سره وکولای شي دپلار او مور د میني څخه خوند واخلي .

د آدم او حوا سره د خدای خبرې د دي ښکارندوی دي چه پلار جوړیدل او مور جوړیدنه هم دخدای د طرحې او نقشي څخه یوه برخه ده. د پیدایښت په کتاب(۱: ۲۸ )کي خدای وائي: (( خدای هغوی دواړو ته برکت ورکړ او په هغوي يي خپل فضل نازل کړ ، او خدای هغوی ته وویل :" تکثر وکړی او زیات شی او د مځکې مخ ډک کړی او په هغې واکمني او حکومت وکړی او هر څه دي ستاسو تابع و اوسي.")

همدا رنګه د مرقس انجیل (۱۳:۱۰_۱۶)هم د ماشومانو سره د عیسي مسیح د سلوک په اړوند خبري کوې .

## ستاسو کار

## هغه څه چه باید تاسو ئې سرته ورسوئ

۱۲ ) ایا اولاد لرل هغه میړه او ښځې لپاره چه سره واده يي کړی وې ګناه شمیرل کیږې او یا دا چه دا د الهي طرحي او نقشي یوه برخه ده ؟

۱۳)د یوي کورنۍ بچي باید په خپل کور کښي کوم شی ومومي ؟

# واده یا نکاح یو سپیڅلئ پیوند دئ

## یو سړئ (خاوند) ـ یوه ښځه

د آدم او حوا څخه غیرهیڅ یو انسان د مځکې پر مخ وجود نه درلود. ښايي فکر وکړو چه خداي ته پکار وو چه بې شمیره او د یوي څخه زیاتی ښځي یي آدم ته ور کړې وای، څو انساني نسل په ډیرې چټکی، سره زیاتوالی، موندلی، وای. خو حکیم خداي چه په هر څه پوهیږي یوازې یوه ښځه یي آدم ته ورکړه. آدم د دې څخه زیات ضرورت نه درلود. دا دنکاح او واده د پاره د خدای کامله نقشه او پوره طرحه وه. په دغه عالی نکاح او واده کي چه د خدای له لوري مقرره شوي وه، یواځې دیوه سړي لپاره یوه ښځه پیدا شوې او تعین شوې وه. متي (۱۹: ۵ـ٦ ) وایي: (( همدا سبب دی، چه سړی، به خپل مور او پلار پریږدې او خپلي ښځي سره به یو ځای کیږې او هغه دواړه یو بدن ګرځي. او دوی، دوه نه دي بلکه یو وجود دی، ځکه چه خدای دوی، یو ځای کړی دی نو بني آدم دي کله هم نه جدا کوي.))

عیسي مسیح وفرمایل: (( دا دواړه نور دوه وجوده نه دي بلکه یو بدن دی، )) د رسمونو او رواجونو د پاملرنی نه غیر، دا د مقدس کتاب تعلیم دی، رسمونه او رواجونه سړي ته اجازه ورکوي چه د یوي څخه دي زیاتې ښځې ولري . په ځیني هیوادونو کي دا هم رواج دی، چه یوه ښځه کولی، شي د یوه څخه زیاتو سړیو سره واده وکړي . په یوی بلی برخې کښې داسي رواج هم شته چه د یوې کورنی، ټول نارینه اولادونه د یوي ښځې سره په ډله یزه توګه واده کوي.

همدا رنګه د بعضی قومونو تر منځ رواج دی چه نارینه په خپلې ښځي سوداګري او معامله کوي. یوه بله ډله ، یو څه وخت وروسته یو ځل د خپلي ښځي څخه جدا کیږی او بلي سره واده کوي ځکه همدایي رواج دی. ځیني نور بغیر له دي نه چه یو بل سره واده وکړي، یو ځای شپی او ورځې تیروي او په شریکه ژوند کوې. له دي کبله لکه څنګه چه وینی رسمونه او رواجونه نشي کولی چه یوه عملی لار دود د صحیح واده په باره کي بیان او ښکاره کړي .همدا دلیل دی چه باید تاسو د خدای کلام سره سم عمل وکړی او د واده په باره کي الهې نقشه عملی کړی چه یوه برخه یي دا ده: یو سړی باید صرف یوه ښځه ولري او یو بل ته وفا داره واوسي.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئي باید سر ته و رسوئ

١٤)د مقدس کتاب د لار ښوني سره سم یو سړی څو ښځي درلودی شي ؟

## د دې پیوند په اړوند د خدای قوانین

عیسی داسې تعلیم ورکړ،چه هیڅ شی باید هغه پیوند او یووالی چه د یو سړي او د یوې ښځي تر منځ وجود لري په یو مخ له منځه یو نسي . کله چه خدای موسی ته لس حکمونه ورکړل نو هغه ګناهونه چه د ښځي او خاوند د دې پیوند د له منځه وړلو سبب کیده ، هغه یي هم محکوم کړل او جرم یي وګڼل. د خروج کتاب (٢٠ :١٤ او١٧ ) وایي: (( زنا مه کوی .....دخپل ګاوندی ښځې ته ....طمعه مه کوی.))

هر یو د ښځې او میړه څخه چه د بل چا سره جنسي اړیکي قایمي کړي په زنا اخته کیدو سره ئي دخدای قانون مات کړی دی. او دا هم یو غیر اخلاقي کار دی . حتی د بل کس ښځې یا میړه ته په بدو سترګو کتل هم ګناه شمیرل کیږي. دمتی په انجیل **۵** : **۲۷** کي خدای په دې هکله اخطار او خبرداری ورکوي . او د عبرانیانو په نوم لیک **۱۳** :**٤** وایي: (( واده دې په تاسو ټولو کي دعزت خبره وګڼلی شي ،ښځه او خاوند دې د یو بل سره وفا دار پاتې شي ، ځکه چه خدای په خپله د حرامکارو او زنا کارو عدالت کوي.))نو ټول باید واده د قدر وړ وګڼې ،او دښځیتوب او میړه توب پیوند ، د ککړ تیا نه لیرې وساتی ځکه چه زنا کونکی ، که ښځه وي او که نر ، واده کړی وې که بی واده ، خدای به یي په خپله دخپلو دغو بدو اعمالو په سزا ورسوي .

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ**

**۱۵** ) دعبرانیا نو په نوم لیک(**۱۳**: **٤** ) ایت له یاده زده کړی

## واده او دهغې اهمیت د دنیا لپاره

تاسو به د دي لوست په ختمیدو سره دي ته متوجه کیږی چه واده د خدای د طر حی څخه یوه برخه ده چه د بشریت له پاره یي وضعه کړی ده . په هغه صورت کښې چه د خدای د تعلیماتو او نمونو پیروي وکړو ، نو نیکمرغه کورنی او کورنی ژوند به ولرو .

زمونږ تجربې دکور د ننه ددې سبب ګرځي چه روحاني حقیقتونه ډیر زیا ت درک کړو، او پرې پوه شو.

د خدای غرض دا دی چه ښځه ،میړه، مور اوپلار او اولادونه هر یو د خپل اړتیا سره سم محبت ، ملګرتیا او پاملرنه په خپلې کورنۍ کښې پیدا کړي.

خدای کورنۍ د یو بنسټیز بنیاد او دټولنې د مرکزي بنسټ په صفت منځ ته راوړې ده، د ژوندقوانین او اخلاقی معیا رونه ئي د ښځه او نر لپاره وضعه کړي دي. که د کورنۍ وګړې وکړای شې په سوله اوخوشحالۍ کي یو بل سره ژوند وکړي نو دنورو خلکو سره به په روغه جوړه کې څه ستونزه ونلري. ښې کورنۍ ښې ټولنې تشکیلوي .او ښه ټولنه د یو ښه ملت منځ ته راوړلو سبب ګرځې. او ښه ملتونه یوه ښه نړۍ منځ ته راوړي .

څومره اهمیت لري چه هره کورنۍ ،د خدای د ټاکلي حدودو په قبلولو سره د خپلې نیکمرغۍ لپاره د هغې پیروې وکړي. همدا رنګه د هغو سببونو سره مخالفت، چه دکورنۍ دخرابوالې سبب ګرځي دیر ارزښت لرې. څومره مهمه ده چه تا سو د خدای غوښتنې د خپل کور او کورنۍ په باره کښې زده کړۍ په داسي حال کي چه د کتاب مختلف فصلونه مطالعه کوی او د هغې د لارښوونو سره سم ژوندون تیروی، نو خدای به تاسو ته برکت درکړي او په تاسو به خپل فضل وکړي .

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئي بايد سر ته ورسوئ**

**١٤** ) خپل کور او د هغې د هر غړي لپاره دعا وکړی. د خدای څخه وغواړی چه ستاسو کورنی دي یو ښه مثالی نمونه په خپل ګاونډ کي وي. دهغه څخه دا هم وغواړی چه ددې کتاب د لارښونو په سر ته رسولو کښې هم تاسو سره مرسته وکړي.

**١٧**) دټولو هغه زده کونکو په باره کی چه په ټوله نړی کښې په مختلفو ژبو ددې درسونو څخه استفاده کوي فکر وکړی ، هغو ته دعا وکړی چه خدای هغوی ته په برکت ورکولو سره د هغوی سره مرسته وکړي، او د هغوی کورنی دخدای د خوشحالی سبب شي .

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړئ

**١**) واده یا نکاح

**٢**)د آدم د پوښتی څخه

**٣**) خدای

**٥**)ګناه

**٦**) په مقدس کتاب کښې

**٧**) سوله، درک ،په یو بل ځان پوهه ول، مشوره او خوشحالي.

۹) واده يو قانوني، اخلاقي او د ټول عمر لپاره ديوې ښځې او يو سړي تر منځ پيوند دی، چه د نورو خلکو سره د نږدې اړيکو له ټينګولو سره تضاد لري.

۱۰) يو بدن

۱۱) مينه او ملګرتيا چه د ښځې او خاوند تر منځ وجود لري .

۱۲)دهغوی دپاره د خدای د طرحی او پلان يوه برخه ده.

۱۳) مينه او پالنه د مور او پلار له خوا.

۱٤)يوه ښځه.

# دوهم لوست

# واده څخه ورانډی

## هغه څه چه په دې لوست کښې به يي ولولئ

- خداي تاسو واده ته تيا روي
- خدای تاسو نه دا امید لري چه خپل ځانونه پاک وساتی.

  ځو خدای په تاسو کی ژوند وکړي.

  ستاسو د کورنی په خاطر.

  ستاسو دخپلې سالامتیا او روغتیا په خاطر.
- تاسو کولای شی چه دالهي معیارونو او لارښونو پیروي وکړی.

  خپلو جذبو او احساساتو د کنترول په وسیله .

  دخپلو خیالونو او فکرونو د کنترول په وسیله .

  په وسوسو د بریالیتوب او غلبي په وسیله .

  د حقیقي میني په وسیله .

  دخداي د دمرستی په وسیله .

## خدای تاسو واده لپاره تیاروي

خدای د بشري نسل د پیدا ښت په وخت، ښځه او سړی د خپلې کاملې نقشې ،طرحې او پلان سره سم پیدا کړل. هغه یو ترتیب او لار دود د کورني ژوندون له پاره وضع کړ. هغه انساني بدن په داسې نمونې سره جوړ کړ چه د ښځې او نر د یوځایوالې څخه اولادونه منځ ته راشي.

همدا رنګه خدای دانسان وجود په داسې ډول جوړ کړ چه د کوچنیوالي د مرحلې څخه په تیریدو سره وده وکړي، تر هغې پورې چه د یو رسیدلی او بالغ سړي د مسئولتونو په قبلولو قادر شي.

په داسي حال کښې چه نجونې او هلکان د کوچنیوالې څخه په تیریدو سره ځوانی ته رسي، دهغوی په بدن کي ډیر تغیرات او بدلونونه ښکاره کیږي. ددې جسمي بدلونونو سره، دزړه پیوندونه (مینې او عاشقی ته لیوال تیا)احساسات، جذبې او خواهشات په نوي بڼه هم ښکاره کیږي. هلکان په خپل وار سره د نجونو سره مینه پیدا کوي ،او نجوې هم په خپل وار سره د هلکانو لور ته جذبیږي او هغوی ته میلان او بلاخره مینه ورسره پیدا کوي.

په دې توګه احساساتو کښې هیڅ مشکل نشته او ډیر عادی دي بلکه دالهي نقشې او طرحې یوه برخه ده څو ځوانان د واده لپاره تیار کړي .

په هر حال ډیره مهمه ده چه ځوانان په دې باندې پوه شي چه خدای د دوی د نکاح او واده څخه مخکې اړیکو لپاره یو څه

معیارونه او قوانین وضع کړي دي، داسې قوانین چه په عملی کولو به یي د نیکمرغۍ څخه ډکه کورنۍ منځ ته راشي.

د پیدایښت کتاب(۱: ۲۷) وايي: (( نوبیا خدای .....هغوی نارینه او ښځه پیدا کړل.))

**ستاسو کار**

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱) آیا دا یوه غلطي ده چه یو هلک دې په یوې نجلۍ باندې مین شي؟...... ولی؟

۲)چا په مونږ کښې د نسل دزیاتوالي قوت منح ته راوړ؟

۳ )څوک دا اجازه لري چه ددې اړتیا د کار اخیستلو څرنګوالی مونږ ته زده کړي؟

# خدای تاسو نه دا امید لري چه خپل ځانونه پاک او سپیڅلی وساتئ

## څو خدای په تاسو کښې ژوند وکړي

خدای غواړي هغه بدن ته چه تاسو ته یي درکړی دی، په ارزښت قایلیدو سره داسې رفتار وکړی چه د مالک خدای د جلال او لویي سبب شي .تاسو بایدپه درې دلائلو سره خپل بدن هم د جسمي پلوه اوهم د اخلاقي پلوه پاک او سپیڅلی وساتی.

ـ څو خدای په تاسو کښې ژوند وکړي،

-دخپل ځان د روغتیا او سلامتیا په خاطر.

-دخپلې کورنۍ په خاطر.

دتیموتیوس په نوم د پولس لومړۍ لیک(**۵** : **۲۲**) وایي (( خپل ځان پاک ساته ))

مقدس کتاب ځوانانو ته خبر دارۍ ورکوي چه بدکاره ښځو پسي ونه ګرځۍ او هغوۍ د هر قسم جنسی اړیکو څخه چه دواده د دایرې څخه بهر وي منع کوي ،همدا رنګه د همجنس سره جنسي اړیکی ساتل او داسی نور جنسی بې لاریتوبونه، ناوړه شمیري .

د کورنتیانو په نوم لومړۍ لیک (**٦**: **۱۵** –**۱۷** او**۱۹** _**۲۰**) وایي: (( ایا تاسي خبر نه یي څه؟چه ستاسو بدنونه د مسیح د بدن اندامونه دي ؟ ایا دا مناسب ده چه زه د مسیح اندامونه دیوې کنجرې ( بدکارې ښځې) سره ګډ کړم ؟ نه ! هیڅکله نه. آیا تاسو نه یئ خبر چه هر هغه څوک چه کنجرې ته لاړ شي نو هغه به دهغې سره یو وجود شي ؟ ځکه چه خدای په صحیفو کښې وایي چه " نر او ښځه به دواړه یو وجود شي " او څوک چه د مالک خدای سره یووالی لري هغه او مالک خدای به یو روح شي . ایا تاسو نه یئ خبر چه ستاسو بدن د روح القدس کور دی چه په تاسو کي اوسې او تاسو ته د خدای له طرفه درکړ شوی دی ؟ او تاسو دخپل ځان نه یئ، ځکه چه خدای تاسو په بیعه اخیستي یئ ، نو بیا دخپل بدن نه د خدای جلال ښکاره کړی. ))

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ**

٤) هغه درې دلا یل نوم بیان کړی کوم چه خدای دهغې په سبب تاسو څخه امید لري چه خپل ځانونه پاک وساتی ؟

٥) دتیموتوس په نوم لیک ٥: ٢٢ په یاد زده کړی .

٦) د کورنتیانو په نوم لومړی لیک ٦ :١٥ د ایماندار وجود د څه شي یوه برخه بولي ؟

## ستاسودخپلې کورنی په خاطر

خپل ځان د هغه کَس دپاره چه په راتلونکی کښې به ستا سو د ژوند ملګری وي پاک وساتی. خپل ځان هغه ساري او پیدایشي خطر ناکو بیماریو مخې ته مه وړاندی کوی کومې چه د جنسی اړیکو له لارې یو بل ته لیږدول کیږي. دغه خطرناکې لیږدونکي یا ساري بیماری کولای شي ستاسو روغتیا ،ستاسو دژوند ملګرې روغتیا او حتی ستاسو د اولادونو سلامتیا ته هم نقصان ورسوي. دهغه اولادونو په خاطر چه تر اوسه نه دي زیږیدلي،خپل ځان د ککړ تیا او ناوړتیا څخه پاک وساتی او هغوی وژغوری .زیات وخت دغه ساري او وراثتي ناوړه مرضونه چه په مور او پلا ر کښې وي، ددي سبب ګرځي چه اولادونه ړانده او معذوره او په ډول ډول ناروغیو اخته کړي . نو ډیر محتاط اوسی.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۷) هغه اولا دونه چه د واده د دایرې نه بهر دنیا ته راځي دکومو شیانو څخه بې برخی دي ،کوم چه په یوې مسیحی کورنۍ کې باید موجود وي ؟

۸) څرنګه دمور او پلار غیر اخلاقي کړنلاره د بچو د پاره د بدو عواقبو او ناوړه آغیزو سبب ګرځي؟

## ستاسو دخپلې سالامتیا او روغتیا په خاطر

فکر مه کوۍ چه د جنسي اړیکو نشتوالۍ به واده څخه مخکی تاسو ته کوم ضرر ورسوي. د حقیقي روغتیا او سلامتۍ څخه برخمند کیدلو لپاره د خدای د ټاکلي حدودو مراعاتول د خپلو خواهشاتو د تابعدارۍ او نفسیاتي هوسونو پسی د ګرځیدلو څخه ډیر غوره او مهم دي. نو باید دغه قوانین عملي شي. په مقدس کتاب کښې د سلیمان د مثالونو کتاب په دې برخه کښې ډیر لوړ او عالی مثا لونه او نصیحتونه لري.

د امثال کتاب (۷ : ۱ _۲۷) وایي : (( زما حکمونه او اوامر پر ځای کړه او په پام کښې یي لره چه ژوندۍ پاتي شې ...... څو تا د بیګانه او پردۍ ښځې څخه وساتي.....دځوانانو په منځ کښې یو کم عقله ځوان مې ولیده ..... چه د هغو پردیو بدکاره ښځو دکور په لور روان وو، اود هغوۍ په کوڅې کښې تیریده څو خپل کور ته لاړ شې. نو یوې بدکاره ښځې ورته لاسونه په غاړې کي واچول او هغه یي را ونیوه او بیا یي ښکل کړ .... او هغه ته یي وویل : راځه چه تر سهاره پورې په مینه ځانونه ماړه کړو .....هغه یي د خپلو شونډو په نر مو خبرو او غوړه مالۍ وغولاوه او هغه ځوان دهغې پسې لکه دیوې غوا په څیر چه قصاب خانې ته یي بیایي، روان شو. ستا زړه دې

دغه لارو ته میلان ونه کړي. او په غولونکو الفاظو یې بې لارې نشې . هغوی د ډیرو کسانو کورونه رنګ کړي دي او ډیر نارینه د هغوی د هوسونو قرباني شوي دي د هغوی کور د مرګ او بربادی طرف ته د تګ لاره ده .))

دکورنتیانو په نوم لومړی لیک (٦ : ١٨) وایي: (( دحرامکارۍ نه وتښتی ! سړی چه څومره نور ګناهونه کوي هغه د بدن نه بهر دي، خو حرامکار دخپل بدن هم ګناهکار دی ))

نو د شهوت رانۍ نه لیرې ګرځی ځکه د انسان تولې ګناوې دهغه دتن څخه بهر دې خو هر څوک چه په جنسي ګناهونو لاس پورې کوي ،هغه خپل بدن هم په ګناه کې ښکیلوي .

حتی که څوک په جنسي ناروغیو اخته هم نشی، بیا هم واده څخه وړاندې د ناروا جنسي اړیکو ټینګول کولای شي چه له نورو لارو څخه د هغه روغتیا اوسلامتیا ته زیان و رسوي. دښځی لپاره همیشه د ناخاپي امیدوارۍ یا حاملګۍ خطر موجود وي. او د دواړو لپاره دا خطر موجود دی چه د ګناه د قوي احساس او ویرې له کبله، خپلو اعصابو او ذهني سلامتیا او روغتیا ته نقصان و رسوي. دغه ویره ممکن ده چه د امیدواره کیدو په سبب یا د موضوع د ښکاره کیدو او په خلکو کښې د خبر دخپریدو په سبب ، یا ددې اړیکو د نورو تتا یجو په سبب او یا د خدای او د ټولنې د قوانینو د ماتولو په وجه د سزا ورکولو له امله وي. او خامخا د خدای د احکامو په نا فرما نۍ باندی د توبي د نه کولو په ترڅ کی او د خداي حکمونو ته د بیرته نه راګرځیدو له امله ممکن د

ناروغیو او روحاني مرګ سره مخ شو. نو بیا د خپلې بدني او روحي سلامتیا په خاطر ځان پاک او سپیڅلی وساتی.

**ستاسو کار**

**هغه څه چه باید تاسو ئې سرته ورسوئ**

**۹**) د کورنتیانو په نوم اول لیک**٦ : ۱۸** له یاده زده کړی

**۱۰**) د واده څخه وړاندې جنسی اړیکو د بیماریو څخه علاوه نور کوم عوامل دي چه ستاسو روغتیا ته نقصان رسوي؟

## تاسو کولی شی چه د الهي معیارونو اولار ښونو پیروي وکړی

**د خپلو جذبواواحساساتو دکنترول په وسیله**

دځان کنترولولو زده کړه د هوښیارۍ او لوی والي یوه مهمه برخه ده. یو ماشوم ته دهغه د غوښتونو د نه رسیدلو په صورت کي ممکن دی چه لاس او پښې ووهي اووژاړي . خو تاسو زده کړې ده چه باید دا کړنلاره خپله نه کړی . کامیاب واده د ځان کنترولولو سبب ګرځي. نو له همدې کبله اوس خدای تاسو ته وخت درکوي څو دغه د ځان کنترول نور هم مضبوط کړی.

د تیموتوس په نوم لومړی لیک **۳ : ۲** وایي: (( نو څکه دې زمونږ دجماعت مشر، دالزام نه پاک ، دیوې ښځې خاوند ، بیدار ، شریف، سم میلمه دوست او د تعلیم ورکولو لایق وي.))

شیطان په ځانګړې توګه ځوانانو ته د جنسي اړیکو او مسایلو له لارې وسوسې اچوي. هغوی په خپل ځان کښې د ډیرې قوي جنسي غریزې احساس کوي. دغه رنګ احساسات دبدن د ودې او بلوغ ته د رسیدو په دوره کښې کاملاً طبعي وي مګر باید کنترول اوتر څارنې لاندې ونیول شي.هیڅکله ونه وایئ چه د خپلو خواهشاتو د کنترول طاقت نه لرو. خدای په تاسو کښې یو داسې شعوري روح ځای په ځای کړی دی چه تاسو د حیواناتو څخه جلا کوي ،نو لاژمه نه ده چه تاسې دخپلو جذبو، احساساتو او نفسیاتي غوښتنو په دریاب کې لاهو او ډوب شئ او دهغې غلامان جوړ شئ. مالک خدای تاسو ته د داسې ډالیو یا نعمتونو په ورکولو سره د ځان ساتنې او کنترول لاره آسانه کړې ده چه په لاندې ډول پیانیږي.

پوهه او درک یې دهغه کار د معلومولو لپاره درکړی چه باید سر ته یې ورسوئ.

ستاسو د لارښونې لپاره یې خپل کلام رالیږلی دی.

هغه ضمیر یې درکړی دی چه خدای دهغې په وسیله تاسو سره خبرې کوي.

دانتخاب اویا د قدرت اراده یې د هغه کار د پاره درکړی دی چه د سر ته رسولو تکل یې لرئ.

او ټولو نه مهمه دا ده چه که چیرې دخدای څخه وغواړئ چه تاسو سره مدد وکړي نو هغه به ستاسو دنفسیاتي خواهشاتو په کنترولولو کی به تاسو سره مرسته اوملګرتیا وکړي.

دوهم تیمو تیوس ۲ : ۲۲ وایي : (( دځوانۍ د خواهشاتو نه تیښته کوه. ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۱) دڅلورو هغه وسیلو نومونه واخلۍ کوم چه خدای تاسو ته ډالۍ کړي دي. چه دهغې په واسطه وکولای شۍ خپل نفسیاتي خواهشات کنترول کړۍ.

## دخپلو خیالونو او فکرونو دکنترول په وسیله

دغلطو کارونو سر ته رسولو ته لیوالتیا زمونږ دافکارو او خیالونو په وسیله زمونږ بدن ته لیږدول کیږي. هر څومره زیات چه دیوې وسوسې په باره کي فکر کوۍ نو د هغې سر ته رسولو ته به مو شوق او لیوالتیا زیاتیږي، نو له همدې کبله بایدخپل خیالونه او فکرونه تر څارنې لاندې ونیسۍاو کنترول یې کړۍ .

یعقوب په خپل لیک ۱ : ۱٤ ـ۱٥ کښې وایي ((په حقیقت کښې هر سړۍ هغه وخت ازمویلۍ شي کله چه د هغه خپل بدخواهش په دوکه ورکولو هغه ونخلوي ، نو بیا د هغه بد خواهش امیدوار شي او ګناه ترینه پیدا شي او چه ګناه زیاته شي نو مرګ پیدا کوي ))

ستاسو ډیر فکرونه دهغو موضوعاتو نتجې دي کومې چه ستاسو غوږونه د هغې په باره کي خبرې اوري . نو په همدې اساس

ناوړه کیسو  او افسانو ته غوږ مه نیسئ او په هغه غونډو او مباحثو کښې ګډون مه کوئ چه تاسو د غیر اخلاقي ژوندون لور ته رهبري کوي .دافِسیانو په نوم لیک (۵ :۳) وایي: (( او څنګه چه پاکانو ته په کارَ دي ،په تاسو کښې دې د حرامکارئ یا د هیڅ قسمه نا پا کئ ، یا لالچ ذکر قدری هم نه وي .))

انسان دخپلو سترګو له لارې هم آزمایلئ شي او وسوسه ور اچول کیږي . شیطان آدم او حوا ته وسوسه واچوله چه هغه میوه وخوري د کومې څخه چه منعه شوئ وو . شیطان هغه میوه حوا ته ورکړه څو هغې ته په لیدو سره فکر وکړي چه څه ښایسته او ښه خوند به لري . اوبلاخره دهغې میوې څخه په خوړلو سره ئي د هغې یوه برخه آدم ته هم ورکړه ، اوبیا هغوئ دخدای د نافرمانئ په وجه دخپلو اعمالو په سزا ورسیدل .

شیطان اوس هم د شهواني منظرو په منځ ته راوړلو سره انسان ته وسوسي اچوي او هغه په امتحان کښې ښکیلوي .هغه د ناوړه عکسونو، پلیتو فلمونو،لوڅو او بربنډه کتابونو، نڅاګانو او دکالیو د غیر اخلاقي فیشننونواو ماډلونو په وسیله خپل کار عملي کوي ، هغه ته اجازه مه ورکوئ چه تاسو وغولوي او ستاسو پام دهغه منعه کړاي شوې میوې لور ته راوګرځوي .

خپل خیالونه او افکرونه کنترول کړئ او مه یي پریږدئ چه هغه غلطې لارې ته لاړ شي. که چیري متوجه شوئ چه ناوړه فکرونه لرئ نو هغه سمدستي د خپل ذهن څخه بهر کړئ او بیا دوباره دهغې موضوع په باره کښې فکر مه کوئ، اوداسې یو کار شروع کړئ چه خپل ځان سره ستاسو فکر مشغول وساتي او نیک هم وي .

دفلیپیانو په نوم لیک (٤: ٨) وایي ((نو اوس ای ورونو، ثومره خبري چه ریښتیا دي او ثومره خبرې چه د شرافت دي، ثومره خبري چه واجبي دي او ثومره خبرې چه پاکې دي، اوثومره خبرې چه مینه ناکې دي، غرض دا چه کومې د نیکۍ او ستاینې خبرې دي په هغو غور کوۍ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه باید تاسو ئې سرته ورسوئ

**١٢**) ولې د خیالونو اوافکارو اداره کول او کنترول تر دې حده د اهمیت وړ دي ؟

**١٣**) د نمونې په ډول د یو څو هغو وسایلو نومونه بیان کړۍ کوم چه شیطان د انسان د شهوت په را پارولو کښې کار وي او د ګناه لورې ته په وسوسو کښې ترینه استفاده کوي ؟

## په وسوسو دبریالیتوب په وسیله

په وسوسو د بریالیتوب لپاره باید دوه کارونه سر ته ورسوۍ. تر خپلي وسې پورې هڅه وکړۍ چه دهغه څخه ځانونه لیرې وساتۍ او د خدای لاره تعقیبه کړۍ. او دوهم دا چه د هغې سره د مخامخ کیدو په صورت کښې هغې ته مه تسلیمیږۍ.

هغه غونډو او ځایونو ته چه تاسو ته وسوسې در اچوي مه ځۍ. همدا دلیل دۍ چه ایمانداران هم کوښښ کوي چه د نڅاګانو د محفلونو او هغه میلمستیاو څخه چه شراب څښل او نوره پلیتي او زنا کاري پکښې رواج وي، ځانونه لیرې وساتي.

د ښځې او سړي تر منځ ډېر د حده څخه زيات مينه او محبت هم وسوسې منځ ته راوړی شي. نو له همدې کبله کوښښ وکړی چه د ښې علاقې او صميميت په وخت کښې ډير په نزاکت له خلکو سره رفتار وکړی، او د هغوی له خوا هم د ورته سلوک تمه ولری.

ځينې ښځې د سړو د وسوسې سبب ګرځي. مقدس کتاب د يوسف په داستان کې،چه يو خدای پرست انسان وو ، بيانوي چه هغه د وسوسې څخه په تېښتيدلو سره، يوه ډيره ښه نمونه د خپل ځان څخه عملاً دنيا ته پرځای پريښوده. هغه د يوه مصري صاحب منصب ( قوطيفار) په کور کښې غلامي کوله ،او د مصري صاحب منصب ښځې غوښتل چه يوسف دې د هغې معشوق شي او هغې سره دې جنسی اړيکې ټينګې کړي. مګر يوسف ددې کار څخه انکار وکړ . يوه ورځ هغه او يوسف دواړه په کور کې يواځې وو، هغې ښځې ډير کوښښ وکړ چه يوسف تير باسي او بې لارې يې کړي . خو يوسف ورته په ځواب کې وويل: (( څرنګه کولای شم چه ددې لوئ شرارت او غير اخلاقي دندې په سر ته رسولو سره د خپل بادار په حق کښې جفا وکړم او په ګناه ځان ککړ کړم. ))کله چه د حاکم ښځې ډير زور پرې راوړلو خو په هغه څه يې مجبور کړي چه هغې غوښتل خو يوسف دکوره څخه باندې وتښتيد او په همدې توګه يې د وسوسې څخه ځان وژغوره .

د حاکم ښځه تر دې اندازې پورې په قهر او په غصه شوه چه په يوسف يې د دروغو تور ولګوو او دا ددې سبب شو چه يوسف په زندان کښې پريوځي، خو خدای د يوسف ساتنه کوله او هغه يې وژغوره او زندان څخه يې آزاد کړ او د مصر وزير اعظم يې جوړ کړ خدای هغه کسانو ته برکت ورکوي او مرسته ورسره کوي څوک چه

دهغه د معیارونو، قوانینو او لارښوونو پیروي کوي. دپطرس لومړی لیک (٤: ٤_٥) وایي: «اوس هغوی په دې حیران دي چه تاسو په سخته بدچلنی کښې د هغوی ملګرتیا نه کوی، او تاسو بد رد وایئ. خو هغوی به ددې حساب خدای ته ورکړي چه دژوندو او دمړو عدالت کولو ته تیار دی.» او دا ورځ راتلونکې ده او مونږ پرې باور لرو.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئي باید سرته ورسوئ

۱٤) چا د یوې ښځې څخه دتیښتې په وسیله چه هغه یې وسوسه کاوه، یو ښه نمونه پر ځای پریښوده؟

۱٥) دپطروس لومړی لیک ٤: ٤_٥ یوځل بیا ولولی. ایا ستاسو د بې ایمانه دوستانو په منځ کښې داسې خلک شته چه دا فکر وکړې چه تاسو یوه عجیبه تګ لاره لری، ځکه چه د هغوی په ټولو کارونو کښې دهغوی سره ګډون نه کوی؟

۱٦) که چیرې د وسوسو څخه ځان ساتل غواړی، نو باید د خپل مخالف جنس سره څه رقم سلوک وکړی؟

## د حقیقی مینې په وسیله

په حقیقي مینې کې قدر او عزت شامل دی. له همدې کبله که چیرې یو سړی په حقیقي توګه په یوې ښځې مین وي، نو دهغه ښه نوم او ښه والی او نیکمرغي به د خپلو هیلو څخه زیات په نظر کښې ساتي او دیره پاملرنه به ورته کوي. حقیقي مینه به هیڅکله دې ته حاضر نشي چه دیوې نجلۍ عزت تر پښو لاندې کړي،

اومخکښې له واده څخه يې د احتمالي حمل او اميدوارۍ په خطر کښې راګير کړي. حقيقي مينې سره ځان ساتنه او سپېڅلتيا ضروري او لازمي ده .

دخپل شخصي اداروي کنترول په طاقت د حده څخه زياته تکيه مه کوۍ . د وسوسې څخه ډډه کول او ځان ساتل ډيره عاقلانه لاره ده .په همدې اساس هغه نازونه او صميمانه محبت چه دښځې او خاوند په منځ کښې ځای لري بايد د واده څخه وروسته دورې ته يې وسپاري .

ځينې سړي ، انجونې مجبوروي چه دهغوۍ سره د خپلې مينې د ثابتولو د پاره هغوۍ ته د هر کار اجازه ورکړي کوم چه د سړي د خواهش سره سم وي . بايد وپوهيږۍ چه دا کار او داسې آرزوګانې د حقيقي مينې نښې نه دي ،او يواځې او يواځې د نفسياتي خواهشاتو څخه سر چينه اخلي .

ستاسو حقيقي مينه د خپل راتلونکی د ژوند ملګری سره به ددې سبب شي چه دهغو وسوسو څخه ځانونه وژغورۍ کومې چه تاسو د نورو سړيو او يا نورو ښځو لور ته راکاږي. په هغه صورت کښې چه تاسو او ستاسو د ژوند راتلونکې ملګرې خپل ځانونه د يو بل لپاره پاک او سپيڅلي وساتۍ، کولای شۍ چه ډيره نيکمرغه ژوند لاس ته راوړۍ او دټول عمر دپاره په هوسائۍ کې پاتې شۍ . له همدې کبله يو نيکمرغه واده ته د رسيدو لپاره پلان او نقشه درلودل کولای شي چه تاسو سره مرسته وکړي څو دغير اخلاقي عملونو څخه ځان ليرې وساتۍ .

د تسالونیکیانو په نوم لومړی لیک (٤: ٣ ـ ٥) وایي (( نو د خدای دا مرضي ده چه تاسو پاک شی یعنې د حرامکاری او زنا نه ځان وساتی او په تاسو کښې دې هر یو خپل وجود په پاکوالي او عزت سره په قابو کښې ساتل زده کړی نه د شهوت د جوشه د هغو قومونو په شان چه خدای نه پیژني. ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه باید تاسو ئې سرته ورسوئ

**١٧**) حقیقي مینه په کومو شیا نو کښې شاملیږي ؟

**١٨**) دتسالونیکیانو په نوم لومړي لیک (**٣:٤ـ٥**) څو ځله تکراري ولولی او په دې ایتونو کښې د کوم ډول ګناه په باره کښې خبرې او بحث کیږي؟

## دخدای د مرستې په وسیله

د دې لپاره چه په هر قسم حالاتو کښې وکولای شی پر وسوسو بریالي شی د مالک خدای د مرستې او طاقت ته ضرورت لری . تاسو باید دخپلو اعمالو او افکارو په اداره کولو اوکنترول کي د مالک خدای څخه کومک تر لاسه کړی. که چیرې د مالک خدای مرسته او ملګرتیا نه وي، هغه ګناه چه ستاسو په زړه کښې ده ، سمدستي و یا څه وخت وروسته ستاسو د افکارو په پلیتولو سره تاسو د غلطو کارونو دسر ته رسولو لور ته را کاږي. له همدې کبله تاسو دې ته ضرورت لری چه خپل ژوندون خدای ته وسپاری. د

هغه څخه وغواړي چه ستاسو ټولې ګناوې معاف کړي او مرسته در سره وکړي څو خدای ته غوره او د هغه د قبول وړ ژوندون ولرئ.

متی(۱۵:۱۹) وايي: (( ځکه چه وران خیالونه، قتل، زنا، حرامکاري، غلا، د دروغو ګواهي او کفر د زړه نه را وځي.)) عیسی مسیح راغلی چه مونږ ټول د ګناه د بند څخه آزاد کړي. ډیر ځوانان دې نتيجې ته د رسیدلو نه وروسته چه د خپل شخصي طاقت په وسیله نشي کولای چه سپیڅلی ژوندون ولري، دخدای د طاقت په وسیله په پوره توګه بدل شوي دي. اوس هغوی د خوشحاله، نیکمرغه او بي عیبه سپیڅلي ژوندون خاوندان دي .

د کورنتيانو په نوم لومړی لیک(٦ :۹_۱۱) وايي: ((ایا تاسې خبر نه یي څه، چه بد کاران به د خدای د پادشاهی وارثان نشي؟ ځان مه غولوی. نه به حرامکاران د خدای د پادشاهی وارثان شي،نه بت پرستان نه زنا کاران، نه عیاش، نه بچه بازان، نه غله، نه حرصناک، نه شرابیان، نه کنځل ماران او نه ټګان او په تاسو کې ځینې همدغه شان وو،خو تاسو د مالک عیسی مسیح په نوم او زمونږ د خدای په روح ووینځلی شوی بلکه پاک شوی، صادق هم شوی.))

شیطان د ګناه څخه خلاصون نه وروسته هم زیار باسي چه تاسو په وسوسه او آزمایښت کې راګیر کړي .خو دخدای د کلام د لارښوونو په وسیله او د خدای د مرستی په واسطه کولی شی چه په هرې وسوسې او از- مایښت کښې بریالي شی.

د پطروس لومړی لیک (٤ :۲) وايي: ((د پاره ددي چه خپل باقی جسماني ژوندون د انساني خواهشاتو په طور نه تیروی پلکه د

خدای د مرضۍ په مطابق. »» یعنې د عمر تر آخري سلګۍ پورې به دخدای د ارادې سره سم ژوندون وکړۍ نه د نفسیاتي خواهشاتو په لاربنونې سره .

**ستاسو کار**

**هغه څه چه باید تاسو ئې سرته ورسوئ**

**۱۹**) ایا د خدای د مرستې نه پرته کولۍ شۍ چه د الهي معیارونو او قوانینو سره سم ژوند وکړۍ؟

**۲۰**) تاسو باید داول ځل لپاره کوم شۍ خدای ته وسپارۍ څو هغه وکړاي شي چه تاسو ته د ګناهونو څخه خلاصون درکړي ،اوستاسو مرسته او ملګړتیا وکړي څو د صحیح ژوندون خاوندان شۍ؟

**۲۱**) د کورنتیانو په نوم لومړۍ لیک (٦: ۹_۱۱) اود پطرس لومړۍ لیک ( ٤ : ۲ ) څوڅو ځله تکراري ولولۍ.

**۲۲**) دعا وکړۍ چه خدای ستاسو ټول ګناهونو معاف کړي او تاسو سره مرسته وکړي څو د نیکمرغه او خوشحاله ژوندون خاوندان شۍ.

**خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړئ**

۱) نه ! داد الهي نقشې او پلان یوه برخه ده چه هغوی د واده د پاره تیار کړي .

۲) خدای

۳) خدای

٤)څو خدای په تاسو کښې ژوند وکړي. ستاسو د کورنۍ په خاطر. ستاسو د خپل ځان د روغتیا او سلامتیا په خاطر .

٦)دمسیح بدن

۷) اولادونه یو کور ته ضرورت لري چه په هغې کښې د مور اوپلار دمینې څارنې او یو ځایوالي څخه برخه مند شي .

۸) ځیني ړانده پیدا کیږي، ځینې کمزورې او ځینې نور په قسما قسمو ناروغیو اخته کیږي .

۱۰) غیر ارادي حمل او امید واري ،د اعصابو خرابي او هغه صدمه او ضرر چه د ویرې په نتجه کښې او دګناه د احساس څخه روغتیا ته زیان رسوي .

۱۱) پوهه او علم دخدای کلام، ضمیر دارادې قدرت .

۱۲) ځکه چه وسوسه د افکارو دلارې منځ ته راځي.

۱۳) شهواني منظرې، بي لارې کوونکي فلمونه، سکسي کتابونه، نڅاوې، ناوړه او پلیدو کالیو اغوستل .

۱٤) یوسف

۱٦) احترام

۱۷) قدر او عزت

۱۸) جنسي فساد

۱۹) نه !هیځکله نه

۲۰) ستاسو خپل ژوندون

## یاداشت

## دریم لوست

# دژوند د ملګری ټاکنه

## هغه څه چه په دې لوست کښې به يي ولولی

- د ټاکنې اهميت
- دخدای لار ښوونه

  دخدای لار ښوونه ستاسو د خوښې سره سم.

  خدای څه رنګه لار ښوونه کوي ؟
- د مقدس کتاب ټاکلي حدود او قوا نين

  ايماندار سره واده او نکاح

  د دواړو په خوښه او رضايت واده
- ځاني ځانګړتياوې او خصوصيات

  خصو صياتو اهميت

  ځاني اخلاق

  ښه عادتونه

  دزړه خوشحالي او سره ورته شخصيتونه

  سلامتيااو روغتيا

- موقعیتونه

مینه او دوه اړخیزه قبلونه

خدای په ارادې باندې ډاډمندي

## د ټاکنې اهمیت

د داسي یو شخصیت ټاکنه چه په راتلونکې کښې ستاسو د ژوند ملګرې کیږي ډیر اهمیت لري. دا ولی ؟

په دې هکله ډیر دلیلونه شته دي. لومړی، د هغو زیاتو اغیزو په خاطر چه ستاسو د ژوند ملګری یي ستاسو په ژوندون باندې لري. هغه څوک چه له تاسو سره واده یا نکا ح کوي ستاسو ژوند ته به خوند ، رنګ ،شکل او لوری ورکړي. هغه کولی شي چه ستاسو ژوندون د سپیڅلتیا او آسمان لورې ته، او یا د ګناه او جهنم لورې ته رهبري کړي. ستاسو د ژوند دملګرې هره ورځینی تاثیر به تاسو سره مرسته وکړي چه تلپاتې او حقیقي نیکمرغی او خوشحالي لاس ته راوړی، او یا به ددې سبب شي چه د مالک خدای څخه لیري شی، خوک چه د حقیقي خوشحالی یوازینی سر چینه ده. ستاسو د ژوندون شریکوال هم کولاې شي چه د مالک خدای تابعداري ،خدمت او مینه درته آسانه او یا مشکله کړي.

دوهم،دغه انتخاب له دې وجې اهمیت لري چه دژوندون تر پایه او ټول عمر لپاره دی. ایمانداران هیڅکله دا رنګ عقیده نه لري چه په واده کښې بریالیتوب ته د نه رسیدو په صورت کښې دې دواړه د ژوند ملګري وکولای شي چه د یو بل نه بیل شي. که چیرې یو بایسکیل یا یو موټر ولری او خوښ مو نشي ،کولی شی چه هغه

خرڅ کړې او پر ځای یي یو بل واخلې. مګر د ښځې او خاوند په باره کښې نشئ کولای چه داسې عمل وکړې. مقدس کتاب وايي: چه واده د ژوند ترپايه پورې او دټول عمر لپاره وي.

د رومیانو په نوم لیک(۷ :۲) وايي : ((دهغې نه پس د مثال په طور یوه واده شوې ښځه تر هغې د خپل خاوند پابنده ده تر څو چه هغه ژوندې وي خو که د هغې خاوند مړ شي نو بیا هغه د واده د شرعی پابندیو نه خلاصه شي )) همدا رنګه دمرقس انجیل ( ۱۰ :۹) وايي: ((هر څه چه خدای یو ځای کړي وي بني آدم د نه جلا کوي .))

دایماندارانو لپاره هم امتحاني واده یا نکاح جواز نه لري او نشته. په دې ډول چه یو څه مودې د پاره سره یو ځای ګډ ژوند تیر کړي او درضایت په صورت کي یو بل سره واده وکړي او د نارضایتې په صورت کښې سره بیل شي. دالهي معیارونو او قوانینو سره سم دغه کار غلطي، ګناه او غیر اخلا قي تګلاره ده .

په دې خاطر چه د ژوند د ملګرې ټاکنه یا انتخاب ډیر اهمیت لري، باید په دې کار کښې د ژروالي څخه کار وانخستل شي، دنیکه مرغه د خدای کلام داسې اساسي اصول بیانوي چه دهغې په مراعات کولو سره به دې نیکمرغه او بریالي واده او کورني ژوند خاوندان شې .

## ستاسو کار

## هغه څه چه تا سو ئي بایدسر ته ورسوئ

۱) ددې خبرې دوه دلیلونه بیان کړې چه ولې د ښځې او یا خاوند ټاکنه دومره ارزښت لري ؟

۲) په کوم ځای کښې د ژوند د ملګری دټاکنې بنسټیز اصول پیدا کولی شی؟

## دخدای لارښوونه

### د خدای لار ښوونه ستاسو د خوښې سره سم

که چیرې تاسو د خدای زامن اوسی ،کولای شی چه باور ولری چه ستاسو پلار غواړي چه داسې یو شخصیت دې ستاسو دژوندون شریکوال شي چه ستاسو د ژوندون د پاره ډیر ښه وي. خدای حوا پیدا کړه چه دآدم دژوند ملګرې شي کوم ته چه هغه اړتیا درلودله. خدای تاسو پیژني او ستاسو په اړتیاوو هم پوهیږي هغه تاسو، ستاسو دخپل ځان نه ښه پیژني، اوپه دې پوهیږي چه څه رنګه شخصیت کیدای شي چه ستاسو د ژوندون لپاره یو ښه او غښتلی دژوند شریکوال شي.هغه تاسو سره مینه کوي، او غواړي چه ستاسو سره مرسته هم وکړي.

له همدې کبله د ژوند د ملګرې د خوښولو څخه مخکې خامخاد مالک خدای څخه وغواړی چه تاسو د داسې یو شخصیت لور ته رهبري کړي څوک چه د هغه خوښ او د پاملرنې وړ وي .په دې هکله دعا وکړی او تیار اوسی چه دخدای لار ښونو ته مثبت ځواب ورکړی.

دنوې لوظنامې د یعقوب په لیک کښې (۱: ۵) وایي : (( خو که په تاسو کښې په چاکښې د حکمت کمی وي نو هغه دې د خدای نه وغواړي . چه بغیر د ملامتولو نه یي هر چا ته په سخاوت ورکوي، نو هغه ته به هم ورکړای شي ))

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۳)د ژوندد ملګرى د ټاکنې څخه مخکې باید کوم کار سر ته ورسوی ؟

### خداى څه رنګه لار ښوونه کوي؟

خداى په کومه طریقه د پاملرنې وړ شخصیت د واده له پاره مونږ ته را په ګوتو کوي؟ په دې باره کښې مالک خداى د خپلو زامنو د لارښونې لپاره د یو لړ لار ښوونو څخه استفاده کوي چه په لاندې ډول بیانیږي .

۱ـ چا چه د ژوند ملګرى ټاکلى وي باید ډاډه واوسي چه دغه ټاکنه د خداى د کلام د معیارونو او لار ښوونو سره برابره ده.

۲ـ ایا د دې دواړو ملګرو خویو نه ، اخلاق او ځانګړتیاوې یو د بله سره برابرې او مناسبې دي؟

۳ـ د واده لپاره شرطونه او فضا باید منا سبه او دواړو ته د منلو وړ وي .

٤ـ مینه ، درناوى ،دلچسپي او قربانی باید د دواړو اړخونو څخه وي .

۵ـ د خداى د ارادې په باره کښې اطمینان درلودل ، چه باید دواړه پرې باوري وي .

ایماندار سړى باید په دغه ټولو ځایونو کښې دخداى لارښوونې ولټوي او د عمل جامه ور واغوندي .

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئي باید تر سره کړئ**

٤) هغه پنځه لارښوونې چه مالک خدای د هغې په وسیله یو ایماندار ته د ژوند ملګرې دانتخاب لپاره هدایت ورکوي، په یاد زده کړۍ.

## دمقدس کتاب ټاکلي حدود او قوانین

او لینۍ او ډیره مهمه تګ لاره چه مالک خدای د هغې په وسیله تاسو ته لار ښوونه کوي د هغه سپیڅلۍ کلام او ویناوې دي په مقدس کتاب کې چه څه معیارونه او قوانین بیان شوي دي باید هغه عملي شي. تاسی کولای شۍ چه په دې پوره اطمینان ولرۍ چه هیڅکله هم د هغه لار ښوونې د هغه د کلام سره توپیر نلري . ددې معیارونو او قوانینو څخه کولای شو چه په لاندې ډول نوم واخلو او تر څیړنې لاندې یې ونیسو:

د یو ایماندار سره واده یا نکاح کول

د دواړو په خوښه او رضایت واده

**د یو ایماندار سره واده**

هغو کسانو چه تر اوسه پورې یې کورنۍ جوړه کړې ده یا ودونه یې کړي دي، دخپل د ژوند دملګرې سره که ایماندار وي یا بې ایمانه، څه اخلاقي لوظنامې یا تعهدات لري، خو که چیرې تاسو

ايمانداران واوسى، او تر اوسه مو واده نه وي کړى، نو ډاډه اوسى چه خداى نه غواړي تاسو يو بي ايمانه سره واده وکړى.

دکورنتيانو دوهم ليک (٦: ١٤) وايي: ((څوک چه په مسيح ايمان نه لري د هغوى سره په جغ کښې مه ځى. د صداقت او نا صداقت په خپلو کښې څه تعلق ؟ بيا د رڼا او تيارې د يو بل سره څه کار ؟))

په مقدس کتاب د دوه ځوانانو د ژوندون پيښې او حالات ذکر شوي دي چه ښه او روښانه مستقبل يي په مخکې وو. مګر د غلطى په سر ته رسولو سره يي د هغو ښځو سره ودونه وکړل چه په خداى يي ايمان نه درلود. دغه دوه ځلمي يو شمشون او بل سليمان وو. شمشون د هغې ځوانې ښځې لور ته جذب شو چه دهغه سره په دين کښې شريکه نه وه .د شمشون مور او پلار هڅه او ټينګار کولو چه شمشون دې د خپلې کورنى د نجونو څخه يوه نجلى سره واده وکړي خو له بده مرغه هغه د خپل مور او پلار خبرو ته پاملرنه ونکړه. نو لومړنى واده د هغه يو هيبتناکه ماتى وه. خو بيا هم هغه د خداى د لار ښونوو پيروي ونکړه، نو دوهمې ښځې يي هم هغه په دښمنانو خرڅ کړ. (قاضيان ١٤_١٦ولولى). همدا رنګه سليمان د خپلو بې ايمانه ښځو په وسيله د خداى څخه ليرى شو. ( ١ پادشاهان ١١ : ١_١١) ولولى.

له همدې کبله په خپلو ملګرتياوو کښې کلکه پاملرنه وکړى. هميشه د دوه مخالفو جنسونو تر منځ يوه جاذبه موجوده وي. مه پريږدى چه ستاسو دغه احساس د دې سبب شي چه بې ايمانه خلکو ته تاسو نږدې کړي. د ايماندارانو څخه ځان ته په زړه پورې او

ريښتونې ملګرې غوره کړې، او شيطان ته اجازه مه ورکوې چه د موقع څخه ناوړه استفاده وکړي او د مالک خدای د ارادې اهميت له منځه يوسي، او ديو بې ايمانه سړي يا ښځې سره ستاسو دواده په وجې، ستاسو ژوند خراب کړي.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئي بايد سر ته و رسوئ

**٥**) دوه هغو کسانو نومونه واخلې چه چه کولای شول ښه راتلونکې ولري مګر د بې ايمانه ښځوسره د واده په وجه په مصيبت اخته شول.

**٦**) د کورنتيانو په نوم دوهم ليک(**٦ : ١٤**)له ياده زده کړې.

**٧**) د دې پورتني ايته څخه کومه نتجه لاس ته راځي؟

## د دواړو په خوښه او رضايت واده

يواځې ايمانداري د واده د برياليتوب له پاره شرط نه دی. مقدس کتاب تعليم ورکوي چه که چيرې دوه اړخيزه خوښه او رضايت موجود نه وي نو نشی کولای چه د يوې نيکمرغې او خوشحالې کورنی خاوندان شی. عاموس په خپل کتاب (**٣ : ٣**) کښې وايي: (( څکه ستاسو ګناهونه ددې سبب ګرځي چه زما ( خدای ) او ستاسو ترمنځ اړيکې خړ پړې شي.)) ددين او مذهب په هکله د نظريو اختلاف کولی شي چه دکورنی تهوله خوشحالي او نيکمرغي له منځه يوسي . تاسو او ستاسو د ژوند ملګرې بايد په لاندنيو مسايلو کښې يو تر بله سره پوره موافقت ولري. دغه مسايل

عبارت دي د هغه معيار او قانون د اهميت څخه چه خداى يي تاسو په ژوند کښې لري، څرنګه بايد د خداى خدمت وکړی، د کومې کليسا په غونډی کښې ګډون وکړی او اولادونه مو بايد د کوم قسم ديني او مذهبي تعليم څخه برخمند شي. کله کله د دوو مختلفو فرقو د افرادو تر منځ د نظر اختلاف او بيلتون د کورنۍ د اختلاف او د ژوند د ملګرو يو تر بله سره د بيلتون سبب ګرځي. د ښځې او خاوند ګډون په بيلابيلو غونډو او کليساګانو کښې، دهغوی د شريک ژوندون د پرمختګ لپاره ښه پايله نه لري.

هيڅ يوه جوړه نشي کولای چه په ټولو جزئياتو کښې دې په پوره ډول د نظر يووالی ولري. اوتاسو هم بايد دداسې يو حالت انتظار او اميد ونلری .مګر ښځه او ميړه بايد په بنسټيزه اصولو کښې سره موافق وي اويو نظر دې ولرې .

ايا تاسو او ستاسو د پاملرنې وړ شخصيت د مقدس کتاب د معيارونو او قوانينو په هکله، دکورنۍ او بچو د تربيې او پالنې په طريقو، د ښځې او خاوند دندو او ذمه واريو په باره کښې او دګټې او مصرف د تنظيم او ترتيب په اړوند د نظر يووالی لری يا نه ؟ که چيرې سره موافق ونه اوسی ، نو ډير احتياط کوی ځکه چه په ډيرو ستونزو به اخته شی.

په هغه صورت کښې چه سره يو ځای د مالک خدای لاړ ښوونې مطالعه کوی نو په هغو معيارونو او قوانينو چه مقدس کتاب يي بيانوي موافقت او د نظر يووالی حاصل کړی .

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئي بايد سر ته ورسوئ

۸) دعاموس له کتاب څخه(۳ : ۳) له ياده زده کړی.

۹) دلته د دعا په کولو سره خپل ځوابونه وليکی. څه رنګه کولای شی چه وپوهيږی ، چه هغه شخصيت چه تاسو يي په نظر کښې لری په هغو ټکو کښې تاسو سره موافقت لري کومې چه ددې درس په دوران کښې بيان شوي دی؟ ايا ستاسو ټولې نظر يي درستې دي يا بايد په ځينو ټکو کښې خپلې عقيدې او باورنو ته تغير ورکړی، څو موافقې ته سره ورسيږی ؟

۱۰) ددې کتاب لوستل څه رنګه کولی شي چه ستاسو او ستاسو د ژوند ملګرې سره مرسته وکړي څو تاسو په خپل کورني ژوند کښې په پراخه پيمانه د اتفاق او دنظر د يووالې څخه برخمند شی.

## ځاني ځانګړتياوې او خصوصيات

### د خصوصياتو اهميت

تاسو غواړی چه ستاسو دژوند ملګرې ياملګرې دې دکومو ځانګړ-تياوو او خصو صياتو خاوندوي؟ ځينې ځوانان وايي چه: ((پيغله بايد ښايسته وي، دښه استعداد خاونده او تعليم يافته وي، هغه بايد ديوي مشهورې او مالداري کورنی څخه وي.)) پورتني ځينې ټکي ضروري ښکاري خو يوه يي هم د يوې کاميابه واده ضمانت نشي کولای.په حقيقت کښې ښايسته ځوانه ښځه ممکن ډيره کبرجنه او په ځان مينه وي، تر دې چه واده نه وروسته هم ممکن دخپل ښايست څخه دنورو سړو په راجلبولو کښې ګټه پورته کړي .

همدا ډول یوه پیغله چه د مالداره کورنۍ څخه وي ،ممکن د خپل خاوند څخه داسې غوښتنې او هیلې ولري چه پوره کول یي د هغي د پاره چه نوۍ یي په کار او روزګار شروع کړۍ وي ناشونۍ وي. ښکلا ټولنیز منصب او ښه معلومات او تعلیم درلودل ممکن یو پیاوړۍ امتیاز وشمیرل شي. مګر نور خصوصیات هم شته چه ددې څخه د ډیر زیات اهمیت وړ دي لکه شخصیت، ښه عادتونه، روغتیا او په شریکو مسئلو کښې د زړه له کومې برخه اخیستنه او داسې نور.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئي باید ترسره کړئ

۱۱) د دوو هغه خصوصیاتو نوم واخلۍ چه د یو کامیاب واده ضمانت نشي کولاي او دواده په بریالیتوب کښې کوم خاص رول نه لري .

## ځاني اخلاق

تاسو غواړۍ چه د کوم ډول خوی لرونکي سړي سره خپل پاتې عمر تیر کړۍ؟یو خوش اخلاقه سړي سره یا چه ټول عمر شکایت کوي او بد خویه وي؟ مینه ناک سره یا غصه ناک سره؟ صبرناک سره یا کم حوصلې او بې صبره سره؟ مهربانه سره یا سخت طبیعته سره ؟ با ګذشته سره یا کینه لرونکي سره؟ مرستندوی سره یا کبرجن، بې پروا او لټ سره؟ سخاوت کوونکی سره او که د بخیل او ځان پرست سره؟ د اطمینان او باور وړ سړي سره او که شکمن سړي

سره؟ ایا دیو نیکنامه شخصیت په هڅه کې يئ او یا د هغه چا چه وضیعت یې معلوم نه وي؟

ایا د یو ریښتني شخصیت پسې ګرځۍ او که د هغې چا پسې چه دوکه درکوي؟ ایا کار کونکې شخصیت لټوۍ او که بیکاره او تنبل سړی؟ ایا هغه شخصیت پسې ګرځۍ چه لویه حوصله لري او یا هغه چا پسې چه ډیر ژر خپه کیږي ؟ ایا دداسې شخصیت په لټه کښې یۍ چه د اعتبار وړ وي او یا هغه چا لټون کوۍ چه بې اعتباره وي ؟

شخصیت د کوچنیوالي په ټوله دوره کښې شکل اخلي او پوخوالي ته رسیږي. له همدې کبله دهغه شخص کورنۍ څوک چه ستاسو په نظر کې ده، کولای شي چه د هغې د شخصیت په باره کښې یو روښانه تصویر تاسو ته درکړي. دا پخوانۍ متل په دې ځای کښې صدق کوي چه وایې «ځوۍ د پلار په څیر وي او لور د مور په څیر» اولادونه په عملي توګه د مور او پلار پیروي کوي .

په هر حال ایماندار سړۍ کولاۍ شي چه د خدای په فضل سره په خپل خوۍ کښې بدلون راولي، حتی که ښه کورنۍ تربیه هم ونلري.

په هغو کسانو به څه وکړۍ چه د ډیر لوړې او عزتمندې کورنۍ په لرلو سره سره، د مور او پلار د ښو اخلاقو او نمونو پیروي نه کوي.په همدې اساس کورنۍ یوه مرسته ده چه وکولاۍ شي د هغې په وسیله یو داسې شخصیت پیدا کړۍ کوم چه ستاسو د پاملرنې وړ ځانګړتیاوو او خویونو خاوند وي، مګر د هغه شخصي ځانګړې شخصیت یوائې دهغه د کورنۍ په اساس مه سنجوۍ بلکه نورو معیارونو ته یې هم نظر کول په کار دي.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۲)هغه ځانګړتیاوې او خویونه چه باید ستاسو د نظر وړ شخصیت یې لرونکې وي د یو فهرست په بڼه ولیکې.

۱۳) اوس هما غه فهرست ته په مراجعه کولو سره د هغو ټکو مخې ته چه په پوره توګه ستاسو اخلاقو سره ورته والې لري د "ښه" کلمه ولیکې او دهغه د صفتونو مخې ته چه باید قوي کړې شي "ضعیف" کلمه د نښې په توګه ولیکې.

۱٤) دعا وکړې چه خدای تاسو دخپل پام وړ شخصیت لپاره دژوند یو مناسب ملګرې جوړ کړي. او بیا دعا وکړې چه دغه خویونه او نیک صفات ستا سو د ژوند په راتلونکې ملګري کښې قوت پیدا کړي.

### ښه عادتونه

عادت پریښودل یو مشکل کار دی. که چیرې یو کس په داسې عادتونو اخته وي چه اوس تاسو ناارامه کوي، نو امید مه لرې چه دواده څخه به وروسته دغه وضعه بهتره شي. دی وینا ته په غور سره پام وکړې: ((هیڅکله په دې نیت چا سره واده ونکړې چه تاسو به هغه اصلاح کړې )) دا فکر ونکړې چه دا قدرت به ولرې چه ښځه او یا خاوند په خپلو کښې به د خپل زړه د خوښې سره سم بدلون را منځ ته کړي.

د ښځې او خاوند ریښتني مینه ددې سبب ګرځي چه دواړه تر آخره حده پورې کوښښ وکړي دیوې موضوع په جزئیاتو کښې هم سره موافقې ته ورسیږي. په مهمو موضوعاتو کښې هم باید دوی یو دبله سره کومک وکړي .ولی په پټو سترګو او پرته له دې چه د خپل د ژوند دملګری په هکله سوچ او فکره وکړی، واده ته رضایت مه ښکاره کوی. دغه عادتونه، دهغه داصلي شخصیت او ماهیت په ښکاره کولو سره کولی شي چه هغه قسم امیدونه او ارزوګانې چه په راتلونکی کښې د هغه څخه لری، په څرګند ډول تاسو ته روښانه کوي. ایا هغه پاک او سپیڅلی دی که ککړ او ناوړه؟ ایا یو باتربیته انسان دی که بې ادبه؟ با تدبیره دی که بې پروا؟ ډیرې خبرې کوي او که د نورو خبرو ته هم غوږ نیسي؟ ایا هغه مسئولتونه چه دکلیسا او خدای په اړوند یې لري ورته پاملرنه کوي او د هر څه ځینی زیات اهمیت ورکوي؟ هغه د خپلو خویندو ،ورونو، مور او پلار سره څه ډول سلوک کوي؟

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۵)د هغه عادتونو څخه یو فهرست جوړ کړی کوم چه تاسو غواړی چه ستاسو دراتلونکې ژوند ملګری دې هغه ولري.

۱٦)هغه عادتونه ذکر کړی چه د یو نیکمرغه واده په لار کښې تاسو ته خنډ جوړیږي .

۱۷)خپل ځان دغه دواړو فهرستونو سره مقایسه کړی،او خپل ځان او د خپل د ژوند ملګری لپاره دعا وکړی.

## د زړه خوشحالي او سره ورته شخصیتونه

ایا دې ته مایل یاست چه خپل ژوند دداسې یو شخص سره تیر کړۍ چه ستاسو د زړه د خوښیو سره هیڅ قسم علاقه او دلچسپی نلري ؟

میړونه او ښځی چه سره ورته ارمانونه او دزړه خوښۍ لري یو بل ته په ډیر نږدې والې سره یوه ډیره ښه کورنۍ جوړوي.

دمخالفو صفاتو درلودل هم کله نا کله ښه وي په دې شرط چه د یو بل تکمیل کونکی وي.دمثال په توګه دیر خبرې کونکې کسان د هغه چا سره په ګډ ژوند کولو باندي ډیر خوشحاله وي چه په پوره ډول یو ښه اوریدونکۍ وي .هغه کس چه اوچت او تخلیقي افکار لري خو د تصمیمونو په عملې کولو یې قادر نه وي ،هغه هم داسی د ژوند یوه ملګری ته اړتیا لري چه وکولاۍ شي د هغه غوښتنې د عمل په ډګرکی پلی کړي.

خو په هر حال که چیرې د ښځې او خاوند بیلوونکې صفتونه په پوره ډول یو بل په ضد وي نو هغوۍ به په خپل شریک ژوندون کښې د ډیرو ستونزو سره مخ شي . دلوړو خیالاتو لرونکۍ یو ځوان چه فعاله او کاریګر هم وي ،کیدای شي چه یوه لټه او کم ذهنه ښځه ونشي زغملۍ.

خدای حوا پیدا کړه چه د آدم لپاره د ژوند یو مناسب شریکوال شي. په همدې شان خدای غواړي چه ستاسو دژوند ملګرۍ دې هم په پوره ډول تاسو سره مناسب وي . ستاسو ځانګړي خویونه دې په هغه اندازه یو تر بله سره ورته وي چه د هغې په سبب وکولاۍ شۍ چه یو ښه نیکمرغه ژوندون په ګډه سره تیرکړۍ، او په هغه اندازه دې

یو تر بله سره فرق ولري، چه همیشه ستاسو د ګډ ژوند موازنه برابره وساتي.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**۱۸**)دهغه فعالتونو څخه یو فهرست جوړ کړۍچه ستاسو د پاره په زړه پورې او د پام وړ وي .احتمال لري چه ستاسو دژوند شریکوال د هغو ټولو سره علاقه ونلري ، خو که چیرې په پوره توګه د هغې ټولو سره مخالف وي نو ممکن ستاسو په منځ کښې تاوتریخوالی پیدا کړي.

**۱۹**) ځیني هغه مطالب چه د هغه په هکله د خبرو دکولو هیله لری ولیکی. اوایا ددې مسایلو په هکله خبرې به ستاسو د ژوند په ملګرې ښه ولګې او که نه ؟

## سلامتیا او روغتیا

روغتیا نه یوائې د کورنۍ د نیکمرغۍ لپاره اغیزمنده ده، بلکه په اولادونو هم نیغ په نیغه تاثیرلري. خامخاغوارۍ چه روغ او قوي اولادونه ولرئ نه داسې اولادونه چه د وراثتي مرضونو په نتجه کښې د جسمي، روحي او عقلي له پلوه کمزوري وي. په ډیرو هیوادونو کي طبی ازموینې،او د روغتیا شهادتنامې او تصدیق درلودل د هغو مقرراتو یو جزء دی، کوم چه د واده نه مخکې شرط ګڼل کیږي.

دا کار ستاسو او ستاسو د اولادونو د ښې پالنې او روغتيا په خاطر سر ته رسولی شي چه ډير اهميت لري .

البته سلامتيا او کامله روغتيا کوم لازمي شرط نه دی. ډير خلک سره د بدنی کمزوريو په دې بريالي شوي دي چه ښه ميړونه، ښځې او مور او پلار شي. سلامتيا په واده کښې کومه د پاملرنې وړ او ډير مهم ټکی ندی مګر د کورنی په نيکمرغی کښې يي هم د اهميت څخه انکار نشي کيدای. دخپل ځان څخه پوښتنه وکړی‌چه ايا هغه کولای شي جه زما د اولادونو لپاره يوه ښه مور شي؟ ايا هغه کيدای شي چه زما د اولادونو لپاره د يو ښه پلار ځای ونيسي؟ البته ښاغلو ته په کار نه دي چه داسې يو ې نجلی سره د واده په فکر کښې شي چه تر اوسه پورې د جسمي او د عمر له لحاظه پوره بلوغ او لويوالي ته نه وي رسيدلې. اويا داسی کوم فکر په سر کښې وروزي.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

۲۰)ستاسو دژوند دملګرې بدنی او روحي روغتيا او سلامتيا ولی اهميت لري؟

## موقعيتونه

مخکې مو ووئيل چه مالک خدای خلکوته د چاپيريال د پيښنو د لاری هدايت او لار ښونه ورکوي. دا موضوع کولای شو چه د مقدس کتاب په ښکلې عشقي قصو او داستانونو کښې وګورو.

روت خپله کورنۍ او وطن د واحد خدای د خدمت لپاره پرېښوده او د بیت الحم باغونو ته د وَړو د ټولولو لپاره لاړه، او په ناڅاپي توګه د (بوعز) په کروندې کښې ورننوته. خدای هغې ته هدایت ورکړی وو. بوعز د روت سره وکتل او ټولې هغه ښې ګڼې یي په هغې کښې ولیدلې چه د یوې ښې ښځې لپاره لاژمې وې. دهغوی د واده لپاره یو څه خنډونه هم موجود وو خو خدای هغه د هغوی له لارې څخه لیرې کړل .ټولو مرسته وکړه او د هغوی واده یي شونی کړ.

د هغو وسایلو څخه یوه چه خداي د روت د هدایت لپاره هغه وکاروله د مشرانو او باتجربه خلکو نصیحتونه وو .روت د نعومي د نصیحتونو درناوی وکړ او دهغې په مطابق یي عمل وکړ .نن ورځ هم خدای د مور او پلار، د کلیسا مشرانو، او تجربه کارو مسیحیانو د نصیحتونو په وسیله د ځوانانو سره مرسته کوي څو د هغې ارادې و پیژني او ځان پری پوه کړي.

د اسحاق او او ربکا پیښه د بوعز او روت له واقعې سره بالکل فرق لري. هغوی دواده د مراسمو څخه مخکې یو بل نه وو لیدلی. ابراهیم خپل خادم لیږلی وو چه د هغوی د ځوی د پاره یوه ښځه پیدا کړي چه واده ورسره وکړي . هغه خادم دعا وکړ څو خدای دهغه لار ښونه وکړي. په دې باور ولری چه ابراهیم اواسحق هم ددې موضوع په باره کښې دعاوې کولې.

خدای د دعاګانو په قبلولو سره،ربکا په هغه لاره سمه کړه چیرته چه د ابراهیم خادم دعا کوله. دابراهیم خادم د ربکا او د هغې د کورنۍ سره د پیژندنې او بلدتیا نه وروسته، متوجه شو چه ربکا

د خپل اخلاقي خويونو او خصوصياتو سره کيداى شي چه د اسحاق لپاره ښه او مناسبه ښځه وي. د ربکا دکورنۍ ټولو غړو د خداى لارښونې حس کړې او د ربکا او اسحق په واده سره راضې شول. هغوى د ربکا عقيده او خوښه، دهغه خادم سره په تلو او بيا د اسحق سره په واده کولو کښې معلومه کړه. ربکا رضاه شوه او د اسحاق کور ته د تګ لپاره يې اوږد مزل وکړ .هغوى له يو بل سره خورا مينه درلوده او ديو نيکمرغه واده او روښانه ژوند خاوندان وو

په هغو کورنيو کښې چه د واده ترتيبات او دژوند د ملګرى تړاکنه د مور او پلار په لاس کښې وي، نو د هرې پريکړې څخه وړاندې دې دعا وشي او د خداى لارښونه د وغوښتلى ښي. هغه خداى چه د پيښو او حالاتو له طريقه اسحق او ربکا سره يو ځاى کړل ،کولاى شي چه نن هم ستاسو دعاوې قبولې کړي.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

۲۱)د دوو هغو جوړو نومونه واخلى چه خداى هغوى د حالاتو او پيښو له طريقه يو ځاى کړي دي.

## مينه او دوه اړخيزه قبلونه

هيڅ واده نشي کوى چه د ښځې او خاوند ترمنځ د حقيقي مينې څخه بغير،نيکمرغه او کاميابه شي.دوه اړخيزه مينه دښه تعلق احساس په دواړو اړخونو کښې پيدا کوي او د دې سبب ګرځي چه د يو بل د خوشحاليو لپاره په زيار ويستلو سره لاژم اصلاحات او

بدلونونه په خپلې تګ لارې کښې منځ ته راوړي. مینه د بل هر څه نه زیات ښځۀ او میړه سره نخلوي او یو بل ته یي نږدې کوي.

مینه د جاذبې یا جنسي اړیکو څخه ډیره لوړه ده. ریښتنې مینه د درناوي، او قدردانۍ څخه ډکه ده.هڅه وکړۍ چه د جنسي اړیکو جاذبیت له مینې سره په اشتباه کښې وانچوۍ. که چیرې تاسو د خپل احساس په باره کښې شک لرۍ نو دعا وکړۍ او دمور او پلار یا نورو تجربه کارو مسیحیانو سره مشوره وکړۍ.

د هغه کورنیو په باره کښې چه هلته د اولادونو د ودونو فیصلې د مور او پلار له خوا نیول کیږي باید څه وشي؟ په داسې حالت کښې د دوه اړخیزې مینې امکان د یو بل د پیژندنې څخه مخکې نه برابریږي .مګر لږ تر لږه د واده هر اړخ باید د واده څخه مخکې د یو بل قبلولو ته چمتو وي کیدای شي چه مینه وروزل شي او ددې کار سرته رسول ضروري ده . خدای د ریښتونې مینې سر چینه ده. له همدې کبله که چیرې د هغه شخصیت سره واده وکړۍ چه خدای هغه ستاسو لپاره په نظر کی نیولی دی او هغه غوره کړۍ نو د دواړو په زړونو کښې به یو له بله سره واقعي مینه او محبت پیدا شي.

البته زمونږ بحث او څیړنه د هغه نکاحګانو او وادنو په باره کښې دی‌چه د الهي معیارونو او قوانینو سره سم سر ته رسیږي .نو که چیرې ایمانداران اوسۍ، باید د بې ایمانه سره د واده غوښتنه او درخواست قبول نه کړۍ حتي که یوبل ته دلیوالتیا او کشش احساس هم وکړۍ.

د پیدایښت کتاب (۲٤: ۵۸ او۶۷) وایي: (( بیا یي ربکا را وغوښتله او هغې ته یي وویل: " دې سړي سره ځې؟ " هغې وویل : " هو ورسره ځم". اسحق ربکاخپل د مور خیمې ته ننویسته هغه یي د خپلې ښځې په توګه ومنله او هغې ته یي خپله مینه ښکاره کړه.))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۲۲) کوم خاصیتونه او خویونه د هغې مینې او محبت د پیدا کیدو سبب ګرځي کوم چه د واده بنسټ دی؟ که چیرې یو خاص کس په نظر کښې لرئ نو خپل احساسات او جذبې د پورتني فهرست سره مقایسه کړئ چه ایا ورسره سمون خوري؟ ایا هغه شخصیت چه تاسو یي په پام کښې لرئ ستاسو په نسبت هم همدا رنګه احساس لري؟ او تاسو سره په هغه اندازه مینه لري څومره چه یي تاسو ورسره لرئ؟

۲۳) دعا وکړئ چه دهغه کشش او جاذبې په واسطه چه د واقعي مینې نه یي سرچینه نه وي اخیستې،ونه غولیږئ.او د خدای څخه وغواړئ چه ستاسو او ستاسو د ژوند د ملګري په زړه کښې یوه ریښتني مینه پیدا کړي.

۲٤) د ټولو هغه دوستانو لپاره هم دعا وکړئ څوک چه په خپلو کورنیو کښې زیات نه زیات محبت ته اړتیا لري.

## د خدای په ارادې باندې ډاډمندي

د خدای هدایت په عملي توګه د یوې خاصې مکاشفې په واسطه نه ورکول کیږي،بلکه دهغو بیلابیلو تګ لارو په وسیله ورکول

کیږي کومو ته مو چه مخکې اشاره وکړه. یعنې د مقدس کتاب معیارونه،صحیح خویونه او خصوصیات، دپیښې ځایونه او موقعتونه ، مینه او دوه اړخیزه قبلونه ،او دخدای په اراده باور او اطمینان .

ممکن دغه اطمینان او خوښي د دعا په وخت کی د ارامتیا د احساس او ایمان په وسیله تر لاسه کړی، چه ګواکی د نوموړې کس سره په واده کښې دخدای، ارده موجوده ده. دغه خوښي او اطمینان باید یو اړخیز نه وي. باید ښځه او سړی په دعا کولو سره دغه خوښي او اطمینان حاصل کړي.

د خدای هدایت ممکن د یو څه مودې په تیریدو سره په ورو ورو ورکړای شي. ددې څخه مخکې یا وروسته چه خدای د هغو مختلفو تګلارو لور ته هدایت درکړي، دغه خوښي او اطمینان به لاس ته راوړل شي.ممکن ځینې کسان د ځینو نورو په نسبت ډیر ژر دغه خوښې او اطمینان حاصل کړي .نو تاسو ډیره بیړه او تیزي مه کوی. خپل احساسات د هغه تګ لارو سره چه مالک خدای یې بیانوي مقایسه کړی او وي سنجوی.

که چیرې داسې یو شخصیت چه ستاسو د پام وړ خصایلو درلودونکی وي ،نشی پیدا کولی نو مه خواشینې کیږی. ممکن تاسو کښې هم د مقابل لوري دپام وړ خصیلو کمی وي. د تصمیم نیولو په وخت باید هغه خصوصیات په پام کښې ولری کوم چه د یوې ښې ایماندارې کورنی منځ ته راوړلو کښې ضروري دي، او په هغه حالت کښې کوشش وکړی چه دغه خصوصیات او خویونه په ځان کښې هم پیدا کړی،او ورته وده ورکړی.

خداى دې تاسو ته برکت درکړي او هغه تګ لارې چه تاسو ته مناسبې ښکاري، هغه ښه شخصيت ته چه خداى هغه تاسو لپاره غوره کړى دى در وښيي او هغې لور ته مو هدايت کړي.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

**۲۵**) د مالک خداى په ارادې باندې د باور او اطمينان مفهوم تشريح کړى.

## خپل ځوابونه ورسره مقايسه کړئ

۱ـ د هغه تاثير په وجه چه ستاسو د ژوند ملګرى يي ستاسو په ژوندون باندې به ولري.

ځکه دا ټاکنه د ټول ژوند لپاره ده .

۲ـ دخداى په کلام

۳ـ دعا وکړى او دخداى څخه هدايت او لارښوونه وغواړى .

۵ـ شمشون (سامسون) او سليمان

۷ـ ايماندار بايد يو ايماندار شخصيت سره واده وکړي.

۱۱ـ ښکلا، لوړې زده کړې

۲۰ـ په دې دليل چه کورنى او اولادونه د نيکمرغى سره نيغ په نيغه اړيکې لري.

**۲۲**_ احترام، درناوی او د یو بل خیال ساتل.

**۲۵**_ د ارامۍ احساس، او په دې باندې ایمان لرل چه دا موضوع د خدای د ارادې په مطابق ده.

## څلورم لوست

# کوژده او واده

## هغه څه چه په دې لوست کښې به يې ولولې

- دواده لپاره تيارې
- د کوژدې رسمونه او رواجونه

  دالهي معيارونو او قوانينو سره دهغې مقايسه

  مالي ستونزې

  د کوژدې په دوران کښې دسلوک څرنګوالې
- واده

  قانوني دستورونه او قواعد

  د مسيحي واده دود او دستور

## د واده لپاره تيارې

ځوانه نجلۍ يا هلک بايد څه وخت د واده لپاره تصميم ونيسي دغه کار د حالاتو او وضيعتونو سره نيغ په نيغه اړيکې لري . دوی دواړه بايد په داسې عمر کښې وي چه وشي کړای د واده

مسئولتونه قبول کړی .باید داسی اندازی بلوغ ته رسیدلې وي چه وکولای شي د خپلو ذاتي خواهشاتو څخه په له پامه غورځولو سره خپل ځان د مقابل لوری سره جوګه کړي .

واده د ماشوموالی لوبې نه دي. ځوان سړی باید د کار کولو په طریقه وپوهیږي. هغه باید دداسي یو کسب درلودونکی وي چه وشي کړای د خپلې کورنی نفقه برابره کړي. همدا راز ځوانه ښځه هم باید د کور د سمبالښت او د ېَخلي په چارو کښې بلده وي. او دواړه اړخونه باید د واده څخه وروسته په خپلو مسئلتونو او ذمه واریو خبر ،او منلو ته یي چمتو وي .

ښه به داوي چه ځوان سړی باید د واده څخه مخکې د ژوند د تیرولو له پاره یو ځای برابر کړي .کیدای شي دا ځای، یو ساده او وړوکی کرایي کور وي خو دا به هغوی پورې اړه ولري، نه د هغوی په مور او پلار پورې. معمولاً دواده څخه پس، دمور او پلار سره د اوږدې مودې د پاره اوسیدل چندان په زړه پورې نه ده .

د کوژدې او واده دوره ډیره خوندوره وي،خو په هغې صورت کښې چه دواړه خواوې،دخدای د نقشې څخه پیروي وکړي. د ګډ ژوند پیل چه د مقدس کتاب پر اصولو ولاړه ده، د کورنی د نیکمرغی لپاره بهترینه تګلاره ده چه د خوشحالی او نیکمرغی ضمانت کوي .

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱)که چیرې مو تر اوسه پورې واده نه وي کړی، نو د« واده لپاره تیاری » برخه یو ځل بیا ولولی او خپل ځان د هر یوه ټکي سره مقایسه کړی. د خدای څخه درخواست وکړی چه په هغو ټکو کښې چه کمزوره یي، ستاسو مدد وکړي تر څو خپل ځان باندې د عملي کولو په صورت کښې په ډیرې خوشحالی سره مسئولتونه قبول کړی او پس له واده څخه د خپل د خوښې د ژوند ملګری ولری.

## د کوژدې رسمونه او رواجونه

### د الهي معیارونو او قوانینو سره د هغې مقایسه

معمولاً کوژده د واده څخه مخکې صورت نیسي او د بیلابیلو هیوادونو رسمونه سره توپیر لري. کیدای شي چه یو جشن جوړ کړای شي او د هغه په ترڅ کښې هلک او نجلی د واده په هکله خپل تصمیم اعلان کړي. امکان لري چه په دې محفل کښې د کوژدني ګوته یو تر بله بدله شي او یا د نورو مراسمو په سر ته رسولو سره، یو د بله سره خپل تعلق څرګند کړي. ټول هغه د کوژدې مراسم چه د الهي قوانینو سره سمون خوري د قبلولو وړ دي . خو بیا هم ایمانداران باید دهغه مراسمو د سر ته رسولو او عملي کولو څخه ځان وژغوري کوم چه خدای پرې نه خوشحالیږي.

د یو ایماندار هدف باید دژوند په ټولو برخو کښې دخدای د جلال او لوئ والی څرګندول او د هغې خوشحاله ساتل وي.ایمانداران باید په خپلو ودونو کښې د خدای د برکتونو موندلو ته لیواله او شوقمند وي .

له همدې کبله باید د کوژدې د مراسمو په ترتیبولو کښې هم خدای ته جلال او لويي ورکړی. خدای به ایماندارانو ته اجازه ورنکړي چه دهغوی کوژده دی د ډیرو کورنیو د رواجونو په مطابق،د عیاشی او فحاشی لپاره یوه موقعه شي.

د کورنتیانو په نوم لومړی لیک(۱۰: ۳۱) وایي: ((نو بیا چه تاسو څه خوری، څښی یا کوی، هرڅه د خدای د جلال لپاره کوی.))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۲) حقیقي مسیحیان باید دکوم ډول رواجونو پیروي وکړي؟

۳)د یو ایماندار اصلي هدف باید څه وي؟

٤) ولې باید ایمانداران د خپلو کوژدو د مراسمو په سرته رسولو سره د خدای نوم ته جلال ورکړي ؟

## مالي ستونزی

د دنیا په ډیرو برخو کښې ځوانان په دې مجبوریږي چه د نجلی مور او پلار ته د مهر په نوم ډیرې زیاتې پیسې ورکړي. په ځینې نورو هیوادونو کښې دغه مقدار پیسې د نجلی د مور او پلار په وسیله ،هلک او یا د هلک مور او پلار ته ورکول کیږي . دغه مقدار یا د ډیرو زیاتو نقدي پیسو او یا هم د قیمتي سوغاتونو په بڼه وي. او د نړی په ځینو نورو برخو کښې د مهر ورکولو رسم او رواج نشته خو ځوان زوم دکوژدنې دیو قیمتي ګوتې د اخیستلو په خاطر،

مجبوره کیږي چه ډیرې پیسې قرض کړي. یا ناوې او د هغې کورنۍ د کوژدې یا واده د مراسمو د تدارک لپاره، ډیرې خرچې ته اړ کیږي.

ځینی دا رنګه رواجونو پرځای کول، د هغو ځوانانو لپاره چه شتمن نه دي خو د واده دکولو لیواله دي، ډیرې ستونځې منځ ته راوړي. ځینې خو د واده د کولو څخه بغیر سره یو ځای ژوند کوي. ځینې نور پر ځای د دی چه د کورنۍ د جوړولو په فکر کښې شي ،د ګډوډۍ او د بد اخلاقۍ څخه ډک ژوند تیروي.

البته مسیحیان هیڅکله دې ته جوګه نه دي چه په ګناه کښې دژوند تیرولو په سبب خدای ناراضه کړي او د انجیل د بدنامۍ سبب وګرځي.

که څه هم ددې خنډونو یو خوا ته کول څه اسانه کار نه دی او خدای هم زمونږ څخه د هغه کارونو د سرته رسولو غوښتونکی نه دی چه نا ممکنه ويً. باید چه مسیحی مور او پلار او د کلیسا مشران په پراخه پیمانه دا هڅه وکړي چه ځوانانو او پیغلو ته لازمې لارښونې او مشورې ورکړي. مسیحي مور او پلار باید په پام کښې ولري چه مهمه مسئله په واده کښې دمهر پیسې او جهیز نه، بلکه هغه شخصیت دی چه ستاسو د اولادونو سره واده کوي. هغوي باید د مهر په ورکولو او دواده په مراسمو کښې د ډیر خرڅ په کولو باندې ټینګار ونکړي.

ځوانان او پیغلې باید د خپلې وسعې څخه زیات د کوژدې او واده په مراسمو کښې خرڅ ونکړي. د یو بریالي ګډ ژوند لپاره ځان قرضداروڵ، ښه پایله نه لري. خو ځوانه ښځه او میړه باید یو شی په

نظر کښې ولري او هغه دا چه ،که چیرې د دوی مقصد او لیوالتیا د مالک احترام او هغه ته جلال او لویي ورکول وي، او هغوی غواړي چه د واده په مسئله کښې هم د خدای اراده تر سره کړي، نو بیا به خدای هغه مناسب شرایط ورته برابر کړي کوم چه د یوې نیکمرغې مسیحي کورنۍ په جوړولو کښې ډیره فعاله ونډه لري.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۵) د دریو هغو پیښنو نومونه واخلئ چه ځوانان او پیغلې د مَهر، جهیز او نورو خرچو د پوره کولو لپاره د کافي پیسو د نه درلودلو په صورت کښې ورسره مخ کیږي ؟

٦) هغه مهم اصل چه مسیحي میندې او پلرونه یي باید د هغه شخصیت په هکله په پام کښې ونیسي کوم چه د هغوی د اولادونو سره واده کوي ،کوم دي ؟

۷) هغه ځوانان او پیغلې چه د واده کولو تصمیم لري څه رنګه باید دمالي ستونزو سره مقابله وکړي او ورڅخه ځانونه وژغوري؟

### د کوژدې په دوران کښې د سلوک څرنګوالی

معمولاً دکوژدې په دوران کښې ځوانان او پیغلې د یو بل له خصوصیاتو سره بلدیږي. هغوی په دې دوران کښې د ګډ کور او ژوند پلانونه طرح کوي او د کور د ضروري وسایلو په پوره کولو پیل کوي.

د کورنۍ دوستانو او د کلیسا د غړو سره په ډله ایز ډول وخت تیرول، د یو بل د پیژندلو لپاره یوه ښه موقعه ده. په مختلفو وختونو کښې لیدنه کتنه هر څومره چه زیانه وي، یو بل سره مرسته کوي څو د خپل مقابل لورۍ ښه وپیژني. باید اضافه شي چه یوائې په کلیسا ګانو کښې لیدل کتل کافي نه دي ،بلکه په ټولنیزو فعالیتونو او همدا رنګه د کار په محیط کښې هم باید لیدنه کتنه وشي.

ځینې ځوانان او پیغلې ددي لپاره چه غواړي زر واده وکړي یو دبله سره نږدې اړیکې ټینګوي. ولې ایمانداران باید د وسوسې څخه ځانونه لیرى وساتي، او د خدای معیارونه او قوانین باید په پام کښې ولري. کوژده واده نه ده. خو باید ورته په سپک نظر ونه کتل شي. خو په هر حال د فسخ کیدو او بیلیدو احتمال پکښې شته دی . د کوژدې په دوران کښې تلوار مه کوئ او د هغو کارونو د سرته رسولو څخه ځانونه وژغورئ کوم چه ددې سبب ګرځي چه نور خلک پر تاسو، ستاسو پر چنغله او یا پر انجیل نیوکی وکړي.په یاد راوړئ چه یعقوب د راحیل د مهر لپاره دي ته اړ شو چه پوره اوه کاله خدمت وکړي.

د پیدا ایښت کتاب (۲۹: ۲۰) وایي: «بیا یعقوب د راحیل د لاس ته راوړلو لپاره اوه کاله خدمت وکړ او د هغه محبت په سبب چه د هغې سره یي درلود په یعقوب دا کلونه لکه د څو ورځو په شان تیر شول.»

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۸) یعقوب د راحیل سره خپله مینه څنګه ثابته کړه ؟

۹) د کوژدې د دورې د فوایدو څخه د دوو نومونه واخلئ ؟

## واده

### قانوني دستورونه او قواعد

مسیحیان د ضرورت وړ اسناد برابر وي څو د هغوی واده د هره اړخه قانوني وي .دغه اسناد ممکن د زیږدنې تصدیق صحی او داکټري رپور ټ اود نکاحنامې څخه عبارت وي .

ځیني کسانو د رسمی واده څخه پرته کورنۍ جوړه کړې ده . دا کسان باید د خدای د خوشحالولو په خاطر او د یو ښه شهادت دلرلو لپاره د واده قانوني مقررات او قواعد عملي کړي.پدي وسیله سرې خپل نوم په خپلې ښځی او اولادونو کیږدي او هغوی ته د قانونی ساتنې او حمایت حق ورووبخښي او د قانون تر سیورې لاندې ورته ځای ورکوي .

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۰) ځوانان او پیغلې د قانوني واده څخه مخکې باید کوم اسناد برابر کړي ؟

۱۱) دوه دلیله په دې هکله ذکر کړئ چه دیو مسیحی واده ولی باید قانوني وي؟

## د مسیحي واده دود او دستور

په کلیسا کښې دواده د مراسمو د اجرا څخه مخکې باید ټول قانوني کارونه او تشریفات سر ته رسیدلی وي. په ځینې ملکونو کښې باید واده د ټولنیز قانون سره سم د کلیسایي دستورونو څخه مخکی سر ته ورسیږي .په یو مسیحي واده کښې ناوې او شاه د خدای او خلکو په مخ کښې لوړه کوي. هغوی دا لوظ کوي چه د یوبل سره مینه ولري او د یوبل درناوی، ساتنه او پالنه وکړي. او د مرګ تر لحظې پورې یو بل ته وفاداره پاتې شي. د کلیسا مشر د هغوی د مسئولتونو په ښوولو سره د هغوی لوظ او تړون ته غوږ نیسي او هغوی یو دبل ښځه او خاوند اعلانوي او د هغوی د کورنۍ لپاره دعا کوي او ورته د خدای څخه برکتونه غواړي.

په کلیسا کښې د واده د مراسمو جوړول دا خبره تائیدوي چه واده د خدای لخواه ټاکل شوی دی. او دا هم په ډاګه کوي چه دا ځوانه جوړه خپلی سترګې د خدای لورې ته غړولې دي تر څو د نوي ژوند په پیل او د کورنۍ په جوړښت کښې له هغو سره مرسته وکړي.

ځینې خلک په واده کښې ډیر فضول خرچي کوي. ممکن هغوی د ناوې او شاه په کالیو او سینګار او د دوستانو او خپلوانو د هرکلي او میلمستیا د پاره ډیرې پیسي ولګوي. البته هر څوک دې

ته خوشحاله وي چه یو ښه محفل بندوبست وکړي او په خپله هم ځان په ښه شان سره سینګار کړي .خو دا خپره په یاد ساتئ چه ساده ګي د قرضداره کیدو څخه ډیر ښه ده .

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۲) د کلیسا د مراسمو څخه مخکې کوم ټکي باید په پام کښې ونیول شي ؟

۱۳) په یو مسیحي واده کښې د ناوې او شاه تر منځ په لوړې کښې کومې ژمنې شاملې دي ؟

۱٤) کلیسایي مراسم ښیي چه ځوانه ښځه او میړه دیو خاص مطلب لپاره خپلې سترګې خدای لورې ته غړولې وي. دا خاص مطلب څه شی دی ؟

۱۵) دخپلې کلیسا د ځوانو جوړو لپاره دعا وکړی چه مالک خدای په هغو باندې دکوژدې او واده په دوران کښې خپل برکت نازل کړي، څو د هغوی کورنی د مسیح د نوم د لویي او عظمت سبب شي .

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړی

۲_ د هغه رواجونو څخه چه مناسب دي او د الهي معیارونو سره سمون لري.

۳_ د خدای نه په درناوي سره هغه باید خوشحاله کړي .

٤_ ځکه چه هغوی د خپلو ودونو او کوژدو په ترڅ کښې د خدای د برکت غوښتونکي دي.

۵_ ځینې د واده کولو څخه پرته ګډ ژوند تیروي ، او یا غیر اخلاقي اړیکې ټینګوي او ځیني نور د پور د پیټې لاندې ډوب شي.

٦_د پام وړ سړي مسیحي اخلاق او کردار.

۷_ د خپلو امکاناتو څخه باید زیات مصرف ونکړی.

۸_هغه د خپلې ناوې د مهر د ادا کولو لپاره پوره اوه کاله مزدوري وکړه.

۹_ په ښه توګه د یو بل پیژندل .

-د نوي ژوند د جوړولو لپاره یوه موقعه.

۱۰_ د زیږدنې شهادت نامه، د روغتیا شهادت نامه او نکاح خط

۱۱ _ ځکه چه باید دخدای په خوشحالولو سره ښه ګواهان و اوسی.

۱۲_ د واده د قانونی مقررا تو تر سره کول.

۱۳_ دیو بل سره مینه ولری اودرناوی وکړی ،دیو بل خیال وساتی او یو بل ته وفاداره پاتی شی او تر مرګه پورې د یو بل څخه بیل نشی.

**١٤_چه ځوان او پيغله دا غواړي چه چه خدای د هغو سره د ګډ ژوند په پيل او د کورنۍ په جوړښت کښې مرسته او ملګرتيا وکړي.**

## پنځم لوست

# د کورنۍ تشکیل او جوړښت

### هغه څه چه په دې لوست کښې به يي ولولئ

- کورنۍ څه شی دی ؟
- د کورنۍ ارزښت

  د کورنۍ ارزښت د ملت لپاره

  د کورنۍ ارزښت د ټولنې لپاره

  دکورنۍ ارزښت د اولادونو لپاره

  د کورنۍ ارزښت د خاوند او ښځې لپاره

- مسيحي کورنۍ

  ګناه د کورنۍ د بدبختۍ سبب ګرځي

  مسيحی کورنۍ څه شی دی ؟

  کورني عبادت او لمانځنه

# کورنۍ څه شی دی؟

کور څه شی دی ؟کور د کورنۍ د غړو د را غونډیدو ځای دی. یوه کورنۍ د ښځې او میړه څخه پیلیږي.معمولاً څه موده وروسته اولادونه هم ورسره زیا تیږي . ممکن نور غړي هم لکه بوډا پلار او داسې نور په کورنۍ کښې له هغو سره ګډ ژوند وکړي.

کله چه خدای د آدم په واسطه د کورني ژوند نمونوي بنسټ کیښود ، د هغوی د ژوند د تیرولو لپاره یي هغوی ته خاص ځای ورکړ. دا یو ښکلی بڼ وو چه چه د هغه پالنه او ساتنه یي آدم ته سپارلې وه. تر اوسه هم خدای دې ته لیواله دی چه هره کورنۍ دې ځانله د استوګنې ځای ولري چه هلته د یو واحدې کورنۍ په څیر سره راغونډ شي .خدای هم دا امید لري چه دکورنۍ غړي دې د څپل کور ساتنه او پالنه وکړي. زمونږ کور که هر څومره ساده هم وي خو مالک خدای غواړی چه نیکمرغه او زړه راښکونکې وې څو د کورنۍ غړي وشي کړای په هغې کښې د ژوند څخه خوند واخلي .

په دنیا کښې مختلف ډول کورونه وجود لري .هغه مصاله چه د کور په جوړښت کښې کارول کیږي دهغه مهم اړخ نه جوړوي، مهمترین ټکی د هغو وګړو اړیکې دي چه د کور په د ننه کښې ژوند کوي. دا یوائینی قاعده ده چه د یو ښه یا بد کور په جوړولو کښې، اهمیت لري. د کورنۍ د غړو تر منځ مینه په کورنۍ کښې ډیره مهمه مسئله وي.

د کورنۍ افرادو شته والی د یو بل سره، د هغوی په منځ کښې د صحیح اړیکو د برقرارولو لپاره زیات مؤثر دي. د کور څخه باید یوائې د خوراک، څښاک او د خوب د ځای په صفت استفاده

ونشي. د یوټینګ یووالی د منځ ته راوړلو لپاره، باید دکورنۍ وګړي خپل یو څه اندازه وخت په کور کښې د یوبل سره په مرستې کښې تیر کړي. په حقیقت کښې کورنۍ اړیکې د یو کور په جوړښت کښې دومره اهمیت لري چه کله کورنۍ ته د اشاره کولو لپاره د ((کور)) لفظ هم کارول کیږي.

**ستاسو کار**

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱) کور څه شی دی؟

# د کورنۍ ارزښت

## دکورنۍ ارزښت د ملت لپاره

ښې کورنۍ د یو ښه ملت بنسټ ایښودونکې وي. کورنۍ د نړۍ لومړۍ ټولنیز بنسټ او سیستمیز جوړښت وو چه د خدای په واسطه تاسیس شو. بیا وروسته نور سازمانونه او ټولنیز بنسټونه لکه مکتبونه، کلیساوې، قبیلوي سرمشریزې ادارې، کلي، ښارونه او ملتونه منځ ته راغلل.

د مسیحی مفکرینو څخه یو تن وئیلي دي: ((کورنۍ کیدای شي چه د یو کوچنی دولت سره مقایسه شي چه پلار د کورنۍ مشر او مور یي د مرستیال په صفت وي. هغوی په کورني حکومت کښې د یو بل سره مرسته کوي. هغوی ډیر ښه قوانین وضعه کوي څو اولادونه یي وکولای شي په ډیرې هوساینې سره ژوند وکړي. دغه قوانین اولادونو ته نظم او تابعداري ورزده کوي. که چیرې اولادونه

په کور کښې نظم او دسپلین او فرمان برداري زده کړي، نو کولی شي چه د ژوند په مختلفو مرحلو کښې د خپلو معلمینو، دکلیسا او دوطن دمشرانو درناوی او اطاعت وکړي.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۲) کورنۍ د څه شي سره کولای شی چه مقایسه کړی ؟

## دکورنۍ ارزښت د ټولنې لپاره

ټولنه د خپل موجودیت د ساتلو لپاره په کورنۍ پورې تړلی وي .کورنیو د ټولنې د غړو په منځ ته راوړلو سره هغه نسل تر نسله ژوندی ساتلې ده او ساتنه یې کوي. ښه کورنۍ خپل اولادونه داسې روزي چه وشي کولای د هغوی د ټولنې لپاره ګټور غړي شي.

ماشوم په کور کښې زیږیږي او د هغه لومړني تعلقات او رابطې د هغه د کورنۍ له نورو غړو سره وي. د هغه شخصیت او عادتونه په کور کښې د رنګ او شکل په اخیستلو سره پراختیا مومي. هغه د نورو سره د سلوک او معاملې په لارو چارو پوهیږي. هغه شیان چه ماشوم په خپلې کوچنۍ ټولنې یعنی د کورنۍ په غیږ کښې زده کوي، هغه د خپل ژوند په وروستیو پړاونو کښې د ګاونډیانو، ټولنې او نورې دنیا سره د اړیکو پروخت کاروي .

له همدې کبله کورنۍ روزنه او تربیه ،دټولنې د افرادو د شخصیت په څرنګوالې کې ډیر مهم رول لوبولی شي .ښه کورنۍ

زیار باسي چه په خپلو اولادونو کښې ښه عادت، د ذمه وارۍ پیژندنه ،مینه ،ریښتینولې او درناوي ته وده ورکړي .

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۳) څه شی د ټولنې او د کورنۍ د افرادو د څرنګوالی معلومونکی دی ؟

## د کورنۍ ارزښت د اولادونو لپاره

کورنۍ دماشوم لپاره ډیر زیات ارزښت لري. او دهغه د شخصیت په روزلو او او جوړښت او د ژوند د ناخوالو سره په مقابلې او زغم لرلو کښې ډیره مؤثره وي. هغه باید وپوهیږي که چیری په بهر کښې له خطرو، ستونزو او نا امیدیو سره مخامخ کیږي، همیشه کولای شي چه خپل د امن چاپیریال یعنې خپلې کورنۍ ته پناه یوسي او هلته ومنل شي. مور او پلار به د هغه په درکولو سره هغه ته مینه ورکړي او هغه به تر پالنې او څارنې لاندې ونیسي. ځکه د هغه تعلق د هغوی سره دی. ښه کورنۍ که عاجزه او غریبه هم وي ،کولای شي چه د خپلو اولادونو په منځ کښې د امن او ارامۍ احساس پیدا کړي . په اولادونو کښې ددې احساس منځ ته راتګ ددې با عث ګرځي چه د هغوی څخه یو متعادله شخصیت جوړ شي. هر ماشوم د یوې ښې مسیحي کورنۍ محبت، څارنې، خوشحالۍ او پالنې ته اړتیا لري . اولادونه د زده کونکو په څیر دي مور او پلار دخپلو خبرو ،کردار او لارښونو په واسطه خپلو اولادونو ته ډیر څه زده کوي . د خدای کلام په دې اړه داسې فرمایي:

اول پادشاهان (۱۵: ۳) (( ابیا هم لکه د خپل پلار په شان پلید انسان وو ،او د داود پادشاه په څیر خدای ته وفاداره نه وو .))

اول پادشاهان(۱۵:۳٦) ((هغه هم لکه د خپل پلار په څیر د خدای په مقابل کښې ګناه وکړه او اسرائیل یي په ګناه کې راښکیل کړ. ))

کورنۍ د شخصیتونو د ودې او پالنې محل ځای دی. دا حقیقت ثابت شوی دی چه هر هغه څه چه اولادونه یي د شپږ کلنۍ نه مخکې زده کوي د ژوند تر پایه ورسره وي. له همدې کبله که چیرې کورنۍ ښه نه وي نو دا امید نشته چه هغه دې ښه اولادونه هم ولري. د هغې کورنۍ ماشومان به نا فرمانه، درغجن ،بي ادبه او د قوانینو خلاف وي. که چیري یوه کورنۍ د خدای د محبت په وسیله اداره شي کیدای شي چه اولادونه یي هم دخدای نه ویره ولري او ټولنې ته صالحه او ریښتنې ماشومان وړاندې کړي ، چه هغوی به د دنیا لپاره برکت وي.

متلونه ۲۲ :٦ (( ماشوم په هغه لارې کښې چه باید ګام پورته کړي ښه وروزه او بیا به هغه د عمر تر پایه دهغې لارې څخه وانه وړي )).

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

٤) کوم شي د اولادونو په روزنې او پالنې کې د خوراک او څښاک په اندازه دارزښت وړ دی ؟

۵) څنګه کولای شو چه یو کور د یوې ښونځۍ سره مقایسه کړو ؟

٦) کور د یو ماشوم پر شخصیت او کرکټر باندې څه اثر غورځولی شي ؟

## د کورنۍ ارزښت د ښځې او خاوند لپاره

د کورنۍ جوړښت د خدای له نقشو څخه د انسان د نیکمرغۍ لپاره یوه طرح ده. ښځه او میړه ته پکار دي چه په خوشحالۍ او غم، کار او تفریح او همدا رنګه په تکلیفونو او بریالیتوبونو کښې سره یو ځای او شریک وي . کور او کورنۍ د یوه پلار لپاره هم د یوې ښونځۍ یا مکتب حکم لري. هغه تجربې چه په دې ځای کښې لاس ته راځي دوی سره مرسته کوي چه د نورو په مقابل کښې صبرناک هوښیار او محطاط و اوسې. کور هغه پناه ځای دی چه خاوند د ورځني سټریاوو او ستونزو سره د مخامخ کیدو څخه پس هغه ته پناه وړي .په یوې مسیحي کورنۍ کښې د خدای حضور، مینه او ارامتیا دښځې او میړه سټریاوې له منځه وړي او هغوی ته قوت ورکوي چه خپلې ذمه وارۍ په ښه شان سر ته ورسوي.

د کورنۍ یوه اساسي او اصلي دنده د ماشومانو زیږیدنې او دهغوی پالنې ته د تیارۍ نیول دي. د مور او پلار شریک مسئولیت د اولادونو په پالنې کښې د هغوی تر منځ د صمیمانه اړیکو سبب ګرځي . د اولادونو موجودیت په کورنۍ کښې د خوشحالۍ او واده نه د رضایت دلرلوښه ده.

زبور( **۱۲۷: ۳**) وایي: (( ماشومان د خدای له خواه ورکړل شوي سوغات دي. ))

ددې ایت معنی دا نه ده چه ګڼې په بې اولاده کورنۍ باندې د خدای لعنت شوی وي. په خواشینۍ سره ځینې کورنۍ د ماشومانو خاوندان نه کیږي. مقدس کتاب خاوند دا اجازت نه ورکوي چه د اولاد د نه زیږیدلو په وجه خپله ښځه طلاقه کړي او له کومې بلې ښځې سره واده وکړي . همدا شان ښځو ته هم دا اجازه ورکړ شوې نه ده چه خپل هغه خاوندان خوشې کړي چه د اولاد د نه لرلو سبب دي .اګر که د اولاد زیږیدنه دواده اساسې هدف دی، خو په ښځې او یا میړه کښې جسماني کمزورتیا کولای چه د اولاد په پیدا کېدو کښې خنډ رامنځ ته کړي .خو په هر حال لاژمه نه ده چه دا ستونزه د ښځې او میړه توب پیوند له منځه یوسي .

په مقدس کتاب کښې د بی اولاده کورنیو ډیرې نمونې لیدل کیږي . په هر حالت کښې دغو کسانو دعا کړې ده او خدای ځخه یې د حل لاره غوښتې ده. ابراهیم او ساره د زړه له کومې د اولاد لپاره دعا وکړه او خدای د هغو دعا قبوله کړه. حنا د خدای ځخه زوی وغوښته نو خدای هغه ته سموئیل، چه د اسرائیلو یو لوی مشر وو، وبخښه ( اول سموئیل ۱ :۱۱ _ ۱۳ ). ډیرو کورنیو د نورو خلکو اولادونه په ځوی ګلوی قبول کړي دي. مالک خدای به هغوی ته د یو حاجتمند ماشوم د ساتنې په خاطر ډیر برکتونه ورکړي .په دې حالت کښې هم اولادونه او هم مور او پلار د یو بل د مینې ځخه خوند اخلي .

زبور (۱۱۳ : ۵ او۹) کې راغلي دي: (( ځښتن ،زمونږ خدای چه په آسمانونو کښې ناست دی ،اوهیڅ شریک اومثل نه لري. خدای شنډې ښځې ته د ماشوم په ور بخښلو سره هغه خوشحاله او سرلوړي کوي، شکر دې وي په داسی خدای باندې. ))

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

۷) ايا ستاسو کور تاسو لپاره د بهرني ناخوالو په مقابل کښې يو پناه ځاى دى ؟ دعا وکړى چه خداى هغه د خپلې ارامۍ سره معمور کړي .

۸)د کورنۍ يوه اصلي دنده څه شى ده ؟

۹)ايا خداى هغه ښځو او ميړونو ته چه شنډې وي ( داولاد د پيدا کولو وس نه لرې ) د طلاق يا بل واده اجازه ورکړې ده ؟ هغه دوه کارونو نوم واخلى چه دا ډول کسان يې سر ته رسولى شي ؟

## مسيحي کورنۍ

### ګناه د کورنۍ د بدبختۍ سبب ګرځي

ډيرې کورنۍ د هغه څه سره چه مالک خداى يې په پام کښې لري په پوره ډول فرق لري. ګناه د لومړنۍ کورنۍ د خرابيدو سبب شوه. د آدم او حوا د خداى نه د نا فرمانۍ په وجه،بد بختي د هغو په کورنۍ کښې ورګډه شوه. د هغو په کورنۍ کښې کرکه، کينه، جګړې او قتلونه د مينې او خوشحالۍ ځاى ونيوه .

اوس هم ګناه د کورنيو د بدبختيو سبب ګرځي . له همدې کبله د يوې نيکمرغې کورنۍ لپاره د هغې په بنسټ ايښودلو کښې د پاملرنې وړ ټکى دادى چه ښځه او خاوند دواړه بايد عيسى مسيح د خپل ژغو- رونکې په صفت ومني. اودګنا څخه ازادي تر لاسه کړي. تر څو چه ګناه له منځه وړل شوې نه وي، نه لوړې زده کړى،

نه دولت، نه لوړ مقام او نه کوم بل شی کولای شي چه کورنۍ ته نیکمرغي راولي. هغوی یو مسیحي کورنۍ ته اړتیا لري .

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**۱۰**) کوم شی د نړۍ د لومړنۍ کورنۍ د بربادۍ سبب وګرځید ؟

**۱۱**) ځوانه ښځه او میړه باید د خپلې کورنۍ د نیکمرغۍ لپاره کوم کار ترسره کړي ؟

## مسیحي کورنۍ څه شی دی ؟

مسیحي کورنۍ هغه کورنۍ ته وئیل کیږي چه عیسی مسیح په هغې کښې د کورنۍ د مشر په صفت پیژندل شوی وي. هم ښځه او هم خاوند باید مسیحیان وي. د مسیحیوالي څخه مقصد دا نه دی چه په هفته کښې یو ځل کلیسا ته لاړ شي او نور د مالک خدای په فکر کښې نه وي. لکه څنګه چه مسیح په کلیسا کښې حاضر دی باید همدا شان په کور کښې هم حضور ولري. باید په ورځني ژوند کښې د هغه طاعت او درناوی وشي .

هغه مطلب چه پولس او سیلاس د زندان ساتونکی ته وویل دا وو چه خلاصون د کورنۍ د ټولو غړو لپاره دی .

اعمال د رسولانو ۱۶ : ۳۱ وایي چه:(( په مالک عیسی مسیح ایمان راوړه ،ته او ستا کورنۍ به خلاصون ومومي.))

یوشع۲٤ : ۱۵کې راغلی دي چه: (( ....زه او زما کورنۍ به د څښتنه څخه پیروي وکړو.))

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۲) مسیحي کورنۍ څه شی دی ؟

۱۳) د مقدس کتاب کوم ایتونه دا تعلیم ورکوي چه خلاصون د کورنۍ د ټولو غړو لپاره دی ؟

### کورنۍ عبادت او لمانځنه

مخکې له دي نه چه کلیسا منځ ته راشي، خدا ی انسان ته زده کړل چه هر سړی باید د خدای د عبادت لپاره د خپلې کورنۍ لارښوونه وکړي . نارینه باید د خپلې کورنۍ روحاني مشر و اوسي.

نن ورځ مونږ د کلیساګانو او د کلیسایي مشرانو خاوندان یو چه هغوی زمونږ روحاني لارښودان دي. دکورنۍ غړي باید کلیسا ته په تللو سره د مالک خدای خدمت پرځای کړي. خو بیا هم پلار دنده لري چه د خپلې کورنۍ روحاني مشر و اوسي. هغه باید کورنۍ عبادت او لمانځنه د کور په د ننه کښې برقراره کړي. او هڅه وکړي چه د کورنۍ ټولو غړو ته د کلام په لوستلو او دعا کښې برخه ورکړي .چه معمولاً دا ډول ناستې یا غونډې د کورنۍ لمانځنې یا کورني عبادت په نامه یادیږي .

ښځه او میره باید کورنۍ عبادت د لومړۍ ورځې څخه پیل کړي او د ژوند تر پایه پورې هغه د یو مقدس دستور په څیر برقراره وساتي. هغوی باید هره ورځ یو ټاکلی وخت د خدای د کلام د مطالعې او دعا لپاره وقف کړي. کورنۍ عبادت باید سهار وختي یعنې مخکې له دې چه خاوند خپل کار ته لاړ شي او یا د مازیګر پر

وخت تر سره شي. هڅه وکړۍ چه ددې کار لپاره داسې یو وخت په پام کښې ونیسۍ چه کومه وقفه یا قضایي پکښې رامنځ ته نشي.

د کورنۍ عبادت بله برخه، د دسترخوان پر سر د شکرګزارۍ دعا ده. ۱تیموتوس ٤ : ۳ کښې وئیل شوي دي: ((.... چه خدای پیدا کړي دي تر څو هغه ایمانداران چه حقیقت پیژني د شکر په ویلو سره دهغو خوړو څخه اسفاده وکړي.))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**١٤**) د کلیسا د رامنځ ته کیدوڅخه پس، خدای پلرونو ته کومه دنده وسپارلې ده ؟

**١٥**) کورنۍ عبادت څه شی دی ؟

**١٦**) د خپلې کور نۍ لپاره د مالک خدای شکر ادا کړۍ او دهغه څخه وغواړۍ چه ستاسو د کورنۍ سر ،او ستر لاربنود شي. دعا وکړۍ چه ستاسو کورنۍ د ژوند په ټولو اړخونو کښې دهغه نوم ته جلال ورکړي .

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړۍ

١ـ د کورنۍ د غړو د ژوند ځای .

٢ـ دیو کوچني هیواد سره

٣ـ هغه تربیه او روزنه چه د کور د ننه هغوی ته ورکړ شوې ده .

٤ـ کورنۍ مینه محبت

۵ـ مور او پلار ښوونکي ، او اولادونه د هغوی زده کونکی دي .

٦ ـ هغه عادتونه چه په کور کښې، يو چا ته پيدا کيږي هغه د عمر تر پايه له هغه سره پاتې کيږي .

۸ـ د اولادونو زيږول او د هغوی پالنه او روزنه .

۹ـ نه !هيڅکله نه ! د اولاد د پيداکيدو لپاره دې دعا وکړي او يا دې د يو بل چا اولاد په فرزندي ونيسي .

۱۰ـ ګناه

۱۱ ـ دا ډاډ تر لاسه کړي چه د گناه څخه آزاده شوی دی .

۱۲ـ هغه کورنۍ چه عيسی مسيح د هغه سر او ستر لارښود وي .

۱٤ ـ چه خپله کورنۍ د عبادت لور ته رهبري کړي .

۱۵ ـ د خدای کلام لوستل او د کورنۍ د ټولو غړو سره په ګډه دعا کول .

# یاداشت

## شپږم لوست

# د کورنۍ پراختیا

## هغه څه چه په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ضروري او مناسب یو والی
- مالي چارې
- د مور او پلار سره اړیکې
- مسیحي او غیر مسیحي کورنۍ

  مسیحي کورنۍ

  غیر مسیحې کورنۍ

## ضروري او مناسب یووالی

د کورنۍ په پراختیا کښې ښځې او خاوند ته د ډیرو بدلونونو قبلول لاژم دي. هغوی باید د خپل ژوند ټولې تګ لارې د یوبل سره برابرې کړي څو یوه ښه کورنۍ منځ ته راوړي. د کورنۍ د پراختیا او تشکیل لپاره کیدای شي چه لاندینۍ ایت په پام کښې ونیول شي.

د فليپيانو په نوم ليک (۲ : ۳ ) وايي: (( د خود غرضۍ او بې ځايه فخر په وجه څه مه کوئ بلکه په عاجزۍ يو بل د ځانه غوره ګڼئ. هر يو دې تش په خپل حال نه بلکه د يوبل په حال هم نظر ساتي.))

مقدس کتاب وايي: (( کله کوم سړی ځانله د ژوند ملګرې پيدا کړي نوهغه به يو نعمت تر لاسه کړي. ځکه هغه ښځه د هغه لپاره دخدای له طرفه ورکړل شوی برکت دی.)) (دسليمان متلونه ۱۸:۲۲ ) خو هر کله چه دوه کسه د بيلابيلو اړخونو څخه په نا ځاپي توګه تصميم نيسي چه د تل لپاره ګډ ژوند وکړي، دا کاملاً يوه طبعي خبره ده چه هغوی به له ستونزو سره مخامخ شي. ځينې خلک پوښتنه کوي چه "ايا په ريښتيا واده يو ښه شی دی؟"

د لومړنيو بدلونونو څخه يو دا دی چه يو تن ددې پر ځای چه د خپل ځان په فکر کښې وي يو بل کس هم د خپل ځان شريک ګڼي. د واده نه مخکې هر څوک د خپلو شخصي ګټو په فکر کښې وي .خو د واده څخه وروسته دغه جمله چه، "زه دغه يواځې د ځان لپاره غواړم، " په دغې جملې چه"، دا زمونږ د دواړو لپاره غوره ده "، بدليږي. که د واده د دواړو اړخونو سره دا درک نه وي چه د واده څخه وروسته يواځې د خپل ځان پر ځای بايد د بل لپاره هم ژوند وکړي ،نو ډير ژر به د هغوی تر منځ شخړې او لانجې پيل شي .او د سختو ستونزو سره به مخامخ شي. دلته مسيحيان يو خاص ځانګړتوب لري او هغه دا چه هميشه کولای شي دمرستې د ترلاسه کولو لپاره خدای ته د دعا لاسونه پورته کړي .

د یو ښه کامیابه واده تر سره کول یوائې د څو دقیقو مراسمو سره پای نه مومي، بلکې د ژوند تر آخري سلګۍ پورې د دواړو اړخونو هڅې او کوښښونه پکښې لاژمي او شامل دي. که چیرې دا درک کړۍ چه دخپل د ژوند د ملګری پر وړاندې ژمنې او مسئولتونه لرۍ نو په خپل ځان کښې به د هغو د سر ته رسولو لپاره ډیره امادګي او تیاری بیا مومۍ. نو هره ورځ د خپلو کارونو په سرته رسولو کښې د خدای څخه لارښوونه او هدایت وغواړۍ.

کله چه ښځه او میړه د یوي خاصې مسئلې پر سر د بیلابیلو نظریاتو درلودونکي وي نو یو اړخ باید دې ته لیواله وي چه د خپل نظر او شخصي ګټې څخه تیر شي. کنه نو هغوۍ به له ډیرو ستونزو سره مخامخ شي.

باید هم ښځه او هم میړه یو بل سره روغې او جوړ جاړۍ ته تیار واوسي. هیڅ اړخ باید په دې فکر نه وي چه مقابل لورۍ دې همیشه د زغم نه کار واخلي. هغوۍ ته ښایي چه د خپلو ستونزو په اړه سره کیني او خبرې وکړي تر څو روغې ته ورسیږي.

ممکن ستاسو د پلانونو، طرحو او خواهشاتو قرباني کول ډیر ګران وي. خو ستاسو مینه به له تاسو سره دا مرسته وکړي چه دا کار وکړۍ. دا عمل د واده یوه ضروري برخه ده چه د هغې په وسیله کولاۍ شو د یوې خوشحالې او نیکمرغې کورنۍ خاوندان شو.

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱) دکورنۍ د پراخوالی په صورت کښې، دکوم ایت په ذهن کښې ساتل د ښځې او خاوند لپاره ضروري دي ؟

۲) د واده نه مخکې سوچ او فکر، له واده څخه وروسته سوچ او فکره څخه څه فرق لري ؟

۳) د رایو د اختلاف په وخت کښې، د میړه او ښځې نه کوم یو باید دا چمتووالی ښکاره کړي چه د خپلې عقیدې څخه لاس واخلي ؟

## مالي چارې

اکثره وخت مالي چارې د شخړو سبب ګرځي. نو ښه دا ده چه ښځه او میړه ټولې مالي چارې سره په ګډه پر مخ یوسي. ممکن ځوان خاوند ښه عاید ونلري. نو ښځه هم باید دکور خرڅ په سپما او سمبالولو کښې له خپل خاوند سره مرسته وکړي. او یوائې ددې په خاطر چه واده یي کړی دی، د خپل خاوند څخه غیر منطقی غوښتنې او بې ځایه هیلې ونلري. ښځه باید دا ناندرې ونکړي چه ګنې خاوند یي دنوي ماډل جامو د اخیستلو وس نه لري. که چیرې مجبوره یی چه دخپلو نورو دوستانو په پرتله ډیر ساده ژوند ولری نو دا حالت باید د ښځې د ناراحتی سبب نشي. په حقیقت کی څنګه چه ښځه د لږو امکاناتو سره خوشحاله او ارامه کور منځ ته راوړي، نو ډیر بریالیتوب د هغې په برخه کیږي.

له بلې خوا میړه باید دا تمه ونلري چه ښځه دې د کافي پیسو د لرلو نه بغیر د کور چارې سمبالې کړي.

ښځه کولی شي چه د کور د مصرف په سپما کښې له خپل خاوند سره مرسته وکړي، خو دا د خاوند دنده ده چه دکور د مشر په توګه دکور اړتیاوې پوره کړي.

(( که څوک د خپلوانو او خاص د خپلې کورنۍ خیال نه ساتې نو هغه د خپل ایمان نه منکر او د بې ایمانانو هم بد دی. ))
(اول تیموتیوس ۵ : ۸)

**ستاسو کار**

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**٤**) درې هغه طریقې چه ښځه د هغې په وسیله کولای شي چه د مالي ستونزو څخه د راپیدا کیدونکې جنجال نه ځان وژغوري، بیان کړی.

**٥**) د خدای کلام د هغه سړي په اړه چه د کور اړتیاوې نه پوره کوي څه وایي ؟

# د مور او پلار سره اړیکې

یوه بله ستونزه چه معمولاً منځ ته راځي هغه د مور او پلار سره د اړیکو مسئله ده. واده د مور او پلار د احترام نه کولو په معنی نه ده. په اصل کښې هلک او نجلۍ د واده څخه وروسته هغه د زړه له کومې مینه او علاقه پریږدي چه یې پخواه له خپل مور او پلار سره

لرله .هغوی یوه نوې کورنۍ جوړوي چه په هغې کښې د ښځې او مېړه تر منځ نوې اړیکې ډېر د اهمیت وړ دي .

مرقس ( ۱۰ : ۷ ) وایي: (( په دې وجه به سړی خپل مور او پلار پرېږدي او خپلې ښځې سره به یو ځای شي. ))

کله کله مور او پلار دا هیروي چه اولادونه یې بلوغ ته رسیدلی دي او ددې حق لري چه خپل ژوند په خپله اداره کړي. که چېرې ځوانه ښځه او مېړه دې ته لیواله وي، مور او پلار کولای شي چه هغوی ته قیمتي نصیحتونه وکړي او لازمې مشورې ورکړي. خو باید دا هڅه ونکړي چه دهغوی د ژوند واک دې په خپلو لاسونو کښې واخلي او یا خپله واکمني په زوره پر هغوی وتپي. حتي د نصیحت د اوریدلو په وخت کښې هم ښځه او خاوند باید دا درک کړي چه د هغوی اړیکې له یو بل سره، د هغه مسئولیت څخه لوړې دي کوم چه د مور او پلار پر وړاندې یې لري .

که چیرې د ښځې او مېړه تر منځ کومه شخړه منځ ته راځي نو ښځې ته په کار نه ده چه سمدستي دې خپل مور او پلار کور ته مونډه کړي . د مور او پلار لیدنه کتنه څه موده وروسته یو ځل کومه ستونزه نه ده. خو هغه باید دا په پام کښې ولري چه د هغې اصلې کور دخپل خاوند کور دی، نه د مور او پلار کور . هغې ته نه ښایي چه د اوږدې مودې لپاره له خپل خاوند څخه بیله شي . ښځه مېړه او مېړه ښځې ته اړتیا لري. د اوږدې مودې بیلتون او لیري والی کیدای شي چه د ښځې یا خاوند په زړه کښې وسوسې پیدا کړي او د واده د اړیکو د کمزورۍ سبب شي.

### تاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

٦) کله کله مور او پلار وروسته له دې چه اولادونه يي واده کوي کوم شی هيره وي ؟

## مسيحي او غير مسيحي کورنۍ

### مسيحي کورنۍ

مسيحي کورنۍ د خوشحالۍ څخه ډکې وي. ځکه چه د مالک خدای حضور او ملګرتيا هلته موجوده وي.

مسيحي کورنۍ د خدای د کلام پر بنسټ ولاړه وي. او د صحيح ژوند لپاره د هغې په قوانينو او لارښونو عمل کوي. په داسې کور کښې سوکالي وي. د کور ټول غړي له يوبل سره مرسته او همکاري کوي. ټولو نه زياته مهمه خبره دا ده چه عيسی مسيح د کور مشر او لارښود دی او هغه له خپلې مينې څخه معمورو وي. که چيرې په يو کور کښې د خدای لارښونې او هدايات موجود نه وي، هغه کور مسيحي نشي بلل کيدای حتی که وګړی يي د کليسا غړي هم وي او خپل ځانونه مسيحيان هم وګڼي.

مسيحي کورنۍ په خپل سر او تصادفي توګه منځ ته نه راځي. او دا کورنۍ يواځې په دې نه اداره کيږي چه دواړه طرفه ( ښځه او ميړه ) مسيحيان دي ،هغوی بايد په دې هکله زيار وباسي. په هغه صورت کښې چه دوی په خپلو ورځنيو ستونزو کښې د خدای د کلام فرمانبرداري کوي ،نو هغه ژوره مينه او خوشحالۍ بخښونکې محبت چه د مالک خدای د پيرزوينو ډالۍ ده د هغوی

په زړونو کښې ځای نیسي او د کور څخه د "جنت یوه کوچنۍ برخه"جوړوي.

د کورنتیانو په نوم اول لیک (۱۳: ٤_۷) وايي: «مینه صابره ده مینه مهربانه ده او هیڅ‌چا سره کینه نه لري. مینه نه خو لافې وهي او نه لويي کوي، نه بې ادبي کوي او نه خپل مطلب پسې ګرځي، نه غصه کوي او نه بدګوماني کوي. مینه د نورو د بدو حساب نه ساتي او نه د نورو په بدکاریو خوشحالیږي. بلکه په ریښتیاوو خوشحالیږي. داسې هیڅ څیز نشته چه مینه یي زغملی نشي ، په هر څه یقین کوی، د هر څه امید لری او د هر څه زغم کوی.»

د عیسی مسیح د انجیل «تفسیري ترجمه» دا موضوع په دا ډول بیانوي: څوک چه مینه او محبت لري هغه ډیر صبرناک دی او مهربانه دی .حسادت کونکی نه ده او په چا رخه نه کوي .مغروره نه دی او هیڅکله د خپل ځان تعریف او ستاینه نه کوي. هیڅکله خپل ځان له نورو لوړ او بهتر نه ګڼي، ځان پرست او بې ادبه هم نه دی. څوک چه مینه او محبت لري د طمع څخه هم ډک نه وي او د نورو څخه بې ځایه امیدونه نه لري. او څوک بې ځایه نه زوروي ، غصه ناک نه وي او ډیر ژر نه خپه کیږي او په زړه کښې له چا سره کینه نه ساتي. هیڅکله په بې انصافی نه خوشحاله کیږي بلکه هغه وخت خوشحاله کیږي چه حقیقت او ریښتینولي بریالی شي. که له چا سره مو مینه وي او هغه خپل ملګری ګڼی، نو په هره بیعه چه وي له هغه سره وفاداره پاتې کیږی. همیشه به د هغوی په خبرو باور کوی، او د تل لپاره به د هغوی نیکمرغي غواړی. او تل به د هغه څخه دفاع کوی.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۷) یوه مسیحي کورنۍ په کوم بنسټ ولاړه وي ؟

۸) د مسیحي کورنۍ ډیر مهم خصوصیت کوم دی ؟

## غیر مسیحي کورنۍ

غیر مسیحي کورنۍ هیڅکله نشي کولای چه نیکمرغه و اوسي ځکه د خدای د حضور برکت هلته نه لیدل کیږي او وګړي یي د ګناه له وجې څخه ربړول کیږي او کړاوونه تیروي. په ځینې دغه ډول کورنیو کښې، ښځه او خاوند خپله ټوله شته مني په جوارۍ (قمار)، نشه یي موادو، سګرټو او الکولي مشروباتو(شرابو) مصرفوي. ځینی سړي خو دومره په الکولي موادو اخته شوي وي چه میخانه په میخانه ګرځي او خپل د میاشتنۍ عاید په یوې شپې کښې برباد کړي . او د ښځې او اولاد د ساتنې لپاره هیڅ څه ورته نه پاتې کیږي.

په ډیرو دغه راز کورنیو کښې د حسادت ،کرکې او ضدونو په نتجه کښې ډیرې زیاتې شخړې او اخ و ډب منځ ته راځي. او میړه د بلې میئنې په لټه کښې شي او ښځه هم ځانله بل مئین پیدا کوي.

په ځینې داسې کورنیو کښې ناوړه کتابونه او دفسق او فساد زیږدونکې شیان شته ماشومان د فلمونو په لیدلو او ناوړه پیښو په کتلو سره چه د هغوی په شاوخوا کښې دي، په وحشت، جنایت او بد اخلاقۍ کښې لوئیږي.

په ځینو غیر مسیحي کورنیو کښې کوډې او جادو، دهغوی غم او ستونزې زیاتې کړي دي . د خدای شکر دی ! که چیرې د یو غیر

مسیحي کورنۍ مشران له خپلو بدو لارو څخه واوړي، او د عیسی مسیح نه پیروي وکړي، د هغوی کورنۍ به هم په یوې مسیحي کورنۍ باندې بدل شي.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۹) دځینو هغو حالاتو نومونه واخلۍ چه په زیاتره غیر مسیحي کورنیو کښې لیدل کیږي ؟

۱۰) مور او پلار څنګه کولای شي چه دغه حالات بدل کړي ؟

۱۱) اوس یو ځل بیا دغه لوست له شروع څخه ولولۍ او خپل ځان او خپله کورنۍ ورسره ټکۍ ټکۍ مقایسه کړۍ. دعا وکړۍ چه خدای په هر هغه ټکي کښې چه تاسو ورته اړتیا لرۍ مرسته وکړي. که چیرې تر اوسه مو واده نه وي کړی، نو اوس هغه وخت رارسیدلی دی چه هغه عادتونو ته په ځان کښې وده ورکړۍ کوم چه په راتلونکې کښې د یوې نیکمرغې کورنۍ د جوړولو سبب ګرځي .

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړۍ

۱ـ د فیلپیانو په نوم لیک ۲: ۳

۲ـ دواده نه مخکښې د خپل ځان لپاره او د واده نه وروسته د دواړو په فکر کښې وي .

۳ـ هم ښځه او هم خاوند

٤ـ د اقتصادي سپما تر هغه ځایه چه ممکنه وي، د ناندرو د نه کولو یه وسیله، او د تر لاسه شوو امکاناتو په مرسته د یوي خوشحالی او سوکالۍ کورنۍ منځ ته راوړل.

٥ـ هغه د خپل ایمان نه منکر او د یو بې ایمانه سړي نه هم بدتر دی.

٦ـ د هغوی واده شوي بچیان اوس بالغان دي او دوی حق لري چه خپل ژوند په خپله سمبال کړي .

٧ـ د خدای کلام

٨ـ د مسیحی کورنۍ مهم خصوصیت دا دی چه مسیح د هغې کورنۍ مشر دی او هغه په خپلې مینې سره معمور وي .

٩ـ د پیسو بی ځایه مصرفول ،شخړې ، بدفعلي ،ناوړه کتابونه ، بې ځایه خبري اترې ،کوډی او جادو.

١٠ـ د خپلو مخکنیو بدو لارو څخه د راګرځیدل ،او د عیسی مسیح د فرمانبرداری په وسیله مور او پلار کولای شي چه دغه حالت ته بدلون ورکړي .

یاداشت

# اوم لوست

# د خاوند دندې او مسئولیتونه

«ایا دغه پیغله خپل ځانته په ښځې توب قبلوې، څو د خدای دحکم سره سم د مقدس واده په حالت کښې د هغې سره یو ځای ژوند وکړې. هغه به خپل ژوند ملګرې بولې او مینه به ورسره کوې او هغه ته به خپل زړه ورکوې او عزت به یې کوې. د روغتیا او ناروغۍ په حالت کښې به د هغې پالنه او ساتنه کوې او تر هغه وخته پورې چه تاسو دواړه ژوندي یاست، ټول شیان به یوې خوا ته پریږدۍ او خپل ځان به یواځې او یواځې هغه پورې تړلی ګڼې ؟» د کلیسایي واده د مراسمو څخه

## هغه څه چه په دې لوست کښې به یې ولولې

- د کور مشر توب

  د «خاوند» د کلمې معنی

  د خدای پر وړاندې ذمه واري

- د ښځې سره مینه او محبت

  یو له بله سره خوشحاله ژوند تیرول

  د خپلې ښځې سره د زړه له کومې مینه

د ښځې خیال ساتل ، اود هغې درناوی

د هغې ساتنه او پالنه

هغې سره وفا داري

- د کورنۍ پالنه او ساتنه

د مادي اړتیاوو پوره کول

د روحاني اړتیاوو پوره کول

## د کور مشرتوب

### د ((خاوند)) دکلیمې معنی

په لرغونې انګلیسي ژبې کښې د (( خاوند )) کلمه د دوو برخو د یو ځایوالي څخه منځ ته راغلې ده چه یو یې (کور) او بل یې( پیوند ) دی.

د(کور) معنی کورنۍ او خاندان او د (پیوند ) نه مقصد هغه پړی یا طناب دی چه بیلا بیلې برخې سره تړي. په بل عبارت خاوند هغه کس دی چه د هغې په واسطه کورنۍ غړي له له یو بل سره رابطه او پیوند پیدا کوي. هغه د کورنۍ ستر مشر او هغه کس دی چه کورنۍ یې منځ ته راوړې او دهغې نه څارنه کوي.

نن ورځ د خلکو په ذهنونو کښې خاوند د واده لپاره د یوې لازمې برخې څخه زیات نور څه نه دی. په داسې حال کښې چه د کورنۍ د دندو یوه د پام وړ اندازه په خاوند پورې تړلې ده. یعنی

هغه د کورنۍ مشر دی، او عام و تام مسئوليت لري چه د خدای د کلام اصول او قوانين په کورنۍ کښې عملي کړي.

**ستاسو کار**

## هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

۱) د ((خاوند)) د کلمې څخه مقصد څه دی او له کومه ځايه څخه يې جرړه اخيستې ده؟

## د خدای پر وړاندې ذمه واري

د هغه وخته څخه را په دې خوا ، چه خدای حوا د آدم د مرستې لپاره پيدا کړه، سړی د خدای پر وړاندې د کور د مشر په حيث مسئول وپيژندل شو. هغه بايد د خپلې کورنۍ څخه پالنه او ساتنه وکړي او هرې پيښې لپاره چه په کورنۍ کښې صورت مومي، د خدای په وړاندې ځواب ورکونکی دی.

د افسيانو په نوم ليک (۵ : ۲۳) وايي: ((لکه څنګه چه مسيح د کليسا سر دی او هغه په خپله د بدن بچ کونکی دی دغسې هر خاوند د ښځې سر دی.))

البته دا په دې معنی نه ده چه ښځه تاسو ته د يوې وينځې حيثيت لري او پر هغې هر دول حکم چلولی شی بلکه د صحيح اصولو د سرته رسولو لپاره بايد تينګار وکړی. او د آدم کار هم تکرار نکړی. کله چه حوا آدم ته هغه ميوه ورکړه د کومې څخه چه هغوی منعه شوي وو، آدم هغه ميوه وخوړه. خدای په دې هکله آدم ګرم وګڼلو او هغه يې ملامته کړ، ځکه چه هغه د کورنۍ مشر وو.

آدم ملامتي د خپلې ښځې په غاړه واچوله، خو خدای هغوی دواړو ته سزا ورکړه. تاسو د کورنۍ د سر او مشر په صفت، دامسئولیت لرۍ چه له خپلې کورنۍ سره مرسته وکړۍ څو پر وسوسو برۍ تر لاسه کړي. خپل ځانونه وسوسو ته مه سپارۍ چه بیا د هغې پړه د نورو په غاړه واچوۍ.

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ**

**۲**) د آدم او حوا دګناه کولو څخه وروسته، خدای لومړۍ د چا څخه پوښتنه وکړه ؟

## د ښځې سره مینه او محبت

**یو له بله سره خوشحاله ژوند تیرول**

د خدای کلام وايي: ((کله چه کوم سړۍ ځانله د ژوند ملګرې وموندي ، ګنې لوۍ نعمت يي موندلۍ دۍ. هغه ښځه د هغه لپاره د خدای لخواه یو برکت دۍ. )) (د سلیمان متلونه **۱۸**: **۲۲**)

سړۍ باید خپلې ښځې ته د خدای له خواه د ورکړل شوې برکت په سترګه وګوري. دهغې په خاطر دې شکر وکړي او دهغې سره خوشحاله و اوسي که چیرې واده مو کړۍ وي نو هڅه وکړۍ چه خپل ټول وخت په نورو کارونو کښې تیر نکړۍ، بلکه د هغې یوه برخه په کور کښې د ښځې سره هم تیر کړۍ څو د هغې د محبت او ملګرتیا څخه خوند واخلۍ.

د جامعې په کتاب (۹ : ۹) کښې راغلي دي: (( دخپل د ژوند دا فاني ورځې چه خدای تاته درکړې د هغې ښځې سره په خوشحالۍ کښې تیرې کړه چه ته ورسره مینه لرې، ځکه دا ستا د ټول ژوند هغه ثمره ده چه ته یي ددې آسمان لاندې تیروې. ))

همدا رنګه د سلیمان د مثالونو کتاب ( ۵ : ۱۸ ) وایي: ((د خپلې هغه ځوانې ښځې څخه خوشحاله اوسه او ترې نه خوند واخله کومه چه په ځوانۍ کښې یي تا سره واده کړې ده. ))

که چیرې غواړې چه له خپلې ښځې سره خوشحاله او نیکمرغه و اوسې ،همیشه د هغې خطاګانو او غلطیو ته فکر مه کوې . بلکه د هغو ښو اړخونو او خویونو ته فکر وکړې. هغوی پریږدې چه په دې وپوهیږې چه تاسو یي عزت او درناوی کوې. هغې ته ووایئ چه ته ډیره ښکلې یي. کله چه ښه خواړه تیار کړي هغې ته ووایئ چه ستا پخلی زما ډیر خوښیږي. ستاسو دغه هڅونې او تشویق به ددې سبب شي چه هغه په خپلو کمزورتیاوو بریالی شي. هره ورځ هغې ته ووایئ چه زه له تاسره مینه لرم او تا خوښوم.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۳) خاوند د خپلې ښځې په اړوند څه ډول یو سوچ او خیال باید ولري ؟

## د خپلې ښځې سره دزړه له کومې مینه

د خدای کلام د مینې په اړوند ډیر شیان لري . او د مینې او محبت ډیر ډولونه یي پیان کړی دي .لکه د خدای مینه زمونږ سره ، زمونږ مینه د خدای سره او زمونږ مینه له نورو سره. د خدای کلام دا تعلیم ورکوي د ښځې او خاوند تر منځ مېنه ددې ټولو مینو په پرتله ځانګړې خصوصیت لري. هغه ښځه چه د یو سړي د ژوند ملګریتوب تر لاسه کوي، په نړۍ کښې یواځینۍ ښځه ده چه د ژوند تر پایه پورې له هغه سره پاتې کیږي. خاوند باید دښځې سره داسې مینه وکړي چه هغه ګومان وکړي چه د خپل خاوند د وجود یوه برخه ده.

د ځاریدونکې مینې بهترینه نمونه د مسیح مینه ده چه زمونږ سره یې لري. هغه خپل ځان زمونږ لپاره قربان کړ. خدای وایي چه خاوندان هم باید له خپلو ښځو سره همداسې مینه وکړي .

دافِسیانو په نوم لیک (۵: ۲۵) وایي:((ای خاوندانو! د خپلو ښځو سره مینه کوۍ لکه څنګه چه مسیح له کلیسا سره مینه کړې ده او خپل ځان یې د هغې لپاره مرګ ته سپارلی دی. ))

دنړۍ په ځینو سیمو کښې خاوندان، ښځې د خپل ملکیت یوه برخه ګڼي. هغوی په دې خاطر د خپلو ښځو څخه ساتنه کوي چه د هغې د لاس ته راوړلو لپاره یې یو څه پیسې مصرفې کړې دي. خو د خدای کلام وایي چه خاوندان باید د هغې مینې په خاطر د خپلو ښځو ساتنه او پالنه وکړي چه د زړه له کومې یې له هغوی سره لري .

د اِفسیانو په نوم لیک (**۵ :۲۸ ـ۲۹** ) وایي: (( دغه شان خاوندانَو ته لاژم دی چه د خپلو ښځو سره د خپل بدن په شان مینه وکړي، ځوک چه د خپلې ښځې سره مینه کوي هغه د خپل ځان سره مینه کوي. ځکه چه چیرې هم چا د خپل بدن سره دښمني نده کړې، بلکه هغه پالي او پرورش یي کوي، داسې لکه مسیح چه د کلیسا کولو.))

که چیرې یو سړی خپله ښځه د خپل ځان په ځیر ګرانه وګڼي او مینه ورسره وکړي نو د هغه د ښځې ټولې ناقراری، د هغه د خفګان سبب هم ګرځیدلی شي. هغه تل هځه کوي چه د هر ډول خطر او ناراحتی ځخه خوندي وي. او د خپلې ښځې آرامتیا د خپل ځان د آرامتیا په اندازه ورته ارزښت لري.

تاسو کولای شی چه په مختلفو طریقو سره خپله دا مینه خپلې ښځې ته ښکاره کړی. ددې پر ځای چه په لوړ اواز د هغې سره خبرې وکړی،هځه وکړی په ډیر ورین او خلاص تندي ورسره خبرې وکړی. د هغې اړتیاوې په پام کښې ونیسی او هغه پوره کړی. هغو شیانو ته پام وکړی کوم چه د هغې خوښ یا ناخوښ دي .

هځه وکړی چه هغه خوشحاله وساتی. که لږ ځه پیسی د خپل ځان د خوشحالی لپاره مصرفوی همدا اجازه خپلې ښځې له هم ورکړی. کله نا کله د کوچنیو سوغاتونو په ورکولو سره خپله مینه او قدرداني هغې ته ښکاره کړی.

دکولوسیانو په نامه لیک (**۳ : ۱۹**) وایي: (( ای خاوندانو ! د خپلو ښځو سره مینه لری او هغوی سره ترخیږی مه. ))

که چیرې ښځه او خاوند دې ته لېواله وي چه په خپلو کښې ژوره دوستي او او مینه ولري چه د بیلابیلو ستونزو په مقابل کښې ټینګ ودرېږي، او ورځ په ورځ دغه مینه زیاته شي نو باید دغه ځان قربانوونکې مینې ته چه له یو بل سره یې لري په خپلو زړونو کښې روزنه او پالنه ورکړي .

د ښځې او خاوند تر منځ حقیقي مینه هغوۍ له ډیرو خطرونو څخه ژغوري. هغه خاوند چه په خپلې ښځې باندې مین وي، هیڅکله د هغې د طلاق ورکولو خیال په خپلې ککرې کښې نه ګرځوي او د نورو ښځو پسې به لاړ نشي .

دغه ډول محبت به د هغو ودونو په پیل کښې نه وي چه د مور او پلار له خوا یې بندوبست شوی وي. خو بیا هم کیدای شي چه هغې ته وده ورکړای شي. خدای هم د دا ډول محبت ورکولو ته لیواله دی.

که چیرې د ورځنی ژوند ستونزې او ناخوالې ستاسو د مینې په مخ کښې خنډ واقع کیږي، نو دغه موضوع د دعا په وسیله د مالک خدای حضور ته وړاندې کړی او خپل ژوندون په کامله توګه هغه ته وسپاری او د هغه څخه وغواړی چه ستاسو مینه ستاسو د ژوند د ملګرې سره او د هغې مینه له تاسو سره لاپسې زیاته کړي. خدای د واقعي مینې سرچینه ده. هر څومره زیات چه ځان هغه ته تسلیموی، په هماغه اندازه به ستاسو مینه د خپلې کورنۍ سره زیاتیږي او یوه خوشحاله او هوسا کورني ژوند خاوندان به شی.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

٤) د افسیانو په نوم لیک (٥: ٢٥) او د کولیسیانو په نوم لیک (٣ : ١٩) په یاد زده کړی.

٥) دوه هغه تګ لارې او طریقې ولیکی چه د هغو په وسیله کولاۍ شی خپلې ښځې ته وښیئ چه تاسو له هغې سره د خپل ځان په څیر مینه لری .

### دښځې خیال ساتل او د هغې درناوی

حقیقي مینه او محبت د یوې داسې رابطې د منځ ته راوړلو سبب ګرځي چه خیال ساتنه او احترام له ځانه سره راوړي . دنورو خلکو په مخ کښې خپله ښځه د ملنډو او نیوکو لاندې مه نیسی او هغې ته سپکې سپورې مه وایی .په هماغه اندازه د هغې احترام او عزت کوی لکه څنګه چه مو د واده نه مخکې کاوه .

د پطروس لومړی لیک (٣ : ٧) وایي: (( ای خاوندانو !دغه شان تاسو هم د خپلو ښځو سره په عقلمندی ګزاره کوی، او ښځې نازکه لوښې وګڼی ،عزت یې کوی او داسې ګڼی چه مونږ دواړه د ژوند دنعمت وارثان ي. د پاره ددې چه ستاسو دعاګانې ایسارې نشي.))

دغه ایت دا تعلیم ورکوي چه د ښځو سره د بد رفتاری په سبب خدای د خاوندانو دعا نه قبلوي. سړی د کورنی سر دی خو په عین حال کښې دا وئیلی شو چه ښځه د کورنی زړه ده. سر او زړه هیڅکله هم نشي کولاۍ چه د یو بل څخه پرته ژوند وکړي. له همدې

کبله ښځه او خاوند یو بل ته اړتیا لري. او کولای شي چه خپل کور کهول، د مینې، الفت، اعتبار او ریښتینولۍ پر ګټ ودان کړي.

**ستاسو کار**

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

٦) مینه کوم شی زیږوي او منځ ته راوړي ؟

۷) سړي څنګه کیدای شي چه د خپلو دعاګانو د قبلیدو په لار کښې خنډ او مانع واقع شي ؟

## د هغې ساتنه او پالنه

د پطرس لومړۍ لیک (۳ : ۷) دې ته اشاره کوي چه ښځې ډیرې نازک طبیعته جنس دي. خدای دا طمعه لري چه خاوندان باید د خپلو ښځو پالنه او ساتنه وکړي. په خاصو مواقعو کښې ښځې د خپلې هوسایي او سوکالۍ لپاره د خپلو خاوندانو ساتنې او پالنې ته سخته اړتیا لري. ښځه په خپل کور کښې د چارو د پر مخ بیولو دنده په غاړه لري، خو د خدای کلام هیڅکله هم دا تعلیم نه ورکوي چه ښځه دې ټول کارونه په یوائې توګه پرمخ یوسي په داسې حال کښې چه نارینه دې خپل ټول وخت بې ځایه او عبث تېر کړي. د خاوند دنده دا ده چه د خپلې ښځې پالنه او د هغې څخه ساتنه وکړي.

**ستاسو کار**

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**۸**) ددې په پام کښې نيولو سره چه ښځې ډيرې کمزورې جنس دي نو خاوندان بايد د هغوی لپاره کوم کارونه سر ته ورسوي ؟

## هغې سره وفاداري

دخدای وينا په روښانه دول تعليم ورکوي چه خاوندان بايد د خپلې ښځې په حق کښې وفاداره پاتې شي. دملاکي کتاب (**۲** : **۱۵**) وايي ((.... نو پام وکړی چه د خپلې ښځې سره خيانت ونکړی. ))

د هغو ښځو په اړه چه د اولاد جوګه نه دي څه حکم دی ؟ په دې هکله د حنا او القانه قصه يوه ډيره روښانه بيلګه ده . القانه ددې پر ځای چه حنا ملامته کړي او يايي ورتيي او يا ترې بيل شي، داسی ووئيل: (( حنا څه شوي دي؟ ولې ژاړې؟ ايا زه ستا له پاره د لسو زامنو څخه بهتره نه يم؟)) (اول سموئيل **۱** : **۸**)

د القانه د وفادارۍ په خاطر چه د خپل خدای او خپلې ښځې سره يي لرله او همدا راز د حنا د دعاګانو له برکته خدای هغوی ته يو داسې څوی ورکړ چه په راتلونکې کښې د خدای د خدمت لپاره يو لوی شخصيت شو. ( اول سموئيل **۱** : **۲۰** )

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

**۹**) د خدای کلام د ښځې سره د وفادارۍ په اړه څه تعليم ورکوي ؟

**۱۰** ) څوک د هغو خاوندانو څخه يوه ښه نمونه ده چه د هغې ښځه د اولاد د راوړلو جوګه نه وه ؟

# د کورنۍ پالنه او ساتنه

## د مادي اړتیاوو پوره کول

خدای غوښتنه دا ده چه خاوندان د کار کولو په وسیله د خپلې کورنۍ اړتیاوې پوره کړي. خاوند د خوراکي توکو او کالیو د برابرولو او همدا راز هغوی ته د استوګنې د ځای او د تعلیم د حاصلولو ذمه واري په غاړه لري. همدا راز هغه باید په پام کښې ولري چه خپل اولادونه داسې وروزي چه په راتلونکې کښې وشي کړای چه خپل ژوند په خپله اداره کړي .د تیمو تیوس په نوم لومړۍ لیک ( ۵ : ۸ ) وایي: (( که څوک د خپلوانو او خاص د خپلې کورنۍ خیال نه ساتې نو هغه د خپل ایمان نه منکر او د بې ایمانانو نه هم بد دی ))

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۱)د تیموتیوس په نوم لومړۍ لیک (۵ : ۸ )په یاد زده کړی.

## د روحاني اړتیاوو پوره کول

خاوندان د اولادونو په تربيي او روزنه کښې شريک دي. د اولادونو اخلاقي او روحاني روزنه يواځې او يواځې د مور او پلار دژوندون په تعليم او د هغه د ژوند په نمونو پورې اړه لري. مخکې مو دې ته اشاره وکړه چه پلرونه بايدد خپلو اولادونو اود کورنۍ د نورو غړو لارښودنه په دعا او د خداى د کلام په لوستلو سره وکړي.

د تثنيي کتاب (٤: ٩) وايي: ((پخپله ډير زيات متوجه اوسۍ هسې نه چه هغه شيان هير کړۍ کوم چه په خپلو سترګو مو ليدلي دي. دا ټول شيان خپلو بچيانو او لمسيانو ته زده کړۍ.))

د روحاني تعليماتو ورکړه په کور کښې د پلار دنده ده. پولس په دې اړه د کورنتيانو کليساته اشاره وکړه.

د هغې ځاى ښځې د سړيو په اندازه تعليم يافته نه وې. کله به هغوۍ د وعظ په معنى نه پوهيدې او د خپلو خاوندانو څخه به يې د هغې په اړه تپوس کاوه. پولس دستور ورکړ چه هغوۍ دې په کليسا کښې غلې کيني او د غونډې څخه وروسته دې په خپلو کورونو کښې خپلې پوښتنې وکړي. (اول کورنتيان ١٤: ٣٥) ولولۍ.

د سليمان د مثالونو په کتاب کښې لولو چه بې ادبه او احمقه اولاد د پلار د نا آرامۍ او بدنامۍ سبب ګرځي( متلونه ١٩ :١٣ ) او هوښيار اولاد د پلار د خوشحالۍ او سرلوړۍ سبب ګرځي. ( متلونه ١٥ :٢٠ )

د پوه او هوښيار ځوی او بې ادبه او نا پوهه ځوی تر منځ فرق او واټن زياتره د هغې پالنې او او تربيې په څرنګولي کې نغښتی دی چه هغه ته ورکړل شوې ده .

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ**

**۱۲**) خاوندان د اولادونو په روزنه کښې څه مسئوليت لري ؟

**۱۳**) ددې لوست د موضوع ګانو سرټکې په ياد زده کړی ؟

**١٤**) د دوهم ځل لپاره دغه لوست مطالعه کړی او بيا خپل ځان ورسره مقايسه کړی. ايا په تاسو کښې د خاوندتوب دا وړتياوې موجودې دي ؟ آياپه ستاسو کې د خاوندتوب داغوره صفات موجود دي ؟ دعا وکړی چه خدای ستاسو د کورنۍ خاوند ته دا وس ورکړي چه خپل مسئولتونه په پوره ډول سر ته ورسوي .

**۱۵**) ټولو هغو خاوندانو ته دعا وکړی چه هغوی د خپلې کورنۍ د سمبالولو لپاره ستاسو دعا ته اړتيا لري.

## خپل ځوابونه ورسره مقايسه کړی

۱ـ د لرغونې انګليسي ژبې له دوو کلمو څخه جوړه شوې ده «کور» او « پيوند». ددې نه مطلب د کورنۍ هغه مشر دی چه د کورنۍ غړي سره راټولوي .

۲ـ آدم

۳ـ د يوه برکت په ډير چه د خدای له طرفه ورکړل شوی دی.

۵ـ په هغې اندازه چه د خپل ځان د ښه والي لپاره فکر کوی، بايد د خپلې ښځې د ښه والي لپاره هم سوچ وکړی. او په هغې اندازه چه د خپلو اړتياوو په پوره کولو کښې زيار باسی بايد د خپلې ښځې اړتياوې هم په پام کښې ولری

۶ـ خيال ساتل پاملرنه او درناوی

۷ـ د خپلې ښځې سره د بدې رويي په وسيله

۸ـ د خپلې ښځې پالنه او ساتنه

۹ـ چه نارينه بايد ټولې ښځې پريږدي او فقط له خپلې ښځې سره پاتې شي.

۱۰ـ القانه

۱۲ـهغه بايد د خدای په اړه هغوی ته تعليم ورکړي.

# یاداشت

## اتم لوست

# د ښځې دندې او مسئولیتونه

(( ایا دا سړی تاته د خپل د ژوند د ملګري په صفت قبول دی، څو دخدای د حکم سره سم، د واده په سپیڅلو شرایطو کښې ورسره ګډ ژوند وکړې ؟ ایا د هغه تابعداري به وکړې او په مینې او محبت سره به د هغه خدمت او درناوی پرځای کړې؟ د روغتیا او ناروغی په حالت کښې به د ده خیال و ساتې او پالنه به یې وکړې ؟ ایا دې ته چمتو یې چه د نورو خلکو په پرېښودلو سره، د ژوند تر پایه پورې ځان د هغه وګڼې ؟))(د کلیسایي واده د مراسمو څخه)

### هغه څه چه په دې لوست کښې به یې ولولی

- خاوند سره مینه او محبت
  - د هغه احترام او عزت
  - د هغه تابعداري
  - د هغه سره وفاداري
- د کورنی تود چاپیریال منځ ته راوړل
  - د کورني چارو سمبالول په ښه شان سره
  - په پخلي کښې برلاسی

خوشحاله او راضي کيدل

- د اولادونو سره مينه او د هغوی روزنه او پالنه
- يوه مثالي نمونه جوړيدل

پهٔ خبرو کښې

پهٔ کردار کښې

## دخاوند سره مينه او محبت

### د هغه احترام او عزت

که چيرې د خاوندانو څخه وپوښتل شي چه د ښځو تر ټولو مهمه دنده څه شی ده ؟نو د ډيرو ځواب په دا وي چه : " د خاوندانو څخه تابعداري ". البته د خدای کلام هم دا تعليم ورکوي چه ښځه دې بايد دخپل خاوند تابعداره وي. خو د باطني ميلان د درلودلو نه بغير به د خاوند تابعداري ډيره سخته وي. او دغه ميلان، خاوند سره د ښځې په مينې پورې تړاو لري.

مخکې مو ولوستل چه د خاوند ډيره مهمه دنده دا ده چه د خپلې ښځې سره د خپل ځان په شان مينه وکړي.

په همدا شان د ښځې لومړنۍ دنده هم دا ده چه د خپل خاوند او اولادونو سره مينه ولري.

د تيطوس په نوم د پولس ليک (۲: ٤) وايي: ((د دې لپاره چه ځوانو ښځو ته وښايي چه د خپلو خاوندانو او بچو سره مينه ولري. ))

همغه مطالب چه په تیر لوست کښې مو د ښځې سره د خاوند د محبت په اړه ولوستل، د خاوند سره د ښځې د مینې په باره کښې هم د منلو وړ دی.

لکه څنګه چه د خاوند دنده ده چه خپله ښځه د یوې کمزورې جنس په صفت وګڼې او د هغې درناوی او مینه ورسره وکړي، په همدې ډول ښځه هم باید خپل خاوند د یو قوي جنس په صفت او دکور د مشر او ساتونکي په صفت وګڼي او دهغه عزت او احترام وکړي البته د خاوند ژوند باید داسې وي چه د ښځې درناوی ځانله جلب کړي. خو حتي که خاوند ډیرې زیاتې غلطۍ هم وکړي، ښځه یې باید په دې خاطر احترام وکړي چه خاوند یې دی، او احترام یې لازمي دی.

د افسیانو په نوم لیک (۵ : ۳۳) وایي:(( بهر حال په تاسو کښې د هم هر یو د خپلې ښځې سره د خپل ځان په شان مینه کوي، او ښځه دې هم د دې خیال ساتي چه د خاوند عزت کوي. ))

ښځه کولای شي چه خپله مینه او درناوی خپل خاوند ته، په خپلو الفاظو او اعمالو سره ښکاره کړي.

د یو مسیحي ښځې او خاوند په ژوند کښې د ناجایزه او سپکو الفاظو استعمال هیڅ ځای نه لري. همدا راز د مقابل لوري د غلطیو پر وړاندې نیوکې او ناندرې باید له منځه لاړې شي. ښځه باید هیڅکله خپل خاوند ته سپکې سپورې ونه وایي او هیڅکله دې په هغې ملنډې ونه وهي. هغه باید د خپل خاوند غلطیانې خلکو ته ښکاره نه کړي. او همدا راز د نورو خلکو په مخ

کښې دې پر خپل خاوند باندې نیوکې ونه کړي اونه هم د هغه د سمولو هڅه دې وکړي.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱) د ښځې مهمه دنده څه شی دی ؟

۲) د تیطوس په نوم لیک ( ۲: ٤) په یاد زده کړی.

۳)ښځه څنګه کولای شي چه هغه خپل هغه درناوی چه خپل خاوند ته یې لري، هغه څرګند کړي ؟

## د هغه تابعداري

که چیرې یوه ښځه خپل خاوند د کورنی د مشر په حیث وپیژني او د هغه سره مینه او دهغه درناوی ولري نو د هغه تابعداري به هم کوي.

د کولوسیانو په نوم (۳ : ۱۸) کښې راغلي دي (( ای میرمنو! تاسو د خپلو خاوندانو تابعدارې اوسی چه دا ستاسو د ایماندارانو فرض دی. ))

د (( خاوند تابعداري )) هغه مهم ټکی دی چه د تیطوس په نوم لیک ( ۲: ٤ او ۵) کښې د ښځو د مسئولیتونو تر عنوان لاندې بیان شویده.

د کورنتیانو په نوم لومړی لیک (۱۱: ۳) وایي (( د هر سړي سر مسیح دی او د ښځې سر د هغې خاوند دی او د مسیح سر خدای دی. ))

د پطرس لومړی لیک (۳: ۱) وایي: (( ای ښځو! همدغه شان تاسو هم د خپلو خپلو خاوندانو تابع و اوسی ځکه که په هغوی کښې ځینې د خدای کلام نه مني، چه بیا هم ستاسو پاک چال چلن ته وګوري او د خدای کلام ته راواوړي . ))

د اِفسیانو په نوم لیک ( ۵ : ۲۲ ) هم همدا شی وایي: (( ای ښځو! دَ خپلو خاوندانو داسې تابعدارې و اوسی لکه چه د مالک خدای تابعداري کوی. ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

٤) د کولوسیانو په نوم لیک (۳ : ۱۸ ) په یاد زده کړی .

## دهغه سره وفا داري

ښځه هم د خاوند په شان دا لوړه کوي چه د واده څخه به وروسته نور خلک خوشې کوي. هغه باید خپلې دې لوړې ته وفا وکړي او همیشه باید خپل خاوند ته وفاداره پاتې شي. خدای به د زناکولو په خاطر ښځې او نر دواړو ته سزا ورکړي. ښځه او خاوند دواړه به دا قبلوي چه په مالداری او غریبی، ښه والي او بدوالي ،روغتیا او ناروغتیا کښې به د ژوند تر وروستی ورځې پورې سره یو ځای وي او ګډ ژوند به تیروي. حتی که په هغو شیبو کښې چه د هغوی

ټول ژوند د ستونزو څخه ډک هم وي ، هغوی باید دي ستونزو ته سر ټيټ نکړي او سره بيل نشي. د ډيرو ښځو صبر، پوهه او تشويقول ددې سبب شوی دی چه خاوندان يې د ژوند له ناخوالو سره مقابله وکړي او په سالمه توګه ورڅخه رابهر شي.

د مثالونو کتاب (۳۱ : ۱۰ _ ۳۱) د يوې ښې ښځې د ښې ګڼو په اړه ډير شيان ويلي دي. ښځې باید پاک لمنې وي. په بل عبارت هغوی باید يو سپيڅلی اخلاقي ژوند تير کړي. هغه باید ريښتونې، صادقه او دباور وړ وي. هغه باید په خپلو سوچونو کښې هم لکه د خپلو کړوړو په شان خپل خاوند ته وفاداره پاتې شي. هغه باید دا هڅه ونکړي چه د نورو سړيو پاملرنه د ځان خوا ته را واړوي.

څومره د خوشحالی ځای دی چه يو خاوند په خپلې ښځې باندې په پوره توګه باور ولري ،او په دې پوه شي چه هغه به په خپل ټول عمر کښې د هغې څخه ښه والی او خوشحالي ګوري.

د سليمان د مثالونو په کتاب ( ۳۱ : ۱۰ _ ۱۲ )کښې راغلي دي:

(( څوک کولای شي چه يوه ښه او نيکه ښځه پيدا کړي ؟ د ښې ښځې قيمت د ملغرلو او لعلونو څخه هم زيات دی . هغه د خپل خاوند د اعتماد وړ ده ..... او د ژوند په ټولو ورځو کښې به له خپل خاوند سره ښه کوي نه بدی.))

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ**

**٥)** ښځه او خاوند په نکاح او د واده کښې په کومو شرایطو او څه رنګه یو بل قبلوي ؟

## د کورنۍ تود چاپریال منځ ته راوړل

**د کورني چاروسمبالول په ښه شان سره**

د کور ساتنه او یو خوشحاله کورنې چاپریال منځ نه راوړل د ښځې دنده ده. د تیموتیوس په نوم لومړۍ لیک ( **٥ : ١٤**) وایي: (( نو زه دا غواړم چه ځوانې کونډې دې میړه وکړي چه د هغوی اولاد وشي او د کور انتظام دې کوي. ))

د کور ساتنه او د هغې اداره کول ډیر مشکل کار دی، خو که په ښه طریقه سر ته ورسول شي نو خاوند به همیشه کور ته په راتلو خوشحالیږي او له خپل کور سره مینه پیدا کوي . وختې خاوند کور ته راشي او وګوري چه کور څومره ناپاکه ده او هیڅ خواړه تیار نه دي، نو هغه ته داوسوسه پیدا کیږي چه نورو ځایونو ته چه خوندور چاپیریال لري مُخه کړي. البته ښځې نورې هیلې او غوښتنې هم لري خو د کور انتظام او سمبالول او هغه په ښه شان سره اداره کول ، دمهمو دندو له جملې څخه شمیرل کیږي. باید د کور څخه بهر هیڅ یو کار هم د کور څخه د ساتنې او پاملرنې د دندې ځای ونه نیسي .

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

٦) د ښځو لپاره تر ټولو څخه لویه زړه تړنه (علاقمندي) باید څه وي ؟

## په پخلي کښې برلاسۍ

یو مشهوره متل دی چه وایي ((د سړي د ګیډې له لیارې کولای شی چه د هغه زړه ته لار ومومی، یعنې هغه تر لاسه کړی.)) خاوندان د هغو ښځو قدردانی کوي څوک چه ښه خواړه تیاروي .هغه ښځه چه د ډول ډول خوراکونو په تیارولو کښې د هغې د زحمت په وجه لتې او سستي کوي نو وبه ګوري چه خاوند یې خوشحاله او راضي نه وي. د خپلو خاوندانو څخه ښه هرکلی کوی، او د راز راز خوراکونو پخول زده کړی.

د سلیمان د مثالونو کتاب (۳۱: ۱٤_۱٥) وایي: ((هغه (ښځه) د خوراک د تیارولو لپاره لیری ځایونو ته ځي، او سهار د وختي راپاڅیږي او خپلې کورنی ته خواړه تیاروي.))

ستاسو د کورنی روغتیا د خوراک په څرنګوالي پورې تړلې ده. له همدې کبله هڅه وکړی چه د هغوی د اړتیا وړ خوراک په مطالعه کولو سره، د هغې بودجې نه چه خوراک ته مو بیله کړې ده اعظمي استفاده وکړی.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**۷**) ددې متل څخه مقصد څه شی دی ‹‹ د سړي د ګیډې له لیارې کولای شی چه د هغه زړه ته لار ومومی او هغه ترلاسه کړی. ›› ؟

## خوشحاله او راضي کیدل

ممکن ښځې د خوارو په برابرولو کښې څه مالي محدودیتونه او ستونزې ولري، خو کله هم باید د خپل میړه د عاید څخه زیات مصرف ونکړي او کله هم باید دا شکایت ونکړي چه نورې ښځې زیاته اندازه بودجه په خپل واک کښې لري. په هغه څه چه خدای زمونږ په برخه کړي دي، قناعت او رضایت درلودل ډیر لوی فضیلت او بهتري لري.

په یاد ولری چه ښځه د سړي د مرستیالې په صف پیدا شوې ده. د مرستیال مقام ډیر مهم دی. تاسو کولای شی چه په زړه خوشحالوونکې خندا سره د خپل خاوند هرکلی وکړی او هغه ته سلام ورکړی.

که چیرې ټاکل شوې وي چه خاوند دې همیشه ستاسو ناندرې او ارتې واوري، نو واضیح خبره ده چه هغه به خوشحاله او خندانه نشي.

د سلیمان په مثالونو ( ۲۱ : ۹ ) کښې راغلي دي ‹‹ د بام په یوې څنډې کښې ژوندون د هغې ګډ ژوند څخه غوره ده چه د یوې جنجالی ښځې سره په یوه کور کښې تیریږي. ››

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ**

٨) ښځه څنګه کولای شي چه د يوې مرستيالې په څير خپله دنده پر مخ يوسي ؟

## يوه مثالي نمونه جوړيدل

**په خبرو کښې**

د ښځې د وينا طرز کولای شي چه د خاوند خوشحالي تر لاسه کړي او د هغو کسانو په منځ کښې چه هغوی پيژني يوه ډيره ښه نمونه يابيلګه جوړه شي. او همدا شان هغه کولای شي چه د هغو خلکو ژوند تريخ کړي کوم چه د هغې ګرد چاپيره او سيږي. هغه تيز آوازونه، بې ځايه چيغې، قهرجنې خبرې او ناندرې چه د هغې له خولې څخه راوځي، د کورنۍ د نورو غړو دنارامۍ او تحريک سبب ګرځي. هغه ماشومان چه په دا قسم نارو او اوازونو کښې لوئيږي، په خپلو ځانونو کښې ددې خبرې ډير استعداد لري چه په خپلو کورنيو کښې هم همدا ورته عمل وکړي.

د خدای کلام ښځو ته خبرداری ورکوي چه غيبت ونکړي او چټيات ونه وايي. په بل عبارت د نورو خلکو پسې په خبرو کولو سره د هغوی په ژوند کښې مداخله ونکړي. د بلې خواه د محبت ډک الفاظ چه د يوې مهربانې مور د خولې څخه راوځي ،د کورنۍ په نورو غړو باندې بې سارې اغيزه لري او د ځانه سره د خوشحالۍ زيرې راوړي. د مور دعاوې د کورنۍ د غړو لپاره هيڅکله بې ځوابه نه پاتې کيږي، بلکه قبليږي.

د سلیمان د مثالونو کتاب (۳۱: ۲٦) وایي: (( د هغې خبرې د حکمت څخه ډکې دي او په نصیحتونو کښې یې مینه او محبت نغښتې ده. ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۹) د سلیمان د مثالونو د کتابه څخه ( ۳۱: ۲٦ ) ایت له یاده زده کړی.

## په کردار کښې

د سلیمان د مثالونو په کتاب کښې لولو چه ښه ښځه باید سسته او تنبله نه وي. هغه د خپلې کورنۍ ساتنه کوي، هغوی ته خواړه پخوي. هغه اوبدل او ګنډل کوي. ټولې ښځې باید په هغه اندازه گنډل یې زده وي چه وشي کړای د خپلې کورنۍ د غړو جامې په ښه حالت کښې وساتي. که چیري یوه ښځه په ګنډلو کښې برلاسې وي نو کولای شي چه نوې جامې په ارزانه بیعه جوړې کړي .

د سلیمان د مثالونو کتاب(۳۱ : ۱۳ ، ۲۱_۲۲ او ۲۷) وایي: (( ښه ښځه به وړی او مالوچ اخلي او په خپلو لاسونو به یې اُوبي. هغه د واورې او یخنۍ پروا نه کوي ځکه د خپلې کورنۍ ټولو غړو ته یې تودې جامې اوبدلي دي. د خپل ځان لپاره هم د ښایسته ټوکرو څخه ښکلې جامې جوړوي. هغه لټې نه کوي، بلکه د خپلې کورنۍ اړتیاوو ته پاملرنه کوي. ))

د امثالو په کتاب کښې د هغو ښځو په اړوند هم لولو چه په کروندې کښې خواري کوي او د سوداګرۍ په چارو کښې هم کار کوي. البته دا د هغوی اصلي دنده نه ده، خو ځومره د خوشحالۍ ځای ده چه ښځه وشي کړای د خپلې کورنۍ چارې هسې سمبالې کړي چه د کورنۍ څخه بهر کارونو مجال هم ورته پیدا شي.

ښه ښځه مهربانه، هوښیاره او بخښونکې وي. هغه د بې وزلو او حاجتمندو سره تل مرسته کوي. خدای داسې ښځې ته قوت وربخښې او د هغې قدر کوي، ځکه د خدای ویره د هغې په زړه کښې ده او د خدای څخه اطاعت کوي. دا ډول د ښکلا د شکلي او ظاهري ښایست څخه ډیر ارزښت لري.

د سلیمان د مثالونو کتاب ( **۳۱: ۲۰** ، **۲٤** او **۲۵** ) وایي: (( ښه ښځه د بې وزلو او محتاجو خلکو سره په خلاص زړه او اوږد لاس مرسته کوي . هغه جامې او کمربند جوړوي او هغه په سوداګرو خرڅوي . .... هغه یوه غښتلې او باوقاره ښځه ده او د راتلونکې څخه ویره نه لري. )) همدا راز په بل ځای کښې وئیل شوي.

(( ښکلا غولوونکې ده او ښایست ته پایښت نشته. مګر هغه ښځه چه د خدای څخه ویریږي هغه ښکلې او د ستاینې وړ ده. )) د سلیمان د مثالونو کتاب (**۳۱: ۳۰** ) څخه .

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**۱۰**) د سلیمان د مثالونو د کتاب څخه (**۳۱: ۳۰**) په یاد زده کړی.

**۱۱**)ځینې هغه ښه صفتونه چه د یوې ښې ښځې په باره کښې د سلیمان د مثالونو د کتاب په یو دیرشم باب کښې ذکر شوي دي، بیان کړی ؟

## د اولادونو سره مینه او دهغوی روزنه او پالنه

ښځه د اولادونو په تعلیم او تربیې، او هغوی سره په مینه کښې یوه ځانګړې دنده لري. ځکه هغه د خاوند په پرتله د اولادونو سره ډیر وخت تیروي. پولس رسول وایي چه د تیموتیوس ایمان د هغې د مور او نیا د تعلیماتو په نتجې کښې منځ ته راغلې وه. (تیموتیوس په نامه د پولس دوهم لیک ۱ : ۵ ) د حنا مینه د خدای سره ددې با عث شوه چه هغه خپل ځوی د خدای د خدمت لپاره وقف کړي. د موسی د مور مناسب او پر ځای تعلیمات د هغه د کوچنیوالي په دوره کښې، ددې سبب شول چه موسی د ځوانی په وخت کښې و کولای شول چه د خدای د فرمانبرداری په باره کښې یو ښه تصمیم ونیسي.

هغه ښځه چه ددې ټولو خویونو او ښو شرایطو خاونده وي، ډیره عزتمنده شمیرل کیږي.

دسلیمان د مثالونو کتاب (۳۱ : ۲۸ ) وایي: ((ښه ښځه هغه ده چه اولادونه یې هغه ستایي او خاوند یې دهغې صفت کوي. ))

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**۱۲**) د سلیمان د مثالونو کتاب څخه ( **۳۱ : ۲۸**) له یاده زده کړی.

**۱۳** ) دعا وکړئ چه خدای ستاسو ټولو- لوڼو او ښځو سره مرسته وکړي، څو هر یوه د ښې ښځې یوه داسې مثالي نمونه جوړه شی چه د سلیمان د مثالونو د کتاب په یودیرشم باب کښې یې صفت ذکر شوی دی.

**۱٤**) که چیرې تاسو( لوستونکی) ښځه یې، نو ځان ددې کتاب له ټکو سره ورته کړئ. د خدای څخه وغواړئ چه د هغو ټکو په تقویې او سمون کښې ستاسو مدد وکړي کومو کښې چه تاسو کمزوره یې.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

**۱**ـ د خاوند سره مینه کول او د هغې تابعداری

**۳**ـ د ویلو او عمل په وسیله

**۵**ـ په مالدارۍ او بې وزلۍ، ښه والي او بدوالي، ناروغۍ او سلامتۍ او د عمر تر پایه پورې سره یو ځای واو سي.

**٦**ـ د کور اداره کول او دهغې حفاظت

**۷**ـ خاوند د هغې ښځې درناوی کوي چه ښه خوارړه ورته برابر کړي.

**۸**ـ د ښادۍ ، خوشحالۍ او قناعت په وسیله

**۱۱**ـ هغه پاک لمنه او کاریګره ده، هغه په پوهې او حکمت سره خبرې کوي او د خدای څخه ویره کوي .

## نهم لوست

# د مور او پلار دندې اومسئولیتونه

## هغه څه چه په دې لوست کښې به یې ولولې

- د خپلو اولادونو سره محبت
- د مادی اړتیاوو پوره کول

  کور یا د اوسیدو ځای
- کالي او خواړه
- د اولادونو ښوونه او روزنه

  ښوونځی

  کورنۍ تربیه

  د اولادونو د تیروتنو سمول
- د روحاني اړتیاوو پوره کول

  خدای ته د اولادونو وړاندې کول

  د خدای د کلام د اصولو په مطابق روزنه او تربیه

  په کلیسا کښې حاضریدل

  کورنۍ عبادت او دعا

«خدای د یو ماشوم ژوند لپاره یو هدف ټاکلی دی. ددې هدف موندل او په هغې پوهیدل او بیا د هغې سره سم ژوند تیرول د بریالیتوب په معنی ده. مګر ددې هدف ردول او ځان پرې نه پوهول، حتی که په دنیاوي ژوندون کښې هم کامیابۍ درته په لاس درشي خو په حقیقت کښې هغه ناکامی او ماتې ده. او دا دویاړ څخه ډکه دنده ستاسو په برخه ده چه خپل اولادونه په داسې ډول وروزئ چه د خدای اراده د خپل ژوندون ډیر مهم هدف وګڼي. تاسو باید همدا اوس په نن ورځ خپل ځان دغې ویاړلې دندې ته وقف کړئ، او خپل اولادونه هم ددې پاک او سپیڅلي هدف ته د رسیدلو لپاره تیار کړئ.»

## د خپلواولادونو سره محبت

خدای په پوره اعتماد سره اولادونه مور او پلار ته سپاري. باید دا مسئولیت په بې اعتناعۍ او لاپروایئ سره قبول نشي. هغه غواړي چه مور او پلار دې په ډیره ښه توګه د خپلو بچیانو ساتنه او څارنه وکړي.

د اولادونو سره مینه حتی د زیږدلو نه مخکې هم، د هغې کړنلارې او رویې د څرنګوالی په وسیله پیدا کیږي کومه چه مور او پلار یي د خپلو اولادونو سره لري. مور او پلار باید د بچی درلودلو ته لیواله وي او دا دخدای له جانبه یو فضل او برکت وګڼي. د ماشوم نجلۍ توب او یا هلک توب باید د هغوی په مینې کښې څه اغیزه ونکړي.

زبور( **۱۲۷ : ۳** ) وايي: (( اولادونه د خدای ډالۍ او دهغه میراث دی چه انسان ته یي وربخښي. ))

ماشومان د ښې ودې او سلامتۍ لپاره، مینې ته اړتیا لري . له همدې کبله باید په غیرې کښې ونیول شي، د هغوی سره لوبې وکړای شي او پریښودل شي چه دا احساس کړي چه تاسو ورسره مینه لرۍ، څو په دې وسیله هغوی خپل ژوندون لپاره یو ښه پیل ولري.

که چیرې خپلو بچو سره مینه لرۍ نو په ډیره خوشحالۍ سره به دهغوی د ساتنې او روزنې ذمه واري په خپله غاړه واخلۍ. مور او پلار مکلف دي چه خپلو اولادونو ته د خواړو، کالیو، کورنۍ روزنې او پالنې، تعلیم او روحانی زده کړو د برابرولو انتظام وکړي. غالباً ستاسو مینه د خپلو بچو سره به ددې سبب شي چه د هغوی د ضرورتونو د پوره کولو لپاره له خپل ارام څخه سترګې پټې کړۍ او هغه شاه ته واچوۍ، دا کار به ستاسو صبر، حوصله او پوهه قوي کړي، او تاسو به وهڅوي چه په دعا سره د مالک خدای حضور ته لاړ شۍ او د دوی د نیکمرغۍ لپاره دعا وکړۍ، او دا کار به تاسو سره مرسته هم وکړي چه د خپل آسمانی پلار د هغې مینې قدرداني وکړۍ کوم چه له تاسو سره یي لري. او بلاخره له تاسو سره به مرسته وکړي چه په زیاته اندازه د عیسی مسیح سره شباهت او ورته والۍ پیدا کړۍ.

د افسیانو په نوم لیک ( **۵ : ۱ـ۲** ) وایي: (( ای د خدای ګرانو بچو! کوَشش کوی چه د هغه په څیر لاړ شۍ او داسې مینه کوی لکه

چه مسیح تاسو سره وکړله او زمونږ لپاره يي ځان د خوشبوۍ په شان خدای ته نذرانه کړ و او قربان شو.»

مور او پلار باید دي ته متوجه اوسي چه د اولادونو تر منځ د مینې په ښودلو کښې کوم فرق یا تبعیض رامنځ ته نکړي. ځکه چه دغه کار د اولادونو تر منځ د کینې او نورو شخړو د پیدا کیدو سبب ګرځي.

د خدای په کلام کښې لولو چه د یوسف پلار یعقوب، د هغه سره د نورو اولادونو په پرتله زیاته مینه کوله نو نتجه داورونه یې یوسف د یو مرئي په توګه وپلوري. په خاصه توګه دا ټکی باید د دوهم ماشوم د زیږیدو پر محال تر کلکې پاملرنې لاندې ونیول شي. نورو بچو ته هم دا موقع ورکړۍ څو ثابته کړي چه له هغوۍ سره هم د نوي زیږیدلي ماشوم په څیر مینه لرۍ.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱) د مور او پلار ډیره مهمه دنده د خپلو بچو په اړوند څه ده ؟

۲) زبور (۱۲۷: ۳ ) او اِفِسیانو په نوم لیک (۵ : ۱_۲) له یاده زده کړۍ.

۳) د یعقوب غلطي څه وه ؟

# د مادي اړتیاوو پوره کول

## کور یا د اوسیدو ځای

ښه مور او پلار په دې تکل کښې وي چه د خپلو اولادونو لپاره یو ښه استوګنځی برابر کړي. ممکن دا کور یوه ساده جونګړه وي خو په عین حال کښې باید پاکه، نیکمرغه او ارامه وي.

ځینې میندې او پلرونه عادتاً خپل اولادونه د انا او نیکه او یا نورو خپلوانو کورونو ته د ژوند د تیرولو لپاره استوي. خو هغوی ته د کور برابرول یواځې او یواځې د مور او پلار دنده ده. ممکن دا خپلوان په صحیح مسیحي روزنې کښې برلاسی نه وي او یا ونشي کړای ستاسو په شان مینه هغوی ته ورکړي.

کله کله ځینې میندې او پلرونه په زوره خپل اولادونه په هغه ښوونځیو کښې داخلوي چه هلته د لیلې امکانات وي، خو باید د کور څخه لیریوالی د اوږدې مودې لپاره نه وي. اولادونه مور او پلار ته اړتیا لري او د کورنی محبت او پالنې څخه د خوند اخیستلو لپاره باید په خپل کور کښې د مور او پلار سره یو ځای ژوند وکړي.

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

٤) د خپلوانو کورنو ته د اولادونو لیږل د ژوند د تیرولو لپاره کومې ستونزې منځ ته راوړي ؟

## کالي او خواړه

ښه مور او پلار زيار باسي چه اولادونه يي ښه او راحت بخښه کالي ولري او په عين حال کښې ښه خوراک ورته ورکړای شي . مور بايد تل هڅه وکړي چه بچې يي با ادبه، ارام او پاک و اوسي . بچو لپاره د مناسبو خوړو برابرول د مور او پلار د مهمو دندو او مسئولتونو څخه شميرل کيږي. د هغوی بدن ميوې، شيدو، ترکاريو او هغه خوراک ته اړتيا لري چه پکښې طاقت وي لکه دانې ( حبوبات )، غوښه، کبان او د چرګې هګۍ. ډير غوړ خوراکونه د روغتيا لپاره ښه نه وي .

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

۵) اولادونه کوم ډول خواړو ته اړتيالري ؟

٦) د دوه ډوله هغه خواړو نومونه واخلۍ چه د وجود د ودې لپاره ګټور وي ؟

## د اولادونو ښوونه او روزنه

### ښونځۍ

په اوسني دور کښې د لوړو زده کړو دسرته رسولو نه بغير ديو ښه کار د موندلو امکان هم نشته. البته د کوچنيانو ليږل ښونځۍ ته د مالي مصرف غوښتنه کوي، خو دا کار د مور او پلار د دندو

یوه اساسي برخه ده. مور او پلار باید خپلو بچپانو ته د لوړو زده کړو لاژم شرایط برابر کړي ترڅو په راتلونکې کښې هغوی هم د خپل د ژوند د ادره کولو وس ولري .

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**۷** ) یو دلیل ذکر کړی چه ولې باید مور او پلار خپل کوچنیان ښونځی ته ولیږي .

## کورنۍ تربیه او روزنه

ښونځی او کلیساوې د اولادونو د تربیي لپاره ګټور دي. خو هیڅ شی نشي کولای د هغې تربیي او روزنې څخه مهمه وي کوم چه ماشوم یي په کورنۍ کښې تر لاسه کوي، او یا د مور او پلار له خواه ماشومانو ته ورکول کیږي .

د سلیمان د امثالو د کتاب په (۲۲ :۶) کښې راغلي دي: ((ماشومان په هغه لار کښې چه باید روان شي، وروزی او هغه به د عمر تر پایه پورې د هغې څخه وانهوړي. ))

دا ښوونه او روزنه باید دکوچنیوالی څخه پیل شي. یو ماشوم په شپږکلنۍ کښې ډیر هغه عادتونه زده کوي کوم چه د عمر تر پایه پورې به د هغې لپاره ګټور وي.

مور او پلار باید خپلو بچو ته تعلیم ورکړي چه د خپل بدن ساتنه وکړي او د ځینو ناوړه عادتونو لکه د تنبکو او نورو نشئه یي توکو استعمال ،دشرابو څښل او داسې نورو کارونو څخه ځانونه لیری

وساتي. اولادونه باید دا زده کړي چه منظم او پاک واوسي. همیشه باید حمام وکړي او د ډوډۍ خوړلو څخه مخکې باید خپل لاسونه پریوینځي، خپل ویښتان ږمنځ کړي، خپل غاښونه په برس یا مسواک پریوینځي او د خپلو کالیو په صفایي کښې پوره کوښښ وکړي. په ټولو دغو کارونو کښې د مور او پلار عملي نمونې د هغوی د ویناوو په پرتله ډیر تاثیر لري او د کوچنیانو په روزنه کښې اغیزمن دي.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۸) د اولادونو روزنه باید د کوم وخت څخه پیل شي؟

۹) د سلیمان د مثالونو د کتاب څخه (۲۲: ٦) له یاده زده کړی.

## د اولادونو د تیروتنو سمول

د سهوې او غلطۍ په وخت کښې مور او پلار د اولادونو د اصلاح کولو مکلفیت لري. دا د تعلیم او تربیې یو اساسي ټکی دی. په دې نړۍ کښې دژوندون په خاطر او د همیشونې ژوند لپاره باید ددې برخې په کارولو کښې غفلت ونشي.

ټول اولادونه چه په خاصو حالاتو او ځایونو کښې د مور او پلار نافرماني کوي باید اصلاح شي. کله کله د جدیت د ښودلو په خاطر لازمه ده چه اولادونو ته سزا ورکړای شي. که چیرې کوچنیان د مور او پلار داحترام او فرمانبرداری طریقه زده کړي، نو په راتلونکې

کښې به ورته دخپل دولت د قوانینو احترام او د الهې لارښوونو تابعداري ډیره اسانه وي.

دسلیمان د مثالونو کتاب (۲۲ : ۱۵) وایي: «ناپوهي او بی عقلي د کوچنیانو په زړه کښې نغښتې ده، مګر د ادب لښته به هغه د هغوی د زړونو څخه لیرې کړي.»

باید دې ټکی ته پاملرنه وشي چه ماشومانو ته سزاورکول باید د مینې او اخلاص سره یوځای وي. د سزا ورکولو په علت هغوی وپوهوی. هغوی ته دعا وکړی چه خدای ورسره په فرمانبرداری او ښه والي کښې مرسته وکړی. هیڅ وخت خپلو اولادونو ته د غصې په حالت کښې سزا ورنکړی. او ډیر پام وکړی چه ستاسو سزاورکول هغوی ته کوم زیان ونه رسوي. د سزا ورکولو نه پس هغوی ته و ښیئ چه لاتر اوسه هم له هغوی سره مینه لری او هغوی ته معافې ورکوی. ځکه هغوی دغه ډاډ او اطمینان ته ډیره اړتیا لري.

دافِسیانو په نوم لیک (٦ : ٤) وایي: «او ای پلارانو! تاسو خپلو بچو تهَ غصه مه ورولی بلکه د مالک په طریقه هغوی ته تربیت او نصیحت کوی او پرورش یې کوی.»

ځینې میندې او پلرونه وایي چه د خپلو اولادونو سره ددوی مینه دومره زیاته ده چه نشی کولای هغوی ته د غلطیو په وجه سزا ورکړي. نو له همدې کبله هغوی د قوانینو د احترام او فرمانبرداری د یادولو نه بغیر لوئیږي. داسې مینه او آزادي، کوچنیان دې ته هڅوي چه د خدای پر وړاندې هم قانون ماتوونکې او یاغیان شي. داسې کړه وړه ددې سبب ګرځې چه هغوی جنایت کاران شي او په زندانونو کښې پریوځي او د جسماني مرګ څخه

وروسته دخپلو ګناهونو په خاطر خپله ابدي سزا هم وزغمي. حقیقي مینه دا ده چه ماشومان دې د ضرورت پر وخت اصلاح کړای شي.

د سلیمان د مثالونو کتاب (۱۳ : ۲٤ ) وایي: (( څوک چه خپل اولاد ته سزا نه ورکوي په حقیقت کښې له هغه سره مینه نه لري، خو په هغه چا چه خپل اولاد ګران وي، هغه کله هم د هغه په تادیب کښې سستي نه کوي .))

همدا رنګه د سلیمان د مثالونو د کتاب په بل ځای کښې ( ۲۹ : ۱۵ ) راغلي دي: (( د اولاد د تربیې لپاره د ادب لښتې او سزا ته اړتیا ده، خو هغه اولاد چه واګي یي پرانیستل شوي وي او سزا ورنکړې هغه د خپلې مور د شرمندګۍ سبب ګرځي. ))

د خدای کلام د هغو دوو تنو خدای پیژندونکو په اړه خبرې کوي چه د خپلو بچیو د اصلاح څخه یي ډډه کړې وه. هم عیلی او هم داود د خپلو بچو د تربیي په وجه خجالته، رسوا او غمځپلی شول . نو له همدې کبله یواځې ستاسو ښه والی کافي نه دی بلکه خپل اولادونه هم باید سمې لارې ته راوکاږی او ښه تعلیم نه یي برخمند کړی .

عیلی واقعاً د خدای یو ریښتینی خدمتګار وو مګر اولادونه یي ښه خلک نه وو . هغوی د خدای په کور کښې رسوایي رامنځ ته کړه . خدای عیلی ته ووئیل چه د خپلو اولادونو په نه اصلاح کولو کښې یي سخته غلطي کړې ده. اول سموئیل (۳ : ۱۳ )وایي: (( .... ځکه د هغه ځامن زما په حق کښې ګناه کوي او هغه سره ددې چه د

هغوی له ګناه څخه خبر دی، خو هغوی له دې کاره څخه نه منع کوي.»

ادونیا، د داود ځوی، هم هڅه وکړه چه د خپل پلاره څخه پادشاهي ونیسي. د خپلو شخصی خواهشاتو پوره کولو ته میلان ددې سبب شو چه ادونیا په بوګنوونکې توګه مړ شي. ولې کیدای شي چه داود اصلي ګرم (ملامت) و ګڼلی شي، ځکه چه هغه دا کوښښ ونه کړ چه ادونیا ته په ماشومتوب کښې ادب زده کړي او د هغه غلطۍ اصلاح کړي. لومړی پادشاهان (۱:٦) په دې هکله وايي: «.....او پلار يي هغه د عمر تر وروستۍ شیبې پورې نه ؤ ملامته کړئ او د هیڅ کار لپاره يي ورته څه نه ؤ ویلې.»

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۰) کله چه اولادونو څخه څه غلطي او ګناه وشي نو هغوی څه شي ته اړتیا لري؟

۱۱) د خدای د کلامه څخه د دوو هغو کسانو نومونه واخلئ چه اولادونه يي په کوچنیوالي کښې نه وو اصلاح شوي او بیا وروسته په ډیرو لویو جرمونو او ګناهونو ککړ شول.

# د روحانی اړتیاوو پوره کول

### خدای ته د اولادونو وړاندې کول

مسیحي میندې او پلرونه دا ویاړ لري چه خپل اولادونه خدای ته وړاندې کړي او د هغه د خدمت لپاره يي وقف کړي. هغوی ماشوم

د خدای کور ته بیایي او ددې حقیقت په پوهیدو سره چه دا د خدای سوغات دی وعده ورکوي چه د خدای د ارادې سره سم به د هغه سره مرسته کوي. د کلیسا پالونکی( مشر) کوچنی ماشوم خدای ته وړاندې کوي او بیا د دعا په ترځ کښې د هغې لپاره د خدای ساتنه ،پالنه او برکتونه غواړي. په دغه ځای کښې مور او پلار د خدای سره یوه ځانګړې ژمنه او لوظ کوي چه دوی به خپل اولاد د خدای د کلام د لارښونو سره سم تربیه کوي. خدای هم دمور او پلار سره په دې کار کښې مرسته او مدد کوي. خدای همدا راز ماشوم ته په برکت ورکولو سره د هغه ساتنه هم کوي .

اول سموئیل (۱ : ۲۷ او ۲۸ ) کې راغلې دي چه: ((د خدای څخه مې غوښتنه وکړه چه ماته ځوی راکړي. هغه زما دعا قبوله کړه او دا ځوی یې راته راکړ .اوس زه هغه خدای ته وړاندې کوم چه خپل ټول عمر د خدای په خدمت کښې تیر کړي .))

لوقا ( ۲ : ۲۲ ) وایي: (( او د موسی د شریعت په مطابق چه د هغوی د پاکیدو ورځې پوره شوې نو بیت المقدس ته یې بوتللو چه رب ته یې پیش کړي. ))

دا بیان د عیسی مسیح په هکله ده چه هغه په کوچنیتوب کښې دخدای لپاره وقف شو.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۲)خدای د هغه بچي لپاره چه هغه ته وړاندې شوی وي څه تر سره کوي ؟

## د خدای د کلام د اصولو په مطابق روزنه او تربيه

که د اولادونو چمتو کول په دې دنيا کښې د يو ښه ژوند د تيرولو لپاره دومره د ارزښت وړ ده نو د هغې دنيا لپاره به د هغوی چمتو کول څومره د ارزښت وړ وي. په دې دنيا کښې ژوند د يو څه محدودې مودې څخه زيات نه دی. مګر د مرګ څخه وروسته ژوندون په جنت او يا په دوزخ کښې هميشونی او تل پاتې دی.

د يو پلار يا مور په صفت ايا غواړی چه اولادونه مو داسې وروزی چه ښه راتلونکې او روښانه مستقبل ولري ؟ نو بيا تاسو بايد هغوی ته د جنت لاره هم وروښيی. هغوی ته د خدای د کلام په تعليم ورکولو سره د خدای لپاره د ژوند کولو طرز هم ورزده کړی. په داسې حال کښې چه مالک عيسی مسيح د خپل ژغورونکي په صفت قبلوي، او د هغه د محبت طريقه او د خدای فرمانبرداري زده کړي نو بيا هغوی د هميشونی عالي ژوندون لپاره تياريږي.

ممکن دا فکر وکړی چه ماشومان ددې موضوع د پوهيدلو جوګه نه دي .خو هغوی ناوړه او شرارتباره کارونه ډير ژر زده کولی شي. نو په دې اساس د خدای د کلام تعليم هغوی لپاره ډير ضروري ده.

دتثنيې د کتاب(٤: ١٠) وايي:((.... اوزما دستورونه خپلو ماشومانو ته ورزده کړي. ))

د تثنيې د کتاب په بل ځای کښې (٣١ : ١٣ ) راغلی دي : (( .... ترڅو ستاسو بچيان چه په دې قوانينو اشنا نه دي، هغه واوري او

زده یې کړي ........ ترڅو چه ژوندي دي ، د خدای درناوی دې وکړي. »

د مور او پلار د ژوند عملي نمونه په اولادونو باندې د هغوی د ویناوو څخه زیات تاثیر لري. تاسو باید د خدای لپاره د ژوند کولو طریقه خپلو ماشومانو ته زده کړی. که چیرې هغوی متوجه شي چه تاسو د خدای د کلام د لارښونو سره سم ژوند تیروی، نو په قوي احتمال سره به هغوی هم د خپل د ودې په دوران کښې مسیح ته دقدر په سترګو وګوری او د هغه تابعداري وکړي.

دسلیمان د مثالونو کتاب ( ٤ : ١٠_ ١١ ) وایي: « ای زما ځویه واوره او زما خبرې ومنه چه عمر دې په کلونو کلونو زیات شي. ما تاته د حکمت او عقلمندی لار درښودلې ده او د حکمت او ریښتینولی لارته مې رهبري کړی یي. »

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

١٣) د مرګ څخه وروسته ژوندون لپاره د اولادونو چمتو کول ولې اهمیت لري ؟

١٤) خدای غواړي چه مور او تلار باید د کوم شي تعلیم خپلو زامنو ته ورکړي ؟

## په کلیسا کښې حاضریدل

مور او پلار باید خپل اولادونه کلیسا ته بوځي. د مسیح مور او پلار ( مریم او یوسف ) هغه په کوچنیوالې کښې د خدای کور ته

يووړ او خدای ته يي وړاندې کړ. او په هغه وخت کښې چه عيسی مسيح لوی شو نو د خدای خدمت ته يي دوام ورکړ. خو تر څو چه هغه لوی شوی نه ؤ، د هغه مور او پلار به هغه د خدای کور ته بوتلو او دې کار ته به يي دوام ورکولو او خدای ته به يي وړاندې کولو.

که چيرې خپل اولادونه د کليسا د غونډو په وخت کښې په کورونو کښې پريږدی ، نو تاسو به په خپله د هغوی د بې لاريتوب سبب شی . همدا رنګه په کورونو کښې ستاسو پاتې کيدل، کله چه اولادونه مو کليسا ته ځي هم يوه غټه غلطی ده. اولادونه دمور او پلار دشوق کموالي ته په متوجه کيدو سره پخپله هم د هغوی څخه پيروي کوي. نو په کليسا کښې د کورنی د ټولو غړو شته والی ډير ضروري وي.

د يوشع کتاب (**۲٤:۱۵**) وايي: (( ..... زه او زما کورنی به د خدای څخه پيروي وکړو. ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

**۱۵**) مور او پلار په کليسا کښې د خپلو اولادونو د شته والی په اړه څه بايد وکړي ؟

## کورنی عبادت او دعا

په کورني عبادت کښې مور او پلار خپل اولادونه د مالک خدای لارښودنو ته په رهبري کولو سره هغوی ته د دعا کولو طريقه

ور زده کوي. همدا رنګه مور او پلار ته دا دنده ورپه غاړه ده چه تر ځو ژوندي دي د خپلواولادونو سره یوځای دعا وکړي.

تاسو کولای شی چه خپل اولادونه مالک خدای ته وسپاری، او په دې یقین ولری چه هغه به د هغوی ساتنه او څارنه کوي او هغوی ته به خلاصون ورکوي. ممکن کله په نااميدی سره د ناکامی احساس وکړی. ممکن اولادونه مو د صحیح لارې څخه بې لارې شي، مګر خدای به ستاسو دعاګانو ته لبیک ووایي او هغه به قبولې کړي. هغه به له تاسو سره مدد وکړي څو ښه مور او پلار جوړ شی او ستاسو اولادونو سره به هم مدد وکړي چه په سمې لارې کښې روان شي او د خدای څخه پیروي وکړي.

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**١٦** ) د خپل مور او پلار، دوستانو او نږدې خپلوانو لپاره دعا وکړی تر څو خدای د هغو سره مرسته وکړي.

**١٧** ) ایا فکر کوی چه ددې سلسلې لوستل به ستا سو ځینو دوستانو لپاره ګټور وي ؟ په اړه له هغوی سره خبرې وکړی او هغوی وهڅوی چه ددې درس څخه ګټه پورته کړي.

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړی

١_ د اولادونو سره محبت

۳ ـ د يوسف سره يې د خپلو نورو ځامنو په پرتله زياته مينه کوله .

٤ ـ کيدای شي دا کسان مسيحيان نه وي او ستاسو بچو ته صحيح تعليم ورنکړي .

۵ ـ ښه او ګټور خواړه لکه تازه ميوه، سبزيانې، غوښې، کبان، شيدې، هګۍ او داسې نور.

٦ ـ غلې دانې، غوښه، کبان او هګۍ.

۷ ـ د ښه تعليم په نشتوالي سره اولادونه به قادره نه وي چه په راتلونکې کښې يو ښه او مناسب کار ځانله پيدا کړي .

۸ ـ د کوچنيوالی د دورې څخه

۱۰ـ سزا ، تاديب

۱۱ ـ عيلی او داود

۱۲ ـ خدای بچي ته په برکت ورکولو سره د هغې پالنه او څارنه کوي.

۱۳ ـ ځکه چه ډيره اوږده موده بايد په هغې دنيا کښې تيره کړي .

۱٤ـ د خدای د کلام

۱۵ـ مور او پلار او اولادونه بايد په ګډه سره کليسا ته لاړ شي.

# یاداشت

## لسم لوست

# د اولادونو دندې او مسئو ليتونه

### هغه څه چه تاسو به يي په دې لوست کښې ولولۍ

- د مور او پلار خيال ساتل، احترام او فرمانبرداری

ځکه چه دا دخدای حکم دی

د خپلو اولادونو سره د مينې اودهغوی د پاملرنې په خاطر

د مور او پلار سره د مينې په خاطر

- د مور او پلار سره مرسته

په کور کښې مرسته

د زړو ميندو او پلرونو څخه پاملرنه

- د خدای سره مينه، د هغه احترام او فرمانبرداری

د ژغورونکې په صفت د مسيح منل

د خدای عبادت

د خدای اولویت او لومړیتوب په ټولو مسائلو

# د مور او پلار خیال ساتل، احترام او فرمانبرداری

## ځکه دا دخدای حکم دی

د هغو لسو حکمونو څخه چه د خدای په واسطه رالیږل شوې وو، یو په اولادونو پورې اړه لري،او هغه هم یوائینی حکم دی چه په وعدې سره بدرګه شوی دی او همدا کار د هغه اهمیت څرګندوي.

د خروج کتاب (۲۰ : ۱۲ ) وایي: (( دخپل مور او پلار عزت کوی ترڅو په هغه ټاټوبي کښې چه خدای به یي تاسو ته وبخښي، اوږد عمر وکړی. ))

عیسی مسیح دغه فرمان تکرار کړ. پولس رسول هم په خپلو تعالیمو کښې هغې ته اشاره کړې ده.

متی (۱۵ :٤ )وایي: ((د خپل پلار او مور عزت کوی. ))

د افسیانو په نوم لیک (٦ : ۱_۳ ) وایي: (( ای بچو! ایماندارانو ته پکار دي چه د خپل مور او پلار حکم ومني، ځکه چه دا ښه کار دی. " د خپل پلار او خپلې مور عزت کوی. " دا اول حکم دی چه دا لوظ ورسره دی چه " ستاسو پکښې خیر دی او په مځکه به دې عمر ډیر شي ". ))

اولادونه د مور او پلار د فرمانبرداری او خیال ساتنې په وسیله خپل درناوی هغوی ته څرګندوي. ایا تر اوسه پورې مو د هغو

اولادونو د خبرو طرز ته غوږ نیولی ځوک چه په بې احترامۍ د مور او پلار سره خبرې کوي ؟ د هغو کسانو الفاظ چه د مور او پلار په مقابل کښې د کرکې څخه ډک دي .یا داسې کسان مو لیدلي چه د مور او پلار د غوښتنو د پوره کولو څخه ډډه کوي ؟

ایا دې ته مو پام کړی دی چه کله کله د اولادونو رفتار داسې وي چه ګنې هغوی هیڅ د مور او پلار غږ نه وي اوریدلې ؟ او کله چه مور او پلار د هغوی د اصلاح کولو په لټه کښې شي نو هغوی ورسره په شخړو او دعوی لاس پورې کړي ؟ که چیرې د اولاد کړه وړه داسې وي نو په دې پوه شي چه د لسو حکمونو څخه یي یو حکم مات کړی دی.

د زړې لوظنامې په دور کښې د مور او پلار نا فرماني ډیره لویه ګناه شمیرل کیده. که چیرې یو ځوان د خدای د حکمونو څخه یي سر غړونه کوله او د خپل مور او پلار بې عزتي یي کوله نو ډیر امکان وو چه هغه ته دې د مرګ سزا ورکړای شي. په دې توګه دهغه وخت حکومت د بې قانونۍ او نافرمانۍ د خپریدو مخه نیوله کومه چه به د ټولنې د خرابیدو سبب جوړیده.

که چیرې ټول اولادونه خپل مور او پلار درناوی او دهغوی فرمانبرداري وکړي، نو د قانون ماتوونکو او جنایتکارانو شمیره به ډیره کمه شي. هغه ځوی چه غواړي خپل مور او پلار راضي وګوري، په خپلو ټولو کارونو کښې ژور فکر کوي او د خپلې ټولنې یو ګټور او قانوني شخصیت به ترې جوړ شي. مګر د هغه اولادونو څخه چه د خپل مور او پلار احترام نکوي نشو کولای چه دا تمه

ولرو چه نورو ته به احترام وکړي. داسې اولادونه به تل د خپل د مور او پلار د خواشینۍ سبب ګرځي .

د سلیمان د مثالونو کتاب ( ۱۰ : ۱ ) وايي: (( هوښیار ځوی خپل پلار خوشحالوي او نادانه ځوی د مور دغم او خفګان سبب ګرځي. ))

د خدای د کلام او د دولتي قوانینو په مطابق کوچنیان باید د قانوني عمر ته تر رسیدو پورې د خپل د مور او پلار تر اختیار او اجازې لاندې وي. یعنې دا چه مور او پلار کولای شي چه تاسو ته دستور درکړي او د هغه د اطاعت تمه هم ولري. د قانوني عمر ته د رسیدو پس هم باید د هغې درناوی وکړی او هغوی سره مؤدبانه سلوک وکړی او نصیحتونو ته یي غوږ ونیسی.

د خدای کلام دا په ډاګه کوي چه د مور او پلار څخه نافرماني به د آخرې زمانې یعنې د مسیح د بیا راتګ څخه مخکې یوه ښکاره او ناوړه ګناهونو څخه وي. نن ورځ کولای شو چه ددې ګناه وده او پراخوالی د سر په سترګو وګورو .نو ضروري ده چه ددې ناوړه عمل په مقابل کښې د خپلې کورنۍ څخه دفاع وکړو.

د تیموتیوس په نوم دوهم لیک (۳ : ۱ _۲ ) وايي: (( خو بیا دا یاد لره چه په آخري ورځو کښې به بد وختونه راځي. انسان به خودغرضه، دزرو دوست، لافې کونکی، مغروره، بدزبانه، د مور او پلار نافرمانه، نا شکره، بې دینه ..... )) .

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ**

۱) د لسو حکمونو څخه کوم یو د وعدې سره په بدرګه کیدلو را لیږل شوي دي ؟

۲) اِفسیانو په نوم لیک ( ٦ : ۱_۳ ) په یاد زده کړی.

۳) د زړې لوظنامې په دور کښې چه کله به اولادونو په پرله پسې ډول د مور او پلار نافرماني کوله نو د هغوی لپاره کومه سزا په پام کښې نیول شوې وه ؟

٤ ) یو فرمانبرداره هلک به خپلې ټولنې لپاره څه ډول شخصیت ولري ؟

## دخپلو اولادونو سره د مینې او هغوی ته د پاملرنې په خاطر

خدای تاسو ته ستاسو د مور او پلار دساتنې او څارنې لاندې ځای درکړی دی. ستاسو مور ستاسو د زیږیدنې لپاره ډیر تکلیفونه تیر کړي دي حتی چه د درد له زوره د مرګ سره هم مخامخ شوې ده. ډیرو میندو او پلرونو دخپلو غوښتنو څخه تیر شوي دي تر څو دخپلو اولادونو هیلې او اړتیاوې پوره کړي .

تاسو د خپل مور او پلاره څخه د څه شي پوروړي یاست ؟ او په تاسو دهغوی کوم قسم قرض دی ؟ تاسو ته دژوند سوغات د هغوی په وسیله ورکړ شوی ده. ددې مینې بدله به څرنګه پوره کوی ؟ څه رنګه به د هغو زحمتونو او کړاوونو بدله پوره کوی چه تاسو ته یې د خوراک، پوښاک او تعلیم ورکولو په لاره کښې ګاللي دي ؟ تاسو واقعاً د هغوی احسانمند یاست چه د هغوی په احترام کولو او فرمانبرداری سره هغوی ته په درونه نظر وګوری او د دې احسانونو په خاطر دهغوی درناوی وکړی.

خدای ستاسو د مور او پلاره څخه دا تمه لري دخپل وس په مطابق ښه لاره دروښيي، او په بهترينه طريقه روزنه درکړي. له همدې کبله که چيرې له هغوی سره مرسته وکړی نو په حقيقت کښې مو دخدای د هغې نقشې سره مدد کړی دی چه د ستاسو او ستاسو دمور او پلار لپاره کښل شوې ده.

د پيدايښت کتاب (۱۸ : ۱۷ـ ۱۹) وايي: (( لاکن خدای وويل :

"....... ما هغه غوره کړی دی تر څو خپلو اولادونو او د کورنۍ غړو ته تعليم ورکړي چه زما اطاعت وکړي، او هغه څه چه ريښتنې دي هغه پرځای کړي. " ))

ستاسو په مور او پلار باندې ډيرې هغه ترخې تجربې تيرې شوي دي چه اوس تاسو ورسره مخ کيږی. نو له دي کبله هغوی ستاسو له ستونزو څخه د هغه څه نه هم زيات واقف دي چه اټکل يي کيږي. هغوی غواړي چه تاسو سره مرسته وکړي. خپل بيلابيل کارونه او مسائل د هغوی سره مطرح کړی او دهغوی مخې ته يي وړاندې کړی او دهغوی د نظر غوښتونکي شی.

ډير ځوانان خپل پلار او مور ته په سپک نظر ګوري. کيدای شي چه د هغوی مور او پلار تعليمي سويه ښکته وي او يا داچه غريبان وي . امکان لري چه د هغوی جامې او يا دخبرو اترو طريقه د ورځې له موډ سره برابره نه وي. امکان لري چه د ورځني ستونزو په معلومولو او پيژندلو کښې ډير زاړه په نظر ښکاره شي. خو په هر حال هغوی لاهم د درناوي وړ دي. په ډيرو وختونو کښې د مور او پلار نصيحتونه د هغو مطالبو څخه هم ګټور دي کوم چه تاسو يي د لوړو زده کړو او علمي مؤسسو په کتابونو کښې لولی .

د متلونو كتاب (۱۵ : ۵ ) وايي: (( ناپوهه كس د خپل پلار نصيحت ته ارزښت نه وركوي، خو هوښيار هلك بيا د خپل پلار تاديب قبلوي. ))

## ستاسو كار

### هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره كړئ

**۵**) د هغو ښو كارونو څخه يو فهرست جوړ كړې كوم چه ستاسو مور او پلار  ستاسو لپاره سرته رسولې دي او بيا ددې كارونو د سرته رسولو په خاطر د هغوی څخه مننه وكړې.

### د مور او پلار سره د مينې په خاطر

ځينې اولادونه دخپل مور او پلار د سزا له ويرې څخه د هغوی فرمانبرداري كوي . خو د اطاعت كولو يو ډير ښه دليل بايد هغوی سره مينه او محبت درلودل وي.

كه چيرې خپل مور او پلار سره مينه لرې نو د ې ته په ليواله يئ چه هغوی خوشحاله او راضي وساتې. او په دې به هم پوه شې چه د هغوی نصيحتونه ستاسو د ګټې لپاره دي نه ددې لپاره چه تاسو په ستونزو كښې ښكيل كړي. په ياد ولرې چه ستاسو مور او پلار ستاسو څخه ډيره تجربه لري. او زياتره وختونه ستاسو په ګټې او ښه والي باندې ستاسو  څخه ډير ښه پوهيږي .

كه چيرې ددې مسيحي قاعدې سره سم ژوندون ستونزمن بريښي، نو دعيسی مسيح په هكله فكر وكړې او د هغې د ژوند په لاربښونو نظر واچوی. په داسې حال كښې چه هغه د خدای ځوی ؤ،

خو بیایي هم د خپل جسماني مور او پلار فرمانبرداري کوله . که چیرې هغه ته درخواست وکړی، نو د مور او پلار سره په مینه کولو کښې او د هغوی په فرمانبرداری کښې به تاسو سره مرسته وکړي.

د لوقا د انجیل په (۲ : ۵۱ ) کښې راغلې دي: (( بیا عیسی مسیح د هغوی سره ناصرې ته لاړو، او د هغوی د حکم لاندې یي وخت تیرولو.))

یو مسیحی لیکوال د (( د کورنۍ خوشحاله ساتل )) تر عنوان لاندي په خپل کتاب کښې لیکي: (( مونږ باید په دوه دلیلونو د خدای سره مینه ولرو. لومړی په عالم هستي کښې د هغه د مقام په خاطر، دوهم د هغه د مینې او محبت څخه ډک شخصیت په خاطر.... ))

(( په دوه دلیلونو باید دخپلو مشرانو احترام وکړو، لومړی باید د هغوی د مقام او منصب په خاطر، او دوهم د هغوی د شخصیت په خاطر که چیرې د ښه شخصیت خاوندان وي....))

(( او په دوه دلیلو باید دخپل مور او پلار احترام وکړو، لومړی د هغه مقام په خاطر چه هغوی ته سپارل شوی دی، څو زمونږ طبعي ساتونکې، څارونکې او د اړتیاوو پوره کوونکی واوسي دوهم د هغې مینې او ښې ګڼې په خاطر چه په هغوی کښې وجود لري او زمونږ سره یي کړي دي.. .))

(( محبت ټولو هغه مسئولتونو کښې شامل دی چه د هغې په خاطر مونږ د خپل مور او پلار پوروړي یو. مونږ نشو کولای چه د مور او پلار سره د مینې لرو نه بغیر د هغوی درناوی پر ځای کړو او یا د هغوی د درناوي څخه پرته د هغوی سره مینه ولرو. ..))

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

٦) داولادونو د مسئولتونو فهرست چه ددې لوست په لومړیو کښې بیان شو ، یوځل بیا مطالعه کړی، وروسته بیا درې دلایل ذکرکړی چه ولی باید اولادونه د خپل مور او پلار درناوی وکړي.

٧) عیسی مسیح زمونږ لپاره څه ډول نمونه منځ ته راوړې ده ؟

٨ ) خالي ځایونه په مناسبو کلیمو سره ډک کړی.

(( مونږ نشو کولای چه د خپل مور او پلار سره د............. .. نه بغیر د هغوی .......... وکړو . او همدا رنګه هم نشو کولای چه هغوی ته د ................ څخه بغیر ، هغوی سره ............ وکړو. ))

## دمور او پلار سره مرسته

### په کور کښې مرسته

اولادونه دا مسئولیت لري چه د کور په کارونو کښې ګټور او مرستندوی ثابت شي .په داسې حال کښې چه مور او پلار د هغوی د ضروریاتو د پوره کولو مسئولین دي، اولادونه هم کولی شي چه باید دکور په کارونو کښې فعاله ونډه ولري. دا عمل د هغوی د کار زده کولو یوه برخه ده. هغه ماشوم چه په کور کښې بغیر د کوم کوچني مسئولیت د لرلو څخه لوی شي نو د هغه نه به یو بېکاره او لټ انسان جوړ شي او په راتلونکې کښې به هم د مسئولیت د منلو څخه اوښتې کړي.

کله چه ځوانان د کاروبار او ګټې خاوندان شي نو ورته لاژمه ده چه تر هغه وخته پورې چه له خپل مور او پلار سره اوسیږي، د کور په مصارفو کښې دې فعاله ونډه واخلي.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۹) ولې باید اولادونه د کور په چارو کښې ونډه واخلي ؟

## د زړو میندو او پلرونو څخه پاملرنه

کله چه ستاسو میندې او پلرونه ډیر زاړه او بوډاګان شي نو کولای شی چه د هغوی د پالنې او ساتنې په وسیله هغوی ته خپله مینه ، او دهغه کارونو په خاطر چه ستاسو د ښیګړی لپاره یې سر ته رسولي دي هغوی ته خپله قدرداني څرګنده کړی. کوښښ وکړی چه په ډیری لوړې او بهترې طریقې د هغوی پالنه او ساتنه وکړی.

عیسی مسیح په یاد راولی چه حتی د سولئ پر سر د ځړیدو پروخت هم د خپلې مور په فکر کښې ؤ او هغه یې د خپلو مریدانو څخه یوه ته وسپارله.

د سلیمان د مثالونو کتاب (۲۳: ۲۲) وائي: (( د خپل پلار نصیحت ته غوږ شه چه ته یې پیدا کړی یې او ستا د زیږیدنې سبب شوی دی، او کله چه د مور سپین سرې شوه سپکه یې مه ګڼه. ))

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۰) اولادونه څنګه کولای شي چه خپل محبت او قدردانی خپل مور او پلار ته ځرګند کړي ؟

## دخدای سره مینه، دهغه احترام او فرمانبرداری

### د ژغورونکې په صفت دعیسی منل

ماشومان باید په هماغه ماشومتوب کښې د خدای سره مینه درلودل او دهغه احترام او فرمانبرداري زده کړي. هغوی باید دا انتظار و نه کړي څو په لویوالی کښې توبه وباسي او مسیح د خپل ژغورونکي په صفت ومني.

د جامعې په کتاب ( ۱۲: ۱) کښې لیکل شوي دي: (( په ځوانی کښې د خپل خالق سره مینه وکړه او هغه په یاد لره، مخکې تر دې چه د ژوند سختې شیبې ورسي، هغه ورځې چه نور ونشې کړای د هغو څخه خوند واخلې. ))

د مرقس انجیل ( ۱۰ : ۱٤) وایي: (( دا ماشومان ماته راپرېږدی چه راشي، دوی مه منعه کوی ځکه چه د خدای پادشاهي ددغسې خلکو دی. ))

کله چه یو ماشوم داسې یوې مرحلې ته ورسیږي چه خپله ګناه وپېژني نو هغه خلاصون ته اړتیا لري. په لویو اولادونو کښې هم کله چه هغوی له خپلو ګناهونو څخه توبه کوي، هغوی ته دې د

بابتسمې د ورکولو بندو بست وشي. دا به ښه وي چه ماشومان په هماغه کوچنیوالی کي مسیح وپیژني او هغه قبول کړي. ځکه کله چه هغوی لوی شي نو بیا به ورته د تیرو لارو څخه اوښتونون او د عیسی مسیح منل ډیر ستونزمن وبریښي.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۱) د عیسی مسیح د منلو لپاره بهترینه موقعه کوم یوه ده ؟

## د خدای عبادت

عبادت خدای ته د خپلې مینې د ورکولو په معنی ده. دا کار کیدای شي چه د هغې سره د خبرو په وسیله د دعا او شکرګزارۍ په بڼه، او دخپل د محبت د ښرګندولو په شکل سر ته ورسول شي. همدا راز د روحاني سندرو په ویلو سره هم د خدای عبادت کیدلی شي. کلیسا ته تلل او هلته د خدای د کلام اوریدل، او د هغه اواز ته غوږ نیول هم د عبادت یوه برخه ده.

خدای ته ډالی ورکول یعنې د هغه په لاره کښې پیسې مصرفول هم په عبادت کښې شاملیدلی شي. ځکه چه دهغې سره د مینې په وجه ده چه تاسو دې ته لیواله کیږئ د هغه په کار کښې ونډه واخلئ. لکه څنګه چه تاسو ته د نورو په ډالیو او قربانیو د خدای کلام در رسیدلی دی، نو ستاسو د ډالیو په وسیله هم نورو ته د خدای دکلام د رسیدلو زمینه برابریدلی شي.

دخدای کلام څرګندوي چه خدای غواړي اولادونه دی هم دهغه په عبادت کی برخه ولري. هغوی باید هم په کورني عبادت او دعا کښې ګډون وکړي او هم د خپل مور او پلار سره یو ځای د کلیسا غونډو ته حاضر شي.

د تاریخونو دوهم کتاب ( ۲۰: ۱۳ ) وایي: « د یهودا ټول سړي د خپلو ښځو او اولادونو سره د خدای په حضور کښې ولاړ وو.»

د مقدس کتاب ډیرو نامتو او مهم شخصیتونه، د خدای د خدمت او عبادت طریقه په ماشومتوب کښې زده کړې وه. موسی ، دانیال، سمؤئیل او تیموتیوس د هغوی ځلاندې بیلګې دي.

کوچنیان به د خپل مور او پلار سره یو ځای د عیسی مسیح لیدلو ته تلل، او په هیکل ( د خدای عبادتخانه چه سلیمان جوړه کړې وه )کښې به هم ماشومان په لوړ اواز د عیسی مسیح ستاینه کوله. عیسی مسیح د هغو دینی لار ښوونکو په ځواب کښې داسې وفرمایل څوک چه ددې کار په سبب خپه شوي وواو دهغه مخالفت یي کاوه.

د متی په انجیل ( ۲۱ : ۱٦)کښې مسیح وایي: « ایا تاسو صحیفې ندي لوستي چه وایي،" د وړو او تي رودونکو د خولې نه ثنا کامله کړه ؟ "»

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۲) د مقدس کتاب د څلورو هغو مهمو شخصیتونو نومونه ولیکۍ چا چه په کوچنیوالي کښې د خدای سره د مینې طرز او دهغه د عبادت او خدمت طریقه زده کړې وه ؟

۱۳ ) ایا د خدای په عبادت کښې مو د روحاني سندرو وئیل خوښیږي ؟

۱٤) د عبادت کولو د کومې برخې څخه ډیر زیات خوند اخلۍ ؟

۱۵ ) د ټولو هغو اولادونو لپاره دعا وکړۍ چه پوهیږۍ هغوی د خدای د عبادت د طریقې یادولو ته اړتیا لري.

## خدای اولویت او لومړیتوب په ټولو مسایلو کښې

هغه اولادونه چه خدای ته په ټولو مسایلو کښې اولویت یا د لومړیتوب حق ورکوي، همیشه به د خدای د برکتونو څخه په خپل ژوند کښې خوند اخلي.

د متی انجیل ( ٦ : ۳۳) وائي: (( تاسو د هرڅه نه اول د خدای د پادشاهۍ او د هغې د ریښتینوالۍ لټون کوۍ، نور هر څه به تاسو ته په خپله حاصل شي. ))

کله کله هغه ځوانان چه کورنۍ یې مسیحیان نه دي له ډیرو ستونزو سره مخامخ کیږي. خدای فرمایي چه باید د مور او پلار عزت او فرمانبرداري وکړۍ.که چیرې د یو کس مور او پلار په خاصه توګه دخپلو اولادونو څخه د غلطو کارونو د سرته رسولو تمه لري، نو په هغې صورت کښې څه کول په کار دي ؟ که چیرې مور او پلار د هغوی څخه وغواړي چه غلا وکړي نو څه به وشي ؟ یا د

هغوی څخه وغواړي چه د بتانو عبادت وکړي ؟ او یا په غیر اخلاقي مراسمو کښې د هغوی څخه د ګډون طمعه وکړي ؟ او همدا شان که د یو بې ایمانه کس سره د هغوی د واده بندوبست وکړي ؟

که چیرې مور اوپلار خپل اولادونه په مسیح باندې د ایمان لرلو نه منعه کړي نو هغوی ته څه کول په کار دي ؟ آیا په داسې حالاتو کښې اولادونه د دعا کولو او د خدای د کلام دلوستلو څخه ډډه وکړي ؟ او یا په داسې حالاتو کښې دمور او پلار فرمانبرداری لاژمي وي ؟

یو ځل پولس رسول دې ته اړ شو چه د خدای د فرمانبرداری او د مذهبی رهبرانو د تابعداری تر منځ، یو غوره کړي. د داسې مخالفتونو سره د مخ کیدو په حالت کښې باید د پولس رسول د هغې وینا پیروي وشي چه وايي: « مونږ به د بنی آدمو نه بلکه د خدای حکم منو. » اعمال د رسولانو (**۵ : ۲۹** )

خدای زمونږ دمور او پلار او د ټولو افرادو څخه مونږ ته اولویت لري. هغه زمونږ د لارښوونې مسئولیت زمونږ مور او پلار ته سپارلی دی. تر هغه ځایه چه د هغوی خبرې د خدای د کلام مخالف نه وي، باید فرمانبرداری یي وکړو. خو که چیری هغوی مونږ په غلطو کارونو او په ګناه مجبوروي نو هغه وخت باید خدای ته د لومړیتوب یا اولویت حق ورکړای شي، او د مور او پلار په پرتله د خدای فرمانبرداری غوره وګڼو.

ډیر ځوانان په عیسی مسیح باندې د ایمان راوړلو په سبب د کوره څخه شړل شوي دي. ځینې خو حتی د خپل مور او پلار له لاسه

وژل شوي هم دي .خو خدای هغوی په خپل همیشني کور کښې منلې دي .

که چیرې ستاسو میندې او پلرونه ستاسو د ایمان سره مخالف وي، بایدد هغوی سره په محبت او درناوی سره چلند وکړی او د هغې لپاره همیشه دعا وکړی. کیدای شي ستاسو دا کړه وړه د هغوی د خلاصون سبب وګرځي. په هره بیعه چه کیږي خدای د هر شي نه اوچت وګڼی او هغه به ورځ په ورځ له تاسو سره مرسته وکړي.

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱٦ ) که چیرې ستاسو بې ایمانه مور او پلار ستاسو څخه وغواړي چه د خدای د کلام په خلاف عمل وکړی نو تاسو باید د چا تابعداری وکړی ؟

۱۷ ) د ټولو هغه مسیحي اولادونو لپاره دعا وکړی چه تاسو یې پیژنی چه بې ایمانه او غیر مسیحی مور او پلار لري . او دهغوی میندو او پلرونو لپاره هم دعا وکړی چه مسیحیان شي.

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړۍ

۱ـ دا حکم «د خپل مور او پلار احترام کوه»

۳ ـ ممکن په مرګ محکومیدل

٤ ـ یو ګټور او د قانون فرمانبرداره شخصیت

٦ـ ځکه چه د خدای حکم دی، د مور او پلار سره د مینې په خاطر، د اولادونو سره د مور او پلار د مینې او د هغوی د پالنې او روزنې په خاطر

۷ ـ هغه د خپل جسماني مور او پلار فرمانبرداري کوله

۸ ـدا کلیمې دا دي : ( مینه او محبت ـ درناوی ـ درناوی ـ مینه )

۹ـ ځکه دا د هغوی د تربیې او د کار د زده کړې یوه برخه ده

۱۰ ـد هغوي د پالنې ، څارنې او خیال ساتنې په وسیله

۱۱ ـ د کوچنیوالي دوره، ځکه چه کله لوی شي نو بیا د عیسی مسیح منل ورته ستونزمن بریښي

۱۲ ـ موسی، دانیال، سموئیل، تیموتیوس .

۱٦ ـ د خدای تابعداري به کوي

# یاداشت

# يوولسم لوست

# د کورنۍ حفاظت او ساتنه

## هغه څه چه تاسو به يې په دې لوست کښې ولولۍ

- شيطان غواړي چه ستاسو کورنۍ تالا کړي
- د مينې او محبت په وسيله د کورنۍ ساتنه
- د وفا دارۍ په وسيله د کورنۍ ساتنه

  د ښځې او ميړه تر منځ وفا داري

  د اولادونو او مور او پلار ترمنځ وفاداري

  ستاسو او خدای تر منځ وفا داري
- د ستونزو په وخت کښې په صبر او زغم سره د کورنۍ ساتنه

  په ورځنيو ستونزو کښې زغم او حوصله

  په ډيرو سختو مشکلاتو کښې زغم او حوصله

  په ديني ستونزو کښې زغم او حوصله
- د دعا په وسيله د کورنۍ ساتنه

## شیطان غواړي چه ستاسو کورنۍ تالا کړي

شیطان غواړي چه ټول هغه شیان چه خدای انسان ته ورکړي، خراب کړي. خدای د انسان لپاره کورنۍ ټاکلې ده نو شیطان غواړي چه هغه هم خرابه کړي او له منځه يې يوسي. نو په دې اساس په خپلې کورنيو چارو کښې د شیطان د لاس وهنې څخه تعجب مه کوۍ .

د کورنۍ بربادي او د هغې له منځه وړل دشيطان د کارونو څخه يو کار دی. مګر تاسو دا اړتيا نه لرۍ چه د هغه سره مرسته وکړۍ. په حقیقت کښې باید تاسې دا تیارۍ ولرۍ چه د هغو عواملو سره مقابله وکړۍ چه ستاسو د کورنۍ د تباهۍ او بربادۍ سبب ګرځي.

ستاسو کورونه دلرګيو ، خټو يا ښختو څخه جوړ شوي ديوالونه لري څو وشي کولای ستاسو د کورنۍ غړو ته د ګرمۍ، یخنۍ او نورو خطرونو څخه پناه ورکړي او د هغوی ساتنه وکړي. د شیطان سره د مقابلې لپاره هم څلورو ډولو مضبوطو ديوالنوته اړتيا لرۍ چه عبارت دي د مينې، وفاه، دعا او زغم څخه.

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱) څوک هڅه کوي چه ستاسو کورنۍ تالااو برباد کړي ؟

۲) د هغو څلورو ديوالونو نومونه وليکۍ چه ستاسو د ژوندون د کور په ساتنه کښې هغې ته اړتيا شته ؟

## د مينې او محبت په وسيله د کور ساتنه

محبت د شيطان د هر ډول ګوزار په مقابله کښې ستاسو د کورنۍ څخه ساتنه کوي. محبت ښځه او خاوند د يو بل سره وفادار ساتي. محبت د صبر، تفاهم او د ګډو هلو ځلو د پيدا کيدلو سبب ګرځي چه د يوې نيکمرغه کورنۍ لپاره اساسي اصول ګڼل کيږي.

مينه اومحبت مرسته کوي چه مور او پلار د خپلو اولادونو ښه څارنه وکړي او له بلې خواه اولادونه هم د مور او پلار تابعدار ګرځوي. مينه او محبت دا امکان منځ ته راوړي چه د کورنۍ وګړي په کراتو او مراتو د يو بل غلطې معاف کړي. له همدې کبله مينه او محبت ته وده ورکړۍ څو د شريرشيطان د مقابلې لپاره د مضبوطو ديوالونو جوړول تاسو ته اسانه شي.

### ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

۳) که چيرې مو واده کړی وي او اولادونه هم ولرۍ نو دعا وکړۍ چه هماغه لومړنۍ مينه او محبت مو چه د خپل د ژوند د ملګری سره درلوده تاسو ته بيرته را وګرځي.

٤) د کورنتيانو په نوم د لومړي ليک د يارلسم باب مطالعه کړۍ او د هغې هر آيت د خپل ځان سره مقايسه کړۍ او دعا وکړۍ چه همدا رنګه يو مينه او محبت، تاسو او ستاسو کورنۍ معموره کړي.

# د وفادارۍ په وسیله د کورنۍ ساتنه

## د ښځې او میړه ترمنځ وفاداري

خدای دا تمه لري چه ښځه او خاوند په خپلو هغو دندو کښې چه په تیرو درسونو کی مو ولوستل یوبل ته وفادار پاتې شي. دوۍ دواړه باید په خپلو سوچونو او خپلو کړو وړو کښې، یوبل ته صادق او ریښتینې وي. ځینې نارینه ګان د ستونزو سره د مخ کیدو پر محال د تسلۍ او فکري تمرکز د میندلو لپاره نورو ښځو ته مخه کوي او په دې توګه د واده لوظ او وعده ماتوي او د خپل دکور د بربادۍ سبب ګرځي. او کله همدا ښځه ده چه په ډیرې بې عقلۍ سره دنورو سړیانو په ستاینې او غوړو خبرو باندې غولیږي او خپل خاوند ته د خیانت لاره خپلوي.

زنا یوه ډیره ناوړه ګناه ده چه د ډیرو کورنیو د تباهۍ او بربادۍ سبب ګرځي. د زنا سره د مقابلې لپاره باید خپل خیالونه او فکرونه سپیڅلي او پاک وساتۍ. خپل ځان ته دا اجازه مه ورکوۍ چه د نورو په ښکلا او جذابیت باندې فکر وکړۍ. په خپلو سوچونو او فکرونو کښې هم خپلې ښځې یا خپل خاوند ته وفاداره پاتې شۍ ترڅو په خپل کردار کښې بې لارې نشۍ. په ګناه ککړ شوي اعمال د ګناه نه د ککړ شویو افکارو نتجه ده. له همدې وجې څخه عیسی مسیح وفرمایل: «خو زه تاسو ته دا وایم چه که چیرې یو سړۍ یوې ښځې ته په بده سترګه وګوري نو هغه په خپل زړه کښې د هغې سره زنا وکړه.» (متي ۵ : ۲۸)

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۵) د ښځې دندې او مسئولتونو باندې چه په اتم لوست کښې مو ولوستل، یو وار بیا نظر واچوی او د هغوی درې عمده مسئولتونه او دندې ولیکی.

٦) د خاوند په دندو او مسئولتونو باندې چه په اتم لوست کښې مو ولوستل، یو ځل بیا نظر واچوی او د خاوند درې دندې په مختصره توګه ولیکی .

۷) د کورنتیانو په نامه لومړی لیک ( ۷ : ۱ _ ۵) په غور سره ولولی.

۸ ) د خدای څخه وغواړی چه تاسو سره مرسته وکړي څو داسې یوه ښځه یا خاوند و اوسی چه د ژوند ملګری یا ملګرې مو تاسو سره په ژوند تیرولو خوښحاله وي او هیڅکله د بل کس په لټه کښې نشي.

۹ ) دعا وکړی چه خدای تاسو دواړه په افکارو او اعمالو کښې یو بل ته وفاداره پاتې کړي .

## د اولادونو او مور او پلار تر منځ وفاداري

که چیرې د خپلو اولادونو سره په وفادارۍ سره مینه وکړی او هغوی د خپلو وزرو لاندې ونیسی، نو یقیناً ستاسو کور به د تاو تریخوالې او شخړو څخه په امان شي. ددې کار څخه لاپروایي او غفلت مه کوی.

اولادونه هم باید دوفا د دیوال په ودانولو کښې برخه واخلي. د کورنۍ هر غړی باید په دې کار کښې له ډیر صبر، اعتبار او محبت څخه کار واخلي. د وی سره یو ځای ژوند کوي او د یو بل خواهشاتو او غوښتنو ته په درنه سترګه ګوري. او د یوبل په مرستې سره یوه خوشحاله او نیکمرغه کورنۍ جوړوي.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۰) دمور او پلارد هغو مسئولتونو څخه چه دخپلو اولادونو په وړاندې یې لري او په نهم لوست کښې مو مطالعه کړل ،په مختصر ډول د دریو نومونه واخلی.

۱۱ ) دعا وکړی چه خدای تاسو او ستاسو د ژوند له ملګری سره مرسته وکړي څو د ژوندون په هر اړخ کښې خپلو اولادونو ته وفاداره پاتې شی.

## ستاسواو د خدای ترمنځ وفاداري

په یاد ولری چه د ښځې والي او میړه توب لوظ مو د خدای په وړاندې کړی دی. د خپل کور د څرنګوالي په اړه د هغه پر وړاندې هم مسئولیت لری. که چیرې په خپله کورنۍ د خدای د برکتونو باران غواړی نو باید دهغه د کلام د نمونو پیروي وکړی.

په ډیرو کورنیو کښې دالیکنې په سترګو کیږي:

عیسی مسیح ددې کور سر او مشر دی

## د هر دستر خوان نه رابلل شوی میلمه
## د هرې خبرې اترې چُپه خوله اوريدونکی

عیسی مسیح ته په خپل کور کښې د کور د سر او مشرپه توګه ځای ورکړی. د هغه حضور په خپل ذهن کښې همیشه وساتی، هڅه وکړی چه په خپلو ټولو کارونو کښې هغه خوشحاله کړی. د هغه سره وفاداري به ستاسو کور له ډیرو خطرونو څخه خوندي وساتي. خدای به ستاسو کور ته برکت ورکړي او د هغه ساتنه به وکړي. دتثنيي کتاب (۲۸: ۲) وايي: ((او دغه ټول برکتونه به ستاسو په برخه کړي. ))

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ**

۱۲) دغه څو جملې په یاد زده کړی

عیسی مسیح ددې کور سر او مشر دی
نه رابلل شوی میلمه دهر دستر خوان پر سر
د هرې خبرې اترې چُپه خوله اوريدونکی

۱۳) په راتلونکې څو ورځو کښې دا جملې په لوړ آواز سره په پرله پسې توګه تکرار کړی ، هڅه وکړی چه هغې ته په پاملرنې سره ژوند وکړی.

۱٤ ) تثنیه ( ۲۸: ۱_ ۱٤) په غور سره ولولی.

# د ستونزو په وخت کښې په صبر او زغم سره د کورنۍ ساتنه

## په ورځنیو ستونزو کښې زغم او حوصله

هیڅ څوک پوره نه ده. له مونږ ټولو څخه غلطۍ او تیروتنې سر وهي. ډیر ځله په کورنۍ کښې یوبل ته په ارزښت نه ورکولو سره، دیوبل نه درناوۍ او قدردانۍ له هیره اوباسو. ډیرې نیوکې او ناندرې دمینې او محبت د له منځه وړلو سبب ګرځي. ډیرو عیب لټوونکو ښځو خپل خاوندان د نورو ښځو لورې ته هڅولي دي. همدا رنګه ډیر خاوندان چه همیشه په خپلو ښځو او اولادونو نیوکې کوي، دخپلې کورنۍ د تباهۍ او بربادۍ سبب شوي دي.

د یوې نیکمرغې کورنۍ د لرلو په خاطر باید د خپلو غلطیو څخه معافي وغواړو. او دنورو خلکو د غلطیو پخښلو ته هم چمتو واوسو.ددې خبرې ویل چه ګڼې «معافی غواړم، زه قصوروار ووم ،ما وبخښه» زده کړې. ډیر صبرناکه او مهربانه و اوسې. د خفګان احساس ته په خپل وجود کښې وده ورنکړې او ځان ته زړه سوۍ هم یوې خوا ته پریږدۍ. هیڅکله خپله غصه او کینه دیوې ورځې څخه بلې ورځې ته مه پریږدۍ. د نورو ناوړه او فضولې خبرې او کارونه وبخښې او هغه هیر کړې.

د اِفسیانو په نوم لیک ( ٤ : ٢٦ ) وایي: (( که چیرې غصه شوۍ نو په غَصه کښې ګناه مه کوۍ او خپله غصه د لمر د پریوتو نه اخوا مه اوږدوۍ او ابلیس ته موقعه مه ورکوۍ. ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**١٥**) د یو کس د خپه کولو په وخت کښې ، د کومې جملې وئیل باید په یاد ولرو ؟

**١٦** ) د اِفسیانو په نوم لیک ( ٤ : ٢٦ ) ایت په یاد زده کړۍ.

## په ډیرو سختو بحرانونو او مشکلاتو کښې زغم او حوصله

د هغو سړیو په هکله چه د خپلو ښځو سپکاوۍ کوي ، هغوۍ وهي اوپه مرګ یي ټکوي، څه باید وشي ؟ که چیرې د واده یو اړخ بل ته خیانت وکړي نو څه ډول چلند باید ورسره وشي ؟ د سپکاوي او بدرتو په مقابل کښې زغم او معافي ډیر ستونزمن کار دۍ. زنا هم یوه وحشتناکه ګناه ده. خو بیا هم طلاق ددې ټولو د حل لاره نه ده. یوائې او یوائې صبر حوصله او معافي کولاۍ شي چه کورنۍ د تباهۍ او بربادۍ څخه وژغوري .

د کورنتیانو په نوم لومړۍ لیک ( ٧ : ١٠_ ١١ ) وایي: (( خو چه د چا واده شوۍ وي هغوۍ ته زه نه بلکه مالک حکم ورکوي چه ښځه دې خپل خاوند پرې نهږدي. او که یي پریږدي نو یا خو دې بل واده

ونه کړي او یا دې خپل خاوند سره بیا یو ځای شي، او خاوند دې هم خپله ښځه طلاقه نه کړي. »

چا چه د خپلې کورنۍ په حق کښې ګناه کړې وي باید د توبې په ترڅ کښې د خدای او د خپل ژوند دملګرې څخه معافي وغواړي. خدای ریښتنې توبه ګاران بخښي . څوک چه د هغه په حق کښې ګناه شوې وي، هغه هم باید معافۍ ته حاضر شي او د زغم څخه دې کار واخلي او په زړه کښې دې کینه ونه ساتي، که نه نو هغه واټن چه ددوی په منځ کښې راپیدا شوی دی له منځه تللی نشي.

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۱۷ ) د کورنتیانو په نوم لومړۍ لیک ( ۷ : ۱۰ـ ۱۱) د هغې ښځې لپاره چه خپل خاوند یې پریښی وي د دوو حل لارو وړاندیز کوي، هغه کوم دي ؟

## په دیني ستونزو کښې زغم او حوصله

د هغه سړي دنده څه ده چه ښځه یې دهغه په ایمان پورې ملنډې وهي او یا دهغه د کلیسا پر ضد خبرې کوي ؟ دهغه سړي په هکله چه بې ایمانه وي او خپله ښځه د هغې د ایمان په خاطر وهي او ټکوي، باید څه وشي ؟

مخکې مو په دې خبرې ټینګار وکړ چه یو ایمانداره کس ته نه ښایي چه د یو بې ایمانه کس سره واده وکړي. که چیرې دیني اختلافات او د خدای د اولویت مسئله یوې خوا ته پریږدو، نو بیا

هم په هر واده کښې تطابق او دنظر یو والي ته اړتیا لیدله کیږي. خو دهغه کس د ستونزې د هوارۍ لاره به څه وي چه د واده نه وروسته په مسیح باندې ایمان راوړي ؟ که د هغه د ژوند ملګرې یا ملګرۍ د مسیح منلو ته نه حاضریږي نوهغه څه وکړي ؟آیا هغه دې د خپل اوسني د ژوند ملګري څخه بیل شي او د بل چا سره دې د واده بندو بست وکړي ؟

د خدای کلام دغه پوښتنو ته ځواب ورکوي. دلته هم باید ایماندار کس دمینې، وفادارۍ او زغم نه په کار اخیستلو سره د خپلې کورنۍ ساتنه وکړي.

د کورنتیانو په نوم لومړۍ لیک ( ۷ : ۱۳ او ۱٦) وایي: ((د کومې ښځې چه خاوند ایماندار نه وي او هغې سره په استوګنه راضي شي نو هغه دې خاوند طلاق نکړي. ولې چه ای ښځې ! ته څه خبره یي ، کیدای شي چه خپل خاوند بچ کړې. ))

د پطرس لومړۍ لیک (۳: ۱) وایي: (( ای ښځو ! همدغه شان تاسو هم د خپلو خپلو خاوندانو تابعدارې اوسئ، ځکه چه که په هغوی کښې ځینې د خدای کلام نه مني چه بیا هم ستاسو پاک چال چلن ته وګوري او خدای ته را واوړي. ))

د مرقس انجیل (۱۱: ۲۵) وایي: (( او هر کله چه تاسو دعا ته ودریږئ که ستاسو په زړه کښې چا خلاف خبرې وي نو هغه معاف کړئ، ددې د پاره چه ستاسو آسماني پلار ستاسو قصورونه هم معاف کړي. ))

**ستاسو کار**

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**۱۸**) که چیرې دا په سترګو کیږي چه د دینی اختلافاتو د شته والي په خاطر د یوه مسیحی کورنی له منځه ځي، نو ددې مسیحي دنده څه ده چه څه باید وکړي ؟

**۱۹**) د پطرس لومړی لیک (**۳**: **۱**) او د مرقوس انجیل ( **۱۱** : **۲۵**) په یاد زده کړی.

## د دعا په وسیله د کورنی ساتنه

دمینې، وفادارۍ او زغم او حوصلې په وسیله د کورنی ساتنه ډیر عالي او اوچت کار دی، خو ستونزه دا ده چه مونږ په یوائې سره نشو کولای چه دا کار تر سره کړو. ځمونږ مینه او محبت ډیره کمزورې ده. مونږ دومره غښتلي نه یو چه وشو کړای په ټولو ځایونو کښې خپلو اعمالو او افکارو ته وفاداره پاتې شو. دوامداره زړه خوږینه او مایوسي په مقابل کې چه د پوره بخښنې او معافی په لار کښې خنډ واقع کیږي څه باید وشي ؟ څرنګه کولای شی چه د خپل واده او کور ساتنه وکړی ؟

د خدای شکر ادا کړی چه هغه دې ته چمتو دی چه تاسو سره مرسته وکړي. خدای د خپلو زامنو د سوکالی او نیکمرغی لپاره د واده مقدس پیوند منځ ته راوړی دی او دې ته حاضر دی چه د شیطان د ټولو یرغلونو په مقابل کښې د هغه ساتنه وکړي. نو په همدې اساس ددعا په وسیله د هغه حضور ته لاړ شی او خپلې ټولې ستونزې له هغه سره هوارې کړی.

هره ورځ دعا وکړئ چه خدای ستاسو کورنۍ ته برکت ورکړي، او ستاسو د کورنۍ غړي د خپل الهي محبت په وسیله متحد او سره یو کړي. د هغه څخه وغواړئ چه ستاسو د کورنۍ غړو ته دا صلاحیت ورکړي چه یو بل سره زیات نه زیات محبت وکړئ. مالک د ریښتینې محبت چینه ده. د کورنۍ د هر غړي لپاره دعا وکړئ چه په خپلو کښې یو تر بله او هم د خپل مالک سره وفادار و اوسي . دعا وکړئ چه تاسو هم همدغسې یو مثالی ښځه او یا خاوند و اوسئ چه د مالک د خوشحالۍ سبب ګرځي .

د خپلو اولادونو او د خپل د ژوند د شریکوال په خاطر د خدای شکر ادا کړئ او د هغوی د نیکو او ښو خصلتونو په خاطر هم د خدای څخه شکر وکړئ. د ټولو هغه برکتونو په خاطر چه خدای ستاسو کورنۍ ته درپه برخه کړي دي د مالک څخه مننه وکړئ.او د هغه د عظمت او لویۍ بیان او ستاینه وکړئ.

خدای دعاوې قبلوي. هغه مینه، وفاداري او د بخښنې طاقت تاسو ته درکړی دی نو ځکه ستاسو دعا هم قبلوي. او همدا ډول هغه به په ډیر فوق العاده توګه ستاسو د کورنۍ په نورو غړو کښې هم کار وکړي. د خدای قدرت او برکت د ټولو موقعتونو لپاره کافي دی.

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ**

**۲۰**) د کورنۍ د ټولو غړو لپاره دعا وکړۍ، او هغوۍ د هر یو نیک خوۍ او شه عمل په خاطر د خداۍ نه مننه وکړۍ، او د خداۍ څخه وغواړۍ چه ستاسو مینه د هغوۍ په نسبت نوره هم زیاته کړي.

**۲۱**) د خپلو ټولو هغو ملګرو لپاره دعا وکړۍ څوک چه په کورنیو لانجو کښې کښیل شوي دي.

## خپل ځوابونه ورسره مقایسه کړۍ

**۱**ـشیطان

**۲**ـ محبت، دعا، زغم، حوصله او معافي

**۵**ـ د خپل د ژوند دملګري سره مینه او د هغه احترام، د هغه تابعداري او هغه سره وفا کول، د کور یوه ښه او مثالي میرمن جوړیدل

**٦** ـ د کورنۍ سر او مشر جوړیدل، د خپلې ښځې سره مینه او محبت لرل، د کور ساتنه او داولادونو په روزنې کښې فعاله برخه اخیستنه

**۱۰**ـ خپل مسئولیت پیژندل، د خوارو، کالیو او د استوګنې لپاره د ځاۍ برابرول، د اولادونو تعلیم او له هغوۍ سره مینه، د خداى په لارې کښې د خپلو اولادونو لارښودنه.

**۱۵**ـ زه افسوس کوم، زه قصوروار ووم، ما معاف کړه .

**۱۷**ـ یوازې او مجرده پاتې کیدل، او یا بیرته د خپل خاوند سره یو ځاۍ کیدل.

**۱۸** ـ مینه، وفا، زغم، حوصله او معافي یا بخښنه .

دولسم لوست

# ستاسو ابدي کور

## هغه څه چه په دې لوست کښې به يې تاسو ولولۍ

- ستاسو ټاکنه
- يو عالي کور او استوګنځۍ

  د مسيح سره په يو کور کښې ګډ ژوند

  يو ابدي کور

  نوي بدنونه

  يوه اعلى کورنۍ
- د آسمان لار
- دعا

## ستاسو ټاکنه

د ښه کور درلودل په دې دنيا کښې ډير ښه او اوچت نعمت دۍ مګر هير نکړۍ چه دا ابدي يا هميشونۍ کور ندۍ. هر څوک چه په دې دنيا کښې او سيږي، بايد خپل دې ابدي کور ته دتللو تيارۍ وکړي او خپل ځان ته ابدي استوګنځۍ انتخاب کړي.

شیطان چه ستاسو د ځمکني کور د ورانولو هڅه کوي دا هم غواړي چه تاسو یوځای له ځانه سره دوزخ ته یوسي ترڅو تاسو هم په ابدي کړاو او عذاب کښې له ځانه سره شریک کړي.

متي ( ۲۵ : ٤١ )کې وئیل شوي دي: (( بیا به هغه ( مسیح ) هغو ته ووایي، څوک چه د هغه ګس لاس ته وي، ای لعنتیانو زما د سترګو پناه شی او هغه تل عمري اور ته لاړ شی چه شیطان او د هغه د فرښتو لپاره تیار شوی دی. ))

عیسی مسیح به ستاسو مځکنی کور ته برکت راولي، او غواړي چه تاسو د خپل ځان سره آسمان ته یوسي ترڅو دآسماني عالیشانه کور څخه خوند واخلی.

یوحنا ( ١٤ :۲ _۳ ) کښې راغلي دي: (( ( عیسی ووئیل ) زما د پلار په کور کښې د اوسیدو ډیر ځایونه دي ...... زه ځم چه ستاسو دپاره هلته ځای تیار کړم ..... په خپله به بیا راشم او تاسو به له ځانه سره بوزم. ))

لکه څنګه چه په دې دنیا کښې لازمه ده چه خپل د ژوند شریکوال باید انتخاب کړی، نو د راتلونکې دنیا کښې هم باید د مسیح او د شیطان څخه یو غوره کړی چه خپل ابدي ژوند له کوم یو سره تیرول غواړی .

## ستاسو کار

### هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

١) د متی د انجیل څخه ( ۲۵ :٤١) او د یوحنا د انجیل ( ١٤: ۲ _ ۳ ) په غور سره ولولی.

۲) شیطان څه غواړي چه د مرګ څخه وروسته تاسو باید چیرته لاړشی ؟

۳ ) عیسی مسیح څه غواړي چه د مرګ څخه وروسته تاسو باید چیرته لاړ شی ؟

٤ ) تاسو په خپله چیرته تلل غوره ګڼی ؟

٥) تاسو خپل ابدي ژوند چا سره غوره ګڼی چه تیر کړی، عیسی سره که شیطان سره ؟

## یو عالي کور او استوګنځی

### د مسیح سره په یو کور کښې ګډ ژوند

یوه مسیحي کورنی چه د مینې او محبت څخه مالامال وي، د آسماني کور یوه په زړه پورې نمونه ده. خو ډیر مضبوط او قوي مینه د ښځې او خاوند تر منځ، د هغې واقعي مینې یو کمزوره مثال دی چه د مسیح او د هغه د پیروانو تر منځ به وجود لري.

عیسی مسیح به په هغه کور کښې چه تاسو لپاره یې جور کړی دی ستاسو هرکلی کوي. دهغې دروازې د ملغرلو او کوڅې یې د سرو زرو څخه جوړې شوی دی. هلته شپه نشته ځکه د خدای ځلانده او د جلال څخه ډک حضور، هغه ځای ډک کړی دی.

د یوحنا د مکاشفې کتاب (۲۱ : ۳ او ٤ )وایي: (( ما له تخت نه یو اوچت اواز واوریده چه دا یي وئیل " ګوری! اوس خدای د بنی آدمو په منځ کښې استوګنه کوي، هغه به د هغوی سره اوسیږي او هغوی به د هغه امت وي او خدای به په خپله له هغوی سره وي.

هغه به د هغوی د سترګو ټولې اوښکې اوچې کړي. هلته به نه مرګ، نه ویره، نه ژړا او نه درد وي ځکه چه لومړی څیزونه تیر شوي دي ". ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۶) د مکاشفې د کتاب ۲۱ او ۲۲ بابونه په غور سره ولولی.

۷) د عیسی څخه د هغه عالي کور په خاطر چه تاسو چه تاسو له یي په پام کښې نیولی او چمتو کړی دی مننه وکړی.

## یو ابدي کور

په دې دنیا کښې ډیرو خلکو خپل کورونه د ناڅاپی پیښو لکه په اور سوځیدل، زلزلو، طوفانونو، او جنګونو له امله له لاسه ورکړي دي. په آسمان کښې لاژمه نه ده چه د خپل کور د لاسه ورکولو په اړه غم وکړو. ځکه له همدا اوسه څخه یي قیمت ادا شوی دی . عیسی مسیح خپل ژوند زمونږ په خاطر له لاسه ورکړ څو وشي کړای چه مونږ ته د شیطان د قدرت څخه آزادي راکړي او خپل ځان سره مو په خپل ابدي کور کښې حصه دار کړي. د یوې ناوې په صفت به عیسی مسیح هیڅکله مونږ د خپل ابدي کور څخه بهر ونه شړي. هیڅ ډول اور به دا قدرت ونلري چه دا کور له منځه یوسي . او هیڅ شی به ونشي کړای چه هغه ته کوم ضرر ورسوي. دا کور به کله هم آبادولو ته ضرورت پیدا نکړي. او هیڅ غل به د هغو د خزانو د لاس ته راوړلو یا لوټولو وس ونلري.

د پطرس لومړی لیک (۱ : ٤ ) وايي: ((چه یو نه فنا کیدونکی، بې داغه او لاړواله میراث حاصل کړو. چه هغه ستاسو لپاره په آسمان کښې ساتلی شوی دی. ))

متی (٦ : ۲۰ ) وايي: (( خپل ځان ته خزانې په آسمان کښې جمع کړی، چیرته چه نه بزي شته او نه زنګ چه دا خرابې کړي. او نه غله چه ورپسې کنډر وکړي او په غلا یې یوسي. ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

۸ ) زمونږ د آسماني کور تیاری د عیسی مسیح لپاره په کومه بیعه تمام شو ؟

## نوي بدنونه

په ډیرو پختورو او نیکمرغو کورنیو کښې هم د غم او تکلیف شیبې موجودې وي. هغه وختونه چه اولادونه د ناروغی او درد له امله ژاړي او هغه شیبې او وختونه چه د بیلتون او ماتم سبب ګرځي. خو زمونږ په آسماني کور کښې به داسی یو حالت هم موجود نه وي. زمونږ بدنونه به د هغې حیرانوونکې او د قدرت څخه ډک بدن ته ورته والی ولري کوم چه عیسی مسیح د بیا ژوندي کیدو څخه وروسته درلود.

د فلیپیانو په نوم لومړی لیک (۳: ۲۱) وايي: (( هغه د خپل د هغه قوت په وسیله په کوم چه هغه ټول څیزونه د خپل تابع کولی

شي، زمونږ د بدن فاني شکل بدل کړي. او د خپل د جلال د صورت په شان به يي جوړ کړي.))

د کورنتيانو په نوم ليک (۱۵ : ۴۲ _ ۴۳ ) کښې راغلي دي، ((د مړو راژوندي کيدل همدغسې دي، د فنا په حالت کښې ښخولې شي او د بقا په حالت کښې راژوندۍ کيږي. د بې عزتۍ په حالت کښې ښخولې شي او د جلال په حالت کښې راژوندۍ کيږي. په کمزورتيا کښې ښخولې شي او په طاقت کښې راژوندۍ شي. جسماني وجودښخولې شي او روحاني وجود راژوندۍ کيږي. هرکله چه نفساني وجود شته نوروحاني وجود هم شته . ))

نو هغه بدن چه خاورو ته سپارلې شي هغه فاني دی او هغه بدن چه د خاورو نه راپورته کيږي هغه فنا نه قبلوي. او هغه بدن چه خاورو ته ځي هغه خوار او ذليل دی، او هغه بدن چه د خاورو نه راپورته کيږي د عظمت او لويې څخه ډک دی .

د يوحنا لومړی ليک (۳ : ۲) وايي: ((خوږ و دوستانو! مونږ اوس هم د خدای بچي يو خو په دې نه پوهيږو چه څنګه به شو، خو مونږ په دې پوهيږو چه هرکله چه عيسی مسيح ښکاره شي نو مونږ به د هغه په شان شو ځکه چه مونږ به يي هم په هغه شان ووينو څنګه چه هغه دی. ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې بايد ترسره کړئ

۹) د فيلپيانو په نوم ليک ( ۳ : ۲۱) او د يوحنا لومړی ليک ( ۳ : ۲) په غور سره ولولې.

**یوه اعلی کورنۍ**

د عیسی مسیح لوری ته د دوستانو او د کورنۍ د غړو لاربښودنه د هر قسم زیار او کوښښ ارزښت لري.

د هغې دنیا ژوند ددې نړۍ له ژونده سره پوره توپیر لري. په هغې دنیا کښې به کورنۍ ژوند بله بڼه ځانله غوره کړي. مګر ټول هغه کسان چه جنت ته داخل شي د هغوی یو تر بله مینه او ټولنیز ګډ ژوند به دومره ژورې اړیکې پیدا کړي چه په دې دنیا کښې یې نه درلودې. او د خدای په کامله کورنۍ کښې به هر یو خپله ونډه لري.

سره ددې چه زمونږ بدنونه به نوي او حیرانوونکي بڼه ولري، خو بیا هم مونږ به د یو بل د پیژندلو وس ولرو . مونږ به خپل ځمکنۍ ژوند په یاد ولرو. ډیرو مسیحیانو لکه استیفان ( لومړنۍ مسیحی شهید ) د مرګ په وخت کښې د یوې لنډې شیبې لپاره آسمانی کور کتلۍ دی. ځینې هم د فرښتو ثناه او حمدونه اوریدلي دي او ځینې نورو د مرګ په وخت کښې لیدلی دي چه د هغوی د خپلوانو یوه ډله چه ددوی څخه مخکې مړه شوي وو، دوی ته د هرکلي لپاره ولاړ دي او د نوي کور مبارکی ورته وایي او ددوی ورتګ په خوښۍ سره بدرګه کوي .

د لوقا د انجیل په (١٦ : ٢٣ او ٢٥ ) کښې راغلی دي: (( ..... هغه چه پورته وکتل نو لرې ئي لعزر د ابراهیم سره ولیدلو. هغه چیغې کړې، ای ابراهیمه! زما پلاره! په ما رحم وکړه! دا لعزر راواستوه ......... خو ابراهیم ورته ووئیل چه واوره ځویه! په دنیا کښې ټول

نعمتونه ستا په نصیب وو او تولې بدبختۍ د لعزر په برخه وې . اوس هغه دلته په آرام دی او ته په عذاب کښې ئې . ))

د رسولانو د اعمالو کتاب ( **۷** : **۵۵** ) وایي: (( او ستِفانوس چه په روح القدس معموره وو او آسمان ته یې ځیر وکتل نو هغه د خدای جلال ولیدو او عیسی د خدای ښي لاس ته ولاړ وو. ))

د عبرانیانو په نوم لیک ( **۱۲**: **۲۲_ ۲٤** ) وائي: (( خو تاسو د صیهون غره ته او د ژوندي خدای ښارته، یعنې د آسمان بیت المقدس ته او لکونو فرښتو ته راغلي یئ. او تاسو د خدای د اول پیداشوو مجلس یعنې جماعت ( کلیسا ) ته راغلي یئ چه نومونه یې په آسمان کښې لیکل شوي دي. تاسو خدای ته راغلي یئ چه د ټولو منصف دی. تاسو د صادقانو روحونو ته راغلی یئ. یعنې هغه چه کامل شوی دی. او تاسو د نوې وعدې تړونکې عیسی مسیح ........ ته راغلی یئ. ))

## ستاسو کار

## هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ

**۱۰**) د عبرانیانو په نوم لیک ( **۱۲** : **۲۲_ ۲٤** ) یو ځل بیا په غور سره ولولی.

**۱۱**) آیا په آسمان کښې به مونږ یو بل پیژنو ؟

**۱۲**) دعا وکړی چه ستاسو د کورنۍ ټول غړي تاسو سره یوځای په آسمان کښې وګوري او تاسو یې وپیژنی.

# د آسمان لاره

په مقدس کتاب کښې د اسحق او ربکا داستان د یو مسیحی یو په زړه پورې تصویر دی، چه د خپل آسماني کور لورې ته روان وي، چه د پیدایښت په کتاب کښې یې بیان راغلی دی.

ابراهیم د خپلو مریانو څخه یو تن ولیږه چه د هغه د ځوی اسحاق لپاره یوه میرمنه (ښځه) پیدا کړي. نو کله چه ددې غرض لپاره ربکا انتخاب شوه، سمدلاسه یې دغه بلنه ومنله. ربکا خپل کور او هیواد پریښوده او خپل نوي کور ته د رسیدو لپاره یی ډیره اوږده لاره ووهله. د ټولې لارې په اوږدو کښې به د ابراهیم مریئ د ربکا اړتیاوې پوره کولې، او د خطرونو په مقابل کښې به یې د هغې حفاظت کولو، ترڅو وشي کړی چه ربکا روغه رمته د اسحق تر کوره ورسوي.

په همدا ډول خدای هم روح القدس دې دنیا ته راولیږه خو مونږ ته بلنه راکړي چه د خپل د ګناه نه ډک ژوند خوشې کړو او د عیسی مسیح سره د ژوندون لپاره آسمان ته لاړ شو. په هماغه شیبه کښې چه تاسو عیسی مسیح د خپل ژغورونکې په صفت ومنلو او د خدای څخه مو وغوښتل چه ګناهونه مو معاف کړي، نو تاسو د آسمان لاره خپله کړې ده. البته تاسو باید د خپل د ژوند د ټولو غلطیو پریښودلو ته لیواله شی. او هغه ته شا واړوی. تاسو باید د خدای ټول هغه حکمونه عملي او پرځای کړی چه د خپل مقدس کلام په وسیله یې مونږ ته راکړی دی. او داسې ترینه پیروي وکړی لکه څنګه چه ربکا د ابراهیم د مرئي څخه وکړه.

کله چه عیسی مسیح دخپل ژغورونکی په صفت ومنې نو تاسو به یو بهتره ژوندون پیل کړې. او کله چه روح القدس ته اجازه ورکوې چه ستاسو د ژوند واګي په خپل لاس کښې واخلي، نو ستاسو ژوند به نور هم بهتره شي. ستاسو واده به ښه پایله ولري. او ټولو نه بهتره دا چه کله ستاسو دنیوي ژوند پای ته ورسیږي نو په خپل ابدي ژوند کښې به هم د ډیر عالي کور څښتنان شې.

## دعا

اې مالکه خدایه! د هغې مینې په خاطر چه ته یې زما سره لرې، زه ستا شکریه ادا کوم. ستا ډیر شکرګذار یم چه زه دې د دې لپاره غوره کړم چه تل تر تله ستا او ستا د ځوی عیسی مسیح سره په آسمان کښې و اوسم. ستا څخه مننه کوم چه خپل ځوی عیسی مسیح دې را ولیږه چه زما پر ځای مړ شي.

اې عیسی مسیح مالکه! ستا څخه ډیره مننه کوم چه زما د ګناه پیتې دې پر خپلو اوږو پورته کړ او دهغې سزا دې پر خپل ځان ومنله. ستا څخه غواړم چه زما ټولې خطاګانې او ګناهونه وبخښې او هغه معاف کړې. زما څخه یو ځل بیا د خپل خوښې وړ شخصیت جوړ کړه. خپل ژوند تاته سپارم. ستا څخه ډیره مننه کوم چه روح القدس دې نازل کړې دی. چه هره ورځ زما مرسته وکړي او ماته لارښوونې راکړي او ما د خپل ځان سره آسمان ته پورته کړي.

اوس نو اې مالکه خدایه! زما دکورنۍ ټولو غړو سره مرسته وکړه چه ستا لپاره او ستا د خوښې سره سم ژوند وکړي. او تر هغې ورځې پورې زمونږ ساتنه وکړه تر څو مې خپل آسماني کور ته له ځانه سره بوځې. آمین

**ستاسو کار**

**هغه څه چه تاسو ئې باید ترسره کړئ**

**۱۳)** که چیرې ددې لوست د دعا سره موافقت لرۍ نو هغه په لوړ آواز د خدای په حضور کښې ولولۍ. وروسته بیا په خپلو الفاظو د هغه سره خبرې وکړۍ. او د هغې شخه د هغو مطالبو په اړه مننه وکړۍ کوم چه مو د دې لړۍ په ترڅ کښې زده کړل. هغه شخه دا غوښتنه وکړۍ چه د هغې په عملي کولو کښې له تاسو سره مرسته او ملګرتیا وکړي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړۍ

۲ــ دوزخ ته

۳ ــ آسمان ته

۷ــ د خپل ژوند د لاسه ورکولو په بیعه.

۱۰ ــ هو

# واده اوکورنۍ

آیا غواړۍ وپوهیږۍ چه:

- د ژوند د ملګری د انتخاب لپاره د مقدس کتاب اصول او قواعد کوم دي ؟
- د واده لپاره د مقدس کتاب معیارونه کوم دي ؟
- څرنګه کولاۍ شۍ چه یوه بختوره او نیکمرغه کورنۍ ولرۍ ؟
- څرنګه خپله کورنۍ د ځارنې لاندې نیولۍ شۍ ؟

که چیرې ستاسو ځواب هو وي نو دا کتاب ستاسو لپاره لیکل شوۍ دۍ. ددې کتاپ مطالب د یوې نیکمرغې کورنۍ د جوړښت او ساتنې لپاره د عملي لارښوونو څخه ډک دۍ.

دا کتاب په ډیرې ساده طریقې سره لیکل شوۍ دۍ چه پوهیدل یې د هر چا لپاره آسانه ده. فقط همدومره کافي ده چه لارښوونې یې زده کړۍ او هغه بیا د خپل ژوند په ډګر کښې پلی کړۍ او خپل ځان وآزمایۍ.

د «مسیحي ژوند» دوره په دریوو برخو ویشل شوې ده چه هره برخه یې بیا شپږ شپږ کتابونه لري. ښه به دا وي چه دا کتابونه په پرله پسې توگه مطالعه کړئ.

# واده

# او

# کورنۍ